# د کانې کرښې

## پښتو متلونه



ترتیب او تدوین .

نورمحمد «نور» زرمتي

## د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: د کانې کرښې پښتو متلونه
لیکوال: نور محمد «نور» زرمتی
کمپوز او چاپ: هوتک لیزر کمپیوټر ګل حاجي پلازا
دوم منزل ۲۱۳ اطاق فون ۴۵۴۶۱
دچاپ شمیر: (۱۰۰۰) ټوکه
د چاپ نیټه: د ثور ۲۵ / ۱۳۸۰ کال هـ ش

دچاپ حق د لیکوال سره محفوظ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# اهـــدا

زه دا اثر خپل پلار ته اهدا کوم چې په ما ئی دا لورینه کړی ده او تحصیل او زده کړی ته ئی په داسی یوی زمانی کی لیږلی یم چې نورو به خپل اولادونه د پیسو په زور له تحصیل او زده کړی څخه ا یستل .

نورمحمد نور « زرمتی »

مورخ ۹-۱۱-۱۳۷۹

مطابق ۲۹-۱-۲۰۰۱

د

مشرانو

خبري

د

کاڼي

کرښي

دي

# مننه

زه د هغو عزتمنو دوستانو - عزیزانو وطنوالو څخه زیاته

مننه کوم چې د دې کتاب د کاڼي کرښې د پښتو متلونو په را

ټولولو کې ئې په پوره اخلاص سره مرسته کړېده په تیره بیا د

محترم فضل محمد زرمتي چې عمرئې څه کم سلو کلو ته رسیږي

او د نا روغې او تکلیف سره سره ئې پیرزوینه وکړه چې نوموړی

کتاب د سوچه پښتو متلونو په ویلو سره لا ارزښتمند کړي،

ښاغلي گل کریم گردیزي، عزتمند ډاکتر راج ولي شاه ختک د

پشاور د پښتو اکیډمۍ رئیس ، محترم سرفراز خان مروت د

پښتو اکیډمۍ د کتابخانې مسوول (آمر) او د محترم هوتک

صاحب څخه چې د دې اثر په ښکلا کې برخه اخستې مننه کوم.

په درنښت

نور «زرمتی»

۲۰-۱۲-۱۳۷۹ پیشاور

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ښوخبري | ا-د |
| متلونه | هـ |
| سریزه | و-ن |
| الف | ۱-۲۲ |
| ب | ۲۳-۳٤ |
| پ | ۳۵-۶۷ |
| ت | ۶۸-۷۹ |
| ټ | ۸۰-۸۱ |
| ج | ۸۲-۸٤ |
| ځ | ۸۵-۸۷ |
| چ | ۸۸-۱۱۸ |
| څ | ۱۱۹-۱۲۶ |
| ح | ۱۲۷-۱۲۹ |
| خ | ۱۳۰-۱۵۱ |
| د | ۱۵۲-۲۱۲ |
| ډ | ۲۱۳-۱۱۶ |
| ر | ۲۱۷-۲۲۰ |
| ړ | ۲۲۱-۲۲۲ |
| ز | ۲۲۳-۲۳۲ |
| ژ | ۲۳۳-۲۳٤ |
| ږ | ۲۳۵ |
| س | ۲۳۶-۲۵۲ |
| ش | ۲۵۳-۲۵۶ |
| ښ | ۲۵۷-۲۶۲ |
| ص | ۲۶۳-۲۶٤ |
| ط | ۲۶۵ |
| ظ | ۲۶۶ |
| ع | ۲۶۷-۲۷۰ |
| غ | ۲۷۱-۲۷۷ |
| ف | ۲۷۸-۲۸۲ |
| ق | ۲۸۳-۲۸۵ |
| ک | ۲۸۶-۳۰٤ |
| ګ | ۳۰۵-۳۰۸ |
| ل | ۳۰۹-۳۳۰ |
| م | ۳۳۱-۳٤۹ |
| ن | ۳۵۰-۳۶۲ |
| و | ۳۶۳-۳۷۲ |
| ه | ۳۷۳-۳۸٤ |
| ی | ۳۸۵-۳۹۷ |

# ځو خبری

ژوند د ابلاغ بنیادی ذریعه ده . د یو قام په ژبه کی د ټولنی کړه وړه ، عادتونه، نفسیات، رواجونه ، رسمونه هن چې مذهبی رسومات هم ځای شوی وی او بیا پښتو ژبه خو په دی لحاظ یو خاص انفرادیت او امتیاز لری . په دی چی دا یواځی ژبه نه ده یو آئین او د ژوند ضابطه هم ده . پښتو ( آئین ) په پښتو ( ژبه ) کښی دی دایو نالیکلی آئین ده . د پښتانهٔ د ژوند ټول دستور په دی کښی دی . د دی روزمره محاوره – متل – مقوله د نورو ژبو په مقابله کی زیات ارزښت لری په دی چی دا د یو مخصوص د قام شناخت دی .

وئیلی شی چی د پښتانه رومان ټول په پښتو ټپه کی ځای شوی دی او د پښتانه پوهه او دانائی په متل کی محفوظه ده . د پښتو متل د دانش یو عجیبه رنګ لری . که هرڅوک متل هرځای او هر چیرته د ژوند د تجربو نه جوړه وی –خود پښتانه دژوند تجربه یو خاص اهلیت او ځانګړی توب لری .شاید ځکه چی ټول قام په یو شان جغرافیائی او

فطري جوړښت کې پروت وي. د پښتو متل ته د کاڼي کرښې هم وائي که ځوک د پښتنانه د ژوند رنګ لیدل غواړي د دوی د پوهې او تجربې اندازه کول غواړي نو باید د پښتو متلونو معنو ته ځیر شي.

دیو تو ته یوه کرښه دوه خبره په خپل اندرون کښې د دانش داسې جوهر لري. چه د پښتون ټول نفسیات او خوی په کښې کوټلي شوي وي. ژوند ته پښتون اپروچ د ده د جهان بینۍ نظر او د خپل ځان په لور د خیال په پښتو متل کښې دي.

د دنیا انتراپالوجستان خو ځکه چې د یو قام ټولنیز جوړښت ځیړي. معاشي او معشرتي حال ئې معلوموي.

نو اول له هر څه د ژبې او په ژبه کښې محفوظه اولسي افکارو ته ګوري. شاید دا ضرورت یا د څه نورو غرضونو په سبب هم دغه عالمانو د پښتو د متل په محفوظولو زور راوړی. او د پښتو د متلونو ساتل او محفوظول خو ډیر ضروري ځکه هم دي. چې د دې قام د خپل ثقافت او تهذیب د انعکاس خاص ذریعې نشته. د ځان پیژندل د ځان شناخت کول دي [illegible] د هر پښتون فرض جوړیږي په ځان مین او په قام مین د خپل اصلیت په ځای ساتلو د پاره تل سر ګرم وي.

ښاغلي نورمحمد نور (زرمتی) صیب هم دغسی په قام مین او پښتانه مئین پښتون دی. د خپل ثقافت او خپلی ژبی سره ئی مینه ده او په داسی حالاتو کی راګیر دی چی د بهرنی ثقافتی یلغارونوئی هم شناخت نقصانی کړی دی. او هم ئی ژبی ته ضرر رسولی دی. زرمتی صیب په پښتنه دا خپل اصلیت په ځای ساتلو د خپلی ژبی د ترقی او ودی د پاره یو ډیر اهم ولی ګران کارته لاس اچولی دی دغه اهم او ګران کار د پښتو متلونو را یو ځای کول دی. که هر څو وخت په وخت ځینی خلقو متلونه را یو ځای کړی دی شائیع کړی هم دی. او په نورو ژبو کی ترجمعی هم شوی دی ولی بیا هم له دغو مجموعونه ډیر متلونه پاتی وو - او یا پکښی د دی خبری خیال نه دی ساتل شوی چی په محاوره - مقوله او متل کی څه فرق. د دواړو د استعمال خبره به هله پخه شی - چی سوچه متلونه عام کړی شی. زما یقین دا دی ښاغلی زرمتی د دغه فرق خیال ساتلی وی او په کومه جذبه چی هغه دا دومره ډیر او له خلقو هیر متلونه را جمع کړی. د هغی جذبی قدر به پښتانه داسی وکړی چی یو خو به دا متلونه د خپلو خبرو او پوهی د پاره خپل کړی او بل د ژبی د سوچه والی په تحریک کښی د زرمتی صیب

همکاري هم وکړي. که داسې اوشي نو د ښاغلي نورمحمد زرمتي د کار مقصد به تر سره شي.

وخت دی چې پښتانه د خپل وجود احساس وکړي دغه احساس له هر څه وړاندې د خل مورنۍ ژبې په کار ده چې پښتو ژبه سوچه او ترقي یافته شي نو قام به هم د بهرنۍ غلاظتونو څینې پاک شي. او د مستقبل آیینه به د دې اولس هم روښانه شي هر هغه څوک چې د دې قام آینې له مخه ګردونه څنډي هغه ښاغلي پښتانه دي او ښاغلي نورمحمد زرمتي هم دغه رنګ مخلص سوچه او ښاغلي پښتون دی چې اولس ته ئې دا بیش بها خزانه محفوظه کړه.

د زرمتي صیب په شان د عالمانو نه دا توقع کیدی شي چې هم دغه رنګ به د ژبې په نورو اولسي افسانو هم کار وکړي چې کوم د غفلت یاد حالاتو د جبر په ذریعه را مخته شوي دي د هغې د صفائي عمل به عام کړي شي.

زه ښاغلي نورمحمد نور زرمتي ته په دې دومره اهم او ارزښتناک کار مبارکي وایم او د هغه د پښتونولۍ قدر کوم.

ډاکټر راج ولي شاه ختټک

د پیښور د پښتو اکیډمي ډایرکټر (رئیس)

غوره که.

ژبه هم همداسې په مختلفو الفاظو - کلماتو او لهجو باندې ولاړه وه او ده ویلای شو چې انسانانو په مختلفو ژبو سره خبرې کولې دلته دی چې د ژبې د پرمختګ سره متلونو هم ځانګړې ځای په تاریخ کې پیدا کړ. هغه وخت چې انسانانو او یا بیلو - بیلو ټولنو قومونو او قبائیلو ته دا زمینه برابره شوه چې په خپلو کې ئې سره اړیکې ومونډلې نو بیا ئې د ژبې د الفاظو - اصطلاحاتو او متلونو په تبادله یعنې راکړه ورکړه پیل وکړ او هغه ئې په خپلو ژبو باندې واړول تر څو یو ملت د بل ملت یا یو قوم دبل قوم په ژبنی - دود یز او ثقافتی اړخونو باندې پوه شي .وروسته بیا د ټولنو او اړوندو ملتونو تر منځ تجارتی اړیکې هم تأمین شوې . له دې کبله څخه ثرګنده شوه چې متلونه په هره ژبه کې ځانګړې ځای لرې. او د هرې ژبې متلونه په نورو ژبو باندې اوښتی دی. او دا ثرګنده شوې ده چې متلونه سره ډیر نږدې والی او ورته والی لرې په لږ تفاوت سره او یا په یو شانې مفهوم او یا کم تغیر او بدلون سره په نورو ژبو کې هم متلونه مونډلی شو. د دنیا

ټولو ژبو او ادبیاتو کې متلونه (مثال - ضرب المثل او داسې نور) ځانګړی ځای لري چې د ادبي جوړښت له پلوه یو ډول وي یعنې په یوه لنډه جمله یا څو لنډو کلمو کې یو غټ - ټولنیز - اخلاقي - فلسفي - تاریخي او سیاسي مفهوم ځای کړی شوی وي. یا په بل عبارت متل په واقعیت کې د هوښیارانو خبرو ته هم ویل کیږي او هر متل کیدای شي یو غوره وینا هم و بلل شي ........ او یا ووایو چې د معنی او مطلب له کې وړې خبرې چې د اوږدې تجربې نه را پیدا شوي وي د متلونو په نامه یادیږي.

د خارجي ملکو محققین هم متلونه هغه عام خوښ کړی شوي حقایق بولي چې په شکل او محتوی کې د خلکو ورځینو عامو خبرو برخه وي. متل هغه لنډې - لنډې زړه وړنکې او هر اړخیزه جملې دي چې د انساني ژوند تجربې او څارنې پکې په داسې عجیبه پیمانه او نا پیژندل شوي طریقه او خوندور طرز او میتود سره ویل شوي وي.

یو متل په ژبه کې د ساده ګۍ سره سره جذابیت - خوږوالي او د یوې مقبولې اغیزه کوونکې نغمې په څیر د اورید و نکو په

غورځونه ولګیږي او د زړه په تل کې ځای ومندلی شي.

په جامع الالغات کې لیکلي دي! ( هر هغه خبره چې د هر چا په ژبه ویلي شوي وي او په مثال کې راوړل کیږي متل ورته وائي. )

د مشرانو خبرې د کاڼي کرښې مثال لري یا ویلای شو چې متلونه د کاڼي کرښې دي چې د تل د پاره به د اولسونو - قومونو او قبائیلو په منځ کې پاتې وي.

د پښتو متل دی : « د مشرانو خبرې د کاڼي کرښې دي» پورتني متل یوه معقوله مقوله او جمله ده. زما په نظر د پورته متل تفسیر او تعریف خپله « متل » دی. یو شمیر متلونه شته چې تعریف او تفسیر ته ئې ضرورت شته خو د دې مجموعې له توان څخه د باندې ده د پښتو متلونو سره مشران - کشران - نر او ښځې خاصه پیژند ګلوي لري په خبرو کې د متلونو څخه ګټه اخیستل کیږي د خلکو په منځ کې داسې خبره شته چې وایي «تا یې چې سر یاد که زه تر پایه ورسیدم » او مید واري شته چې په یو شمیر مجهولو متلونو باندې به هم د متلونو مینه وال په څرګنده

توګه سره پوهیږي. ممکنه ده چې په اولسونو کې پخواني غوره متلونه وي چې ورباندئ ګردونه پراته وي او هغه لا تر اوسه د کاغذ په مخ نه دي کښلي شوي.

د یوې مکملې او جامع ژبې د پاره په کار ده چې پخواني الفاظ - زاړه اصطلاحات را ټول شي. تر څو د راتلونکو نسلونو د پاره یوه په زړه پورې داډمنه او ګټوره ذخیره وي.

نن سبا د دنیا ملکونه د ترقۍ او پرمختګ لوړې پوړۍ ته رسیدلي دي له همدې سره یو ځای ژبه ، کلتور او ثقافت هم وده کوي. او په نورو ژبو باندې اغیزې ښندي. نو له همدې وجې څخه ده چې پښتو ژبې ته خاصه توجه وشي. تر څو د بهرنیو ژبو له اغیزو څخه په آمن کې پاته شي.

دا په ثبوت نه رسیږي چې کوم متل چا ویلي دي او په کوم زمان او مکان کې ویل شوي دي خو دا به قبوله کړو چې متل او یا متلونه د اولسونو یو منل شوي مروج او دوديز حقیقت دي چې وه - شته او وي به.

متلونه څه په پښتو ژبه کې او څه په دري ژبه کې او یا نورو

محلي ژبو کې زموږ د اولسونو مشترک قومي میراث دی. د دې ارزښتناکه میراث په ساتنه - وده او پراختیا کې هر افغان (پښتون - تاجک - ازبک - هزاره - ترکمن او نور .... ) په تیره بیا د قلم خاوندان په دې له ویاړه ډک کار کې لویه ونډه ادا کولی شي.

ما د پښتو ادب او ثقافت په دنیا کې څه ناڅه اوریدلي او لوستلي دي خو دا لومړی ځل دی چې د پښتو ژبې د متلونو په باب کې قلم او کاغذ رااخلم او گوډه ماته لیکنه کوم خو دا زما د وړکتوب نه بیا تر اوسه پورې یوه ځانگړې مینه وه چې د اولسونو په منځ کې د جرگو او مرکو ، د ناستې ولاړې ، دوداو دستور ، ننگونو او جنگونو ،کامیابیو او ناکامیو ، روغ او رنځور ، وطن پالنې ، روغې او پخلاینې ، دوست او دښمن ، یووالي او نفاق ، منډو او ترړو ، مړې او ژوندې ، پردې او خپل د خوشحالیو غمونو او داسې نورو - نورو په برخه کې مې چه د مشرانو او سپین ږیرو څخه اوریدل زما په زړه کې به یې ځای پیدا کولو په همدې وجه مې هاند او هڅه وکړه تر هغه چې ممکن وي خپله ونډه واخلم.

پدې مجموعه کې د لرو او برو پښتنو په منځ کې عنعنوي متلونه چې سراسري جنبه لري تروسې پورې ځای کړی شوي دي. د متلونو د راغونډولو په جریان کې لا نوره هم څرګنده شوه چې د پښتو ژبې متلونه د پښتو په ټولو میشته علاقو کې یو شان دي خو محلي او کلیوالي لفظونه او لهجې سره توپیر لري په معنی او مفهوم کې سره ورته دي.

د مثال په توګه :

« څمکه هغه سوزي چې اور پې بلیږي . »

« تاو په هغه ځای وي چیرته چې اور بلیږي. »

پدې کتاب کې جمعاً ( ۸۰۰۰ ) نه زیات پښتو متلونه راغونډ شویدي د یو شمیر متلونو څخه ډډه شویده پدې خاطر چې د محترمو ویونکو د پاره به د علاقې ورنه وه او د قلم عفت هم په نظر کې نیول شویده او بل دا چې د پښتو قومونو او قبائیلو تر منځ د تاریخ په اوږدو کې جګړې شویدي. سیمه ایز بیلتونونه شته یو قوم په بل قوم متلونه لري پدې مجموعه کې موندي ځای کړی.

خصوصیت د دې مجموعې دا دی چې متلونه په هغه

شکل او محتوی چې په اولسونو کې رواج لري انعکاس موندلی دی. یو متل ممکن تکرار لیکل شوی وي دهغې وجه دا ده چې الفاظ او لهجې یو شانې نه دي.

د متلونو د راټولولو په لړکې کوښه په کوښه - کلي په کلي گرځیدل د قومي مشرانو او سپین ږیرو سره لیدنی کتنی او د ځینو روشنفکرانو سره مشورې په تیره بیا د پشاور د کتب خاني د پښتو ادبي بورد څخه لیدنه، د پښاور یونیورسیټي د پښتو اکیډمي کې څیړنې گټوری وې چې په نتیجه کې مو وکولای شوای چې څه ناڅه متلونه را غونډ کړم او د هغه د ترتیب او تنظیم کار سر ته ورسیږي. «انشا الله تعالی»

سره لدې چې د «کاڼي کرښې» پښتو متلونو د کتاب په کار کې زیات زیار ایستل شویده. خو بیا هم نیمگړې تخنیکې خواوې لري هغه دا چې متلونه د الفبا په تورو ترتیب شویدي خو د تورو په برخو کې څنگه چې لازمه وه ندي ترتیب شوي د دې نیمگړتیا وجه دا ده له یوې خوا یوازیتوب سره لیکل را ټولول ستونزمن کار وه او له بله لوري اوسني شرایط هم دا ستونزې

زیاتی کړیدی...... او بل دا چی د کتاب د چاپ په لړی کی زیات شمیر متلونه یو په بل پسی را رسیدلی دی له همد کبله له محترمو او عزتمندو لوستونکو او د دی کتاب له مینه والو څخه ښښنه غواړم.

په زیات درنښت سره

نورمحمد نور «زرمتی»

پشاور

۲۰-۱۲-۱۳۷۹ - ۱۱-۳-۲۰۰۱

# ا

* آبا د څه کوي ؟ خاورو سره خاوري ګډوي ، آبې د څه کوي ؟ خاورونه خاوري بېلوي
* آبي پۍ (شدي) پخپله وڅښلي پردي پشي په پټو کې زغلوي
* آبې زړه شوه له شوقه ونه لويده
* آبې چه د زړه کړي نو په څمڅې کې تبې کوي
* آبې که رښتيا وايم بيا مي وهي !
* ابې چې د زړه کړي له اوربشو پراتې پخوي
* آتڼ وهه شيرداده نن بيا د چرګ شوروا ده
* آتڼ په يو د لاس نه کيږي
* آخ په « ما » يې جنګ دی
* آختر د يوه سړي نه دی
* آختر هم ونشو زيږدمې هم وخرييله
* آخير مسلمانی ده پنځه وخته آذان کيږی
* آخر به خاوري شي صورته !
* آخون ګرمولم زه نه ګرميدم
* آخوند رښتيا مه وايه په کلی کي به د ځاي ورک شي
* آخون له شوروا هم بس دی

PROPERTY OF ACKU 9462

* آبې مړه شوه خو خوله ئې ژوندۍ ده

* آدم له د جنت غنم ښه نه دي

* آدم نشته بوی یې نشته

* آدي گوره خپلې پښې گوره

* آدب په ډب زده کیږي

* آدم خان درخاني غواړي ،خو که درخاني آدم خان وغواړي.

* آس د میږوی په زور غورزي

* آس پردی سور پري مړی

* آوښ ئي له باره سره بوت

* آغزي چې له اوله نه وه تېره په لوی والي نسي تیرېداي

* آفسوس – مړی اولیوان په یوه ځاي اوبه څښې

* اباسین هم چه په کاسو شي نو وچ به شي

* ابا مه گوره خورجین یې گوره

* ابا په کور نشته له ادی ډار نشته

* اتفاق ته غرونه څه دي

* اتڼ په دوو گوتو تو دیږي

* اثبات ثبوت نشته ړنده پاچاهی ده

* اجل چه راشي زوړ او ځوان نه غواړي

* اجل نه ردیږي

*اجل په ډولو نه راځي

*اختر پټ مېړه نده

*اختر چې تېر شي نکريځي په ديوال وتپه

*اختر ده ، بختور ده د ملا کره چرګوړي خيتهٔ ورده

*اختيار نر ده انديښنه ښځه

*اخره زمانه شوه د چرګانو يارانه شوه

*ادي که د زړه که نو اوګړي ته تبي وکه

*ارزن برمه کوي

*ارمان پس له زواله دي

*ارمان به کړي هلکه بيا به نه مومي ادکه

*ارمان ده چې وروستي عقل ړومبي وي

*ارمان ارمان ده خو ارمان د ايمان زيان ده

*اروړي ( اروړمي ) د پياز کاړي خبري د قورمي کوي.

*ازمايښت اول په کالو په تلنو ووه ، اوس دم په دم دي

*ازمائيلي بيا مه ازمايه

*ازار نه چا بازار مونډلي ندي

*اړ (محتاج ) ستر ګي نلري

*اسمان ځومره چې غوريږي دومره نه اوري

*اسانو نالونه وهل چنګښو هم پښي پورته کړي

* اسمان پورته او ځکه سخته
* اس ته چې خدای په قهر شي ګاډي ته ولوېږي
* اس ئې وژلی زین ئې تر سر لاندې ایښې
* اسره د خدای ښه ده
* اسره د بنده ته مکوه
* اسمان ته ګوری او ځمکه نه وینی
* اسلام تر توری لاندې وی
* اسمان چې وریځې ښوروي باران به وکړی - کونډه چې
سترګې توروی میړه به وکړی
* اسمان په ستورو او چینی په خالو ښایسته ده
* اس مې د رکړو نو پری سپرېږه مه
* اس نه راکوز په خره سپور
* اس هم غواړی په لس ئې هم غواړی
* اسونه ئې هغو له ورکړو چې د تانګ په تړلو ئې نه پوهیږی
* اسانه کلمه په هندو ګرانه
* اسپه کې د زرو روپو بچی وی - نو څوک تری لږ هم خبر نه
وی، چرګه کې د یوی پیسی هګی نه وی خو ټول کورئې په
سر اخیستی وی
* استاذ د پلار په ځای ده

*اس چې میدان ته ورځي – د سپاره په زور ورځي

*اس چې خدای خواروی نو یې یابو کړي

*اس چې ته‌پونه وهي نو د میړوی په زور

*اس چې د اسه کم وی نو غوږ‌ئی پریکړه .

*اس خپله دانه پخپله زیاتوی

*اس د بله ،قمچینه د ځنگله ، چې د ی یې تیز نکړي نو به ئې ځوک تیزوی

*اس د له بله ، لښته (تازیانه) د له ځنگله چې نن ئې نه ځغلوی نو لا کله

*اس د سواره کناتې پیژنی

*اس خپل سپور ډیر ښه پیژیی

*اس ششنی خر رانې ،غاتره نوری بلا وائی

*اس که د وښو سره یاری وکړي نو خوری به څه

*اسمان په ډبرو مه وله خپل سر به مات کړي

*اسمان ته دختو لار نشته

*اسمان په لوټو ولی!

*اشنا د کوڅې تیر که رنگ ئی هیر که

*اعتبار په علم ، آدب دد ، نه په مال اونسب

*اغزی چې وړوکی وی تیره وی چې لوی شي پڅ وی

*افغانستان له واورو ډک ښه دد نه له زرو ډک

* اصل اصل وی کم اصل کم اصل وی

* اصیل په سپیره ځل کی ښایسته وی

* اصیل بها نلری

* اصیل کول گران ، ساتل ئی اسان ، کم اصل کول اسان ښاتل ئی گران

* اصیل ته اشارت کم اصله ته کوتک

* اصل وفا کوی کم اصل جفا

* اصراف کی خیر نشته

* اکویو په بل پوری پکو

* اگرو اگر سره ورته دی

* اگر – مگر .

* الف ئی په ځگر کی نشته

* الله تعالی د بنده پرده کوونکی ده

* الله پاک دربارئی پاک

* الا بلا به گردن ملا –الو بلو د ملو په شو ( اله بلا د ملا په شا )

* الف هیڅ نلری – نو (ب) د کومی لښکری لری

* الم ترکیف د هر چازده دی خو خوله د ملا عثمان غواړی

* الله نه په توبی او بنده نه په ناغی خلاصیږی

* الله رازق دی مگر شولی په اوبو کیږی

* الله تعالی وائی ته حرکت کړه زه برکت کړم
* الله تعالی د بنده پرده کوونکی دی
* امانت ځمکه نه خیانت کوی
* امانت خاوره نه خیانت کوی
* امیر ئی ورکوی شیخ میر ئی نه ورکوی
* امیر سړی که خر هم وی هوښیار دہ
* امیری ورکی شوی وینځی ملکی شوی
* املوکو په تول کی راغلی ده
* د اموخته خور نه میراث خور بد تر ده
* انتظار تریخ ده
* انگار د ایرو لاندی وی
* انډی خوری انډی وباسی
* انسان پخپل وس پړ ده
* انسان د احسان تابع ده
* انسانیت په دولت نه موندی کیږی
* انسان په یود ورځ پیدا په یود ورځ به مری
* انسان بی وزرو مرغه دی
* انسان له سهوی خالی نده
* انسان له کانی کلک تر گل نازک

* انسان په اومید ژوندی ده
* انسان ته انسانیت ضرور دی
* انتقاد آسانه ابتکار مشکل ده
* انصاف نیم ایمان ده
* اوبه له پاسه خړیږی
* اوبه د لوښی له مخی ځنبل کیږی
* اوبه په ډانګ نه بیلیږی
* اوبه چې له سره جګی شی څه یوه نیزه څه دوه نیزی
* اوبه خړه وی ماهیان نیسی
* اوبه روشنی دد
* اوبه او غوړی نه سره ګډیږی
* اوبه او اور سره نه یوځای کیږی
* اوګره په ځتلو نه تمامیږی
* اول سلام پسی کلام
* او تو چې ګرم شی یوجوړ کالی لا نور هم او تو کوی
* اول د خدای حق بیا د همسایه حق
* اوښ ته ئی ویلی وؤ چې غاړه دی کږه ده ، ورته ویلی وود ،
چې زما بیا کوم ځای جوړ دی
* اوښ ئی له باره سر پټ که

*اوښ په سر باری نه درونددی نه سپک

*اوښان په بړا یو بل پیژنی

*اوښان په د مامونه ویرېږی

*اوښان پخپلو میتازو کی شوېږی

*اوښانو هم چیری خندلی

*اوښان نه ژاړی بارونه ژاړی

*اوښان سرکاریدل گیدړه هم زغاسته چې بې پرسی ده

*اوښ ته چا ویل چې لوړ ښه ده که ځوړ -وی چې په ختو کی به دنیکه ځی

*اوښ چې گډېږی نو خپل ځښتن شرموی

*اوښ په بډه نشی وهلی

*اوښ په پوله نه پتیږی

*اوښ چی مرور شی نو مخ په قبله درومي

*اوښ چی لاړ مهار ئی څه کوم

* اوښ د سر سیوری خوری

*اوښ له بارد و لویدد له بړبړا ونه لویدد

*اوښ نه ځوړکی ښادی شته نه په پی چومی کی

*اوښ کینه دل دد ( اوښ په زړد کی کینه لری )

*اوښ ته یی ویلی وود چې په لوړ خوښ یی که په ځوړ ؟ ویلی

وو د چې په يوه هم نه

* اوښ په غلبيل نه درونددہ نه سپک

* اول د نه خوړې د گل خرپتې اوس ئې غواړې له خاورو ډکې

* اوباز يم خوبې گودره نه گډېږم

* اوبه په پورته وهه کښته ئې لارددہ

* اوبه آخير خپل سر باسي

* اوبه په شيوه ورخ توئيږي

* اوبه د سر نه جگې شوي

* اوړه د په اوړه منت د په څه

* اوبه خوهر څوک کښته وړی زموږ انا خوسر زوری وه پورته

پکې نه وی تللی

* اوبه چه ډنډ کې ډيری ودريږی گنده شي

* اوميد د خدای ښه ده

* اورئې بل که ترينه ولاړه

* اوړه د ميچنی -زوی د خچنی

* اولاد زړه غوښی خوری

* اول خدای زورور دی وروسته پردی قرض.

* اول اتام پسی کلام

* اولاد اکثر باباته ځی يو نيم ماماته ځی

* اولاد د پلار مور وزر دی
* اولاد هم غم ، نه اولاد هم غم
* اولاد مور ساته ، پټ ئې ساته خو په ادب ئې ساته
* اول میړانه په سیالی وه اوس سپیګانه په سیالی ده
* اول نوک ځایه وه بیا سوک ځایه وه
* اول ئې پړ کړه بیایې مړ کړه
* اول خپل عیب ته ګوته نیسه بیا د نورو عیبونو ته
* اول ځان پسی جهان
* اومه خوری هغه پاستی چې د ځای ورک شی د ناستی
* اوه کوره تاران دی اته ئې تنورونه دی
* اور لمبونی خپله په اور کی سوځی
* اور ته ببوزی (پکی) وهی
* اور د خپلی لمنی نه لګیږی
* اور ته لمن وهی
* اور ئې په تنارده کی بل که لوګی ئې له بامه وختل
* اور چې ولګیږی وچ او لاند دواړه سوځی
* اول زده که بیا کوزده کړه
* اوس خومی پیسې پی تللی دی
* ایسار ګیدړ د زمری په مخه ورځی

* ایرا پور غواړی او بیرا نور غواړی
* اوبو اخستی ځک ته لاس اچوی.
* اوبه په پف نه پاکیږی.
* الوګانو ته ئی لاس نه رسیده ویل ئی چه ترش دی.
* ازمایل شوی بیا مه ازمایه.
* اوربشی خبری د خوشی.
* اوریدلی یی د چه علی آباد شهر ده.
* اول فیل خانه جوړه کړه بیا فیل واخله.
* اول ځان پسی جهان.
* اوبه د شګو په بند نه بندیږی.
* انسان زړیږی حرص ئی ځوانیږی.
* انا مړه شوه ټبه ئی وشکیده.
* اوری له نوکه جدائی نلری.
* اسمان په ستورو ښه ښکاریږی.
* اوسپنه په اوسپنه ټکول کیږی.
* اجل په ډولو نه راځی.
* اوله سودا بیا نه پیدا کیږی.
* الله بلا به ګردن ملا.
* اول سوچ کوه بیا خبره کوه.

* آخور ئی جوړ کړ ویل یی آس به د خدای راکړی.
* آموخته بلا په بسم الله نه منع کیږی.
* آس پردی سور پری میری.
* اسمان په ډبرو مه وله خپل سر په مات کړی.
* اوبو ته چه څومره خواږه اچوی خوږیږی.
* اوبه به تیری شی کانی به پاتی شی.
* اوبو په غاړه اوبه غواړه.
* اوبه په اوبو شدی په شدو.
* اوبه په سارهٔ ځی نه په جگواله.
* اوبه تل په کښته ځی.
* اوبه چه تر ورخه واوښتی بیا نه راگرځی.
* اوبه چه تر غاړی رسیږی زوی تر پښو لاندی کیږی.
* اوبه د چینی سرنه خړیږی.
* اوبه د کانی خوله ماتوی.
* اوبه د هغو دی چه زیات ئی وی میړونه.
* اوبه چې ډیری ودریږی نو خوند یی بدلیږی.
* اوبه که گرمی وی اور به مړ کړی.
* اوبه څه تر نامه څه تر زنگانه.
* اوچ او لانده گډوډ سوزی.

• *اخوره او نغره کې فرق دی.
*او خوری نو ... شی ورکې نو گل شی.
*اوده زمری ولی ویښوی.
*او وهلم خدای – بها نه می ته شوی.
*اوه سیندونه پوری – خپله برخه ده را پوری.
*اور او اوبه مه سره گډه وه.
*اوربشی څه په ځمکه څه په جوال کې.
*اور ته چه نږدی کیږی اخر سوزیږی.
*اور ته خپل او پره دی یو دی.
*اور له خپلی لمنی لگی.
*اور هغه ځای سوزی چه کوم ځای بلیږی.
*اور له راغله د کور میرمن شوه.
*اور نه شه پیغور شه.
*اوړه په لپو – غوړی په گوتو.
*اوړه د په اړوه منت د په څه؟
*اړه خیشته پشته کړی منت په تناره کړی.
*اوړه که تمام دی پیمانه خوئی شته.
*اوړه یو موټی نشته تنورو نه ئی شل جوړ کړی.
*اوړه یو موټی نلری تنور یی په بام جوړ کړی.

*اوزي – اوزي پې (شدي) به راکړي خوله پچوړه کي.

*اوږدي چاري په اوږدو لاسو کيږي.

*اوږي په پردي کور نه مړيږي.

*اوسپنه په اوسپنه غوڅيږي.

*اوسپنه چه څومره تکوي هغومره پخه شي.

*اوس پشو شيخه شوه موږک نه نيسي.

*تگي ږستوني ورکوي لاس تر ينه باسي.

*اوگره په تلوار نه سړيږي.

*اوږي د ډوډي تپار اوري

*اول د خداي حق بيا د همسايه حق.

*اور په اور نه مړ کيږي.

*امير چي ظلم کار وي اور به بل په ټول د يار وي.

*اتڼ ټول خلک کوي زمونږ دي !! خو پکي کيني هم.

*اوتي – بوتي

*ارزانه بي علته نده او قيمته بي حکمته

*اول د نوک ځاي کوي بيا د سوک.

*ادم خان لاړ – رباب ئي لاړ.

*آخرت ته څوک گوري.

*ارمان به درشي وخت به تير وي.

* اولاد د زړه غوښې دی.
* اړ (محتاج) سترگې نلری.
* اورئی په تنارد کی بل که لوگی ئی له بامه وختل.
* اول زده که بیا کوزده که.
* انتظار تریخ ده.
* اوبه د سر نه جگی شوی.
* امید له الله نه ښه ده نه له بنده ثه.
* امید یاد نگو غروته کیږی یا ښو میړوته.
* اومید یادنگو غروته کیږی یا لویو کوروته.
* اس خو بیله دی اوبه چښی، شکیلی ئی بډائی ده.
* اتفاق ته غرونه څه دی؟
* ارمان چې ما ویلی اوتامنلې.
* اوښ ته ئی ویل: چې لوړښه ده که زوړ؟ ویل یې: لوړد ورک څوړ د ورک سرد له چکړو.
* اوښ ته ئی سوړنی واهه ده خپل کتی خوړ.
* ابائی پیدا نه، زوی ئی په باموگرځیده،
* آسان ئی په سوو وړی، میړونه ئی په ورسووړی.
* اسان په سوو گتې – میړونه ئی په خولو گتې.
* اور په اوبو ایشاریږی.

* اوښ که په کیږدۍ سرننه یوست پدی پوه شه چه تول ننوت.
* اول دچا په کار نه وی سوړ سکه - سړ کال دخوشحالی کوم لایقه.
* اوګره په تلوارنه سړیږی.
* ارمان چه د پښو په ځای می سروای.
* ارمان دایمان زیان ده.
* اکو یو په بل پوری پکو.
* اورکه بریالی وی په کور د ولګیږه.
* انسان تابع د احسان دی.
* اخری ورځ یانامرده یاځوانمرده.
* اسمان په ستوروښه ښکاریږی.
* آزادی لوی نعمت ده.
* اوسپنه اور پخوی او دوستی زمان.
* اغونده ګدله له پوره څخه ځغله.
* آبی خو په جار، جار ګوره په ورکړه ئی زړه چوی.
* اجل په علاج نه ستنیږی.
* اجل په نیتیه ده.
* اختر پټ میړه نه دی.
* آخوند ګرمولم زده نه ګرمیدم.

*ارمان -ارمان ه داداکوره - د ډ که شکوره به چاپیره
گرځیدمه.
*اس چې په میدان ورځي نو د سواره په زور ورځي.
*آسمان به ولاړوی - لاټ به مرداروی.
*آسیاوان چې تسپې اړوی ژرنده گړی خطاکوی.
*اشنا ! انگور چه نه خوری داسې خو مه وایه چه ترش دی.
*اشنا ! غز چه نه خوری بیا بد پرې مه وایه.
*اشنا نیسه کورځې کسه.
*الا وه که بلا وه د لالي د سر قضا وه.
*اموخته خور بلا خور.
*امیر سړی که خروی هم هوشیار دی.
ماغریب سړی هوشیار لیدلی نه دی.
*اوبه چې ډیرې ودریږی نو بوی کوی.
*اوبه تیرې شی کاڼي پاتې شي.
*اوبه د کاڼي خوله ماتوی.
*اوبه که برې دي،ترپله لرې دي.
*اور اوبه نه سره یوځای کیږی.
*اور ته چه نږدې کیږی خو آخر به سوزیږی.
*اوړه چې خمیره شي، هرڅوک گوتې پکښې وهي.

* اوږدی چاری په اوږدو لاسو کیږی.

* اوګره د وی توده د وی.

* اوګره که ښه وی په بزار کی به خرڅیده.

* اول خوند وی بیا شخوند وی.

* اوله ورځ بادشاه ، بله ورځ وزیر او بله ورځ د خاورو خمیر.

* اوبه په پیچومی بیا یه که لاړی لاړی که نه شکته ئی لارده.

* اودی وهلم څه چی لا د ګړندی کړم.

* ابا کور نشته له ادی ډار نشته.

* آبی هسی هم لیونی وه چی لړم وچیچله نو د غرو شوه.

* آسمان د سترګو په ککځ (کسی) کشی لیدی شی.

* آسمان ته منجیله مه تړه.

* اسلام تر توري لاندی ده

* استاذ د پلارپه ځای وی.

* استعاره له مستعیره - لکه سپی چه ډوډی غواړی له فقیره

* آس ئی په خره بار کړو خریی مردار کړو.

* اشنا پیش کیدونه نا شنا غلیدونه.

* اسی بسی (خوشی تشی) بلا می درته نیسی.

* اشنا ښه دی که خوږونکی سپی وی.

* اشه ښه ده که ګله ، مه یو دوینه مه بله.

*اشنائی د ملا تر سبقه پوری ده .

*اصل یا په علم پتیږی یا په مال .

*اصل به جفا ونه کی کم اصل به وفا .

* اصیل بها نلری .

*اصیل په سپیره ځل کی ښایسته دی .

*اصیل کسه سپی تری نیسه .

*اکا چې څرنګ وی هغسی به د ژاړم .

*اکا دا هغه سر نه دی ، چه به ستا په توره پری شی .

*اخښلی د ربخښلی خو چه وچ می لانده نکړی .

*اخیره زمانه شوه د چرګانو یارانه شوه .

* آخوری وسواسی کله اسی کله داسی .

* آبا حلال دری نه حلال .

*ابا نسته خړی سته .

*اوښ په ببوزی نه درنیږی .

* آسمان ته لاړی مه توکوه .

*اصیل کونه ور کم اصل خړه ور .

*اصیله ځان کچه که چې پر تو ګ د الچه که .

* اصیل جنده کالو کی هم معلومیږی .

*اموخته خور بلا خور .

* اوږه یو موټی نلری تنورئی په بام جوړدی.
* اوسپنه په اوسپنه ماتیږی.
* اوښ پخپلو میتیازو کی ګوډیږی.
* اوښه هر څه د بی هوښه.
* اوښ ته ئی وویل لویی وکه ده جوړنګان له بیخه وکښل.
* ایلچی ته نه بند سته نه زندان.
* اتنه وران سی چې امرالدین د ناری کوی.
* اخیر عمر د خواری ده.
* آدب له زخمه اخستل کیږی.
* آدم خان د په خیال ګور روان راغلی دی.
* اړه په اړه خلاصیږی.
* ازمائیلی څوک نه ازمایی.
* اس تکنی دی میدان یی لنډ دی.
* اصیل په ګدله کی کم اصل په کزبره کی.
* اصیل خطا نلری کم اصل وفا نلری.
* اوسپنه چې څومره ټکیږی ، هغومره پخیږی.
* ابا نسته پوستین سته.
* الله پاک دربارئی پاک.
* ارغښتو (ږدنو) غوښته د ګوډی خوله وخته.

*اوبه په شیوه ورخ تو ئیږی.

*اور په لمن کی نه وړل کیږی.

*اول ئی ووایه بیا ئی امضاء کړه.

*اول سودا بیا نه پیدا کیږی.

*احتیاط ښه دی په هر کار کی، تلوار مکوه

*اوښی چې روپی شیندی د کلي ټولی پیغلی به ئی خدمت کوی.

*امکان لری چی دلته ئی کته کړی!

*اور ته خپل او پردی یو دی.

# ب

*بانه په سترګو نه درنیږي

*باران په مچلغوښو خره ئي د کلا لګو یووړه

*باباچه غلا کوله اول به ئي له ملا کوله

*بابا به ویل ادی به منل

*بابا د خدای وبخشي مګر د سهار پ لمانځه کی سست ووه

*بابا که لمونځ نه کاوه کفرئي هم نه وایه

*بابا ګیلی کوی ادی پیری کوی

*بابا که کارکم کاوه بیا ئي محکم کاوه

*باچاهي پاچهانو لره ښائي لوئي خدای لره

*باچهي خو ګرانه نده، کرسي واچوه پری کښینه

*باد په توره نشي وهل کیدلی

*باران وشوچا کونه پټ شول

*باران په تیرا وسوځري د خالصي یوړي

*باد راوړي په باد تللي

*بار خر وړي... نه د کندل خوږیږي

*بار داره ونه هرڅوک په تیږو ولي

*بارونه ئي تړل اوښانو ژړل

PROPERTY OF ACKU 9462

* باز هر څو مرد چې خوار شي چنګښې نه خوری

* باغ چې پوخ شي باغوان کوړ شي

* باز د قام دښمن دی ځکه په غرونو سردی

* باور مکړه د مغل په کاغذونه ،د مغل اول کاغذ پسی پوځونه

* بابو لالی وائی

* بادشاه خو به ئی درکړی که وزیرئی درکړی

* بارانه چه نن نه اوری نو به کله اوری

* باران ویل چې نن نه اورم نو بیا به کله

* بار خوئی را باندی کیښود سی کیښود سرباری ئی

لا ایضافی راباندی واچاوه

* بار خود په باردا سرباری د لا په څه

* بارانه چه ته نه اوری نو به څوک اوری

* باز د بازانو سره الوزی او تپوس د تپسانو سره

* بد بوټی هیڅ بلا نه وهی

* بد مړو برخه ده

* بلاوه برکت ئی نه وه

* بلا به په مخ وهی

* بی چراغه به هم سبا شی

* بی عیبه خدای ده

* بې عقله د ومرد په بل نکوی لکه په ځان
* بې خریطې فیر کوی
* بې زحمته راحت نشته
* بې وخته یې اذان وکړ
* بې گودره په اوبو گډیږي
* بې نصیبه خواړه نه خواړه کیږي
* بې وسی د وسی نده
* بې اتفاقي واچوه حکومت وکړه
* بې عقل ته ئې وویل چې غوږ د سپې یووړ ، خپل غوږ ته یې
لاس نه وړ سپې پسې ئې منډې وهلې ،
* بې فکره څوک چې کار کړي خوشې زیار کړي
* بې عمله علم د بې ثمره ونې په شان دی
* بیخ او بنیاد ئې ورک که
* بیکاري لوی رنځ دی
* بیائې پوستین چپه اغوستې
* بیلتون سخت دی
* بیډۍ ئې وار کړیده
* بهترین ملگری کتاب دی
* بده ورځ وروړ نلري

* بد ترين احتياج هغه ده چې نيک سړی بخيل ته احتياج شي
* بد به يم نه له وروړ سره
* بد زوی نه زوی
* بد به د پوزې پيزوان وی
* بدل په بدل خلاص
* بد گمانی د ايمان زيان دی
* بد راسره مکوه ښه د نه غواړم
* بده ښځه کړه لښته ده ماته به شي جوړه به نشي
* بده ورځ کله کله وی
* بده ورځ چا ته غږ نه ورکوی
* بد په بدی واوښت بدی تنده تری لاندی واوښت
* بدی تر واورو نه سړه ده
* بريت غوړيی ورک شويده
* بختورئی په بل وينی کم بختئی په ځان
* بخت چې بيدار شي بنده هوشيار شي
* بخت چې بيدار شي ليونيانئی په سد شي
* بلا به په ميخ وهی نه په څټ
* بلا خو ود ! تورهود که سپينه ؟
* بلا چا وموندده چه ما وموندده

* بلا له خپلې لمنې پورته کېږي
* بلا دې خلاصه ده
* بل د خوږ گوتې مه نيسه
* بل ته گوته نيول کېږي ځان ته نه
* بللي خور ولې
* بلاچې په تهولو ( عامه ) وي له هغې بلا مه ډاريږه
* بلا چه عامه شي آسانه شي
* بل وار که وديدم اينکې مې ښه زده ده
* بنيٍ آدم بې وزرو مرغه ده
* بن به دې تندې وهي ، يور به د لينگې وهي
* بن به د برئ غواړې يور به دې کمې غواړي
* بن د ختيو هم بده ده
* بنده اريان خداى مهربان
* بنده لرينښلولې مرگې لار ورته نيولې
* بنده راشه دخداى خپلږشه لکه په ځان داسې په بل شه
* بنده ! هله به سبا کړم چې د ستا روزې پيدا کړم
* بنده لرې نښلولې مرگې لار ورته نيولې
* بو په شنډو ويل کېږي
* بې کورد بې اورد

*بی سواده د ړانده مثال لری

*بی کاره سړی د سلو وزیرانو عقل لری

*بی کاره هر کاره

*بی زوره پور ته پور ته غورځیدل ښه ندی

*بی لوره ، بی لود نه ګډ ده

*بی کسبه بی کمال سړی نه سړی ده

*بیری په ورو « په وار » پخیږی ، وړوکو ایته بیړه وی

*بېړه سپی کوله چې ړانده کوکری ئی راوړل

*بیړی په بخت چلیږی

*بیړی اکثر د ماتوګی د لاسه ډوبیږی

*بی عمله علم هیڅ دی (که د خره په شا کتابونه بار کړی هغه خر دی)

علم وکړی هیڅ عمل ورباندی نکړی
لکه طفل هسی لوبی په کتاب کړی

*بیا به د بیا سره ګورو

*آس ئی بوولی زین ئی تر سر اینبی

*بی زمانه به ئیشل نه کړی

*بی ستە څوک جنت ته هم نه ځی

*بی لاری مه ځه او بی ګودره مه ګډیږه

* بيزه (وزه) د مرګ نه پتيده د قصاب کرد ئی شپه شوه
* بی عقله زوم د خواښی په باتو خطا وزی
* بی تورزنه بی جاسوسه لښکر خواردی
* بی چرګه هم سبا کيږی
* بی ريباره ياری ګرانه ده
* بخت په کوتی دی يا په کوڅی ده
* بدبوتی بلا نه وهی
* بد بد ګمانه وی
* بدی له خپل ځان سره ده
* بد مال د خپل مالک ده
* بد نيتی د خپل ځان کمی ده
* بد ورور په بده ورځ پکاريږی
* برد پريسی د هغی چی ږيرد ئی د ښځی په لاس کی وی
* بريت ئی تورد نه خوری
* بريت غوړيی پشی وتښتاوه
* بريت ښه بريت دی خو په خوښی خوله ولاړ دی
* بريت می ګټل ږيرد می بايله
* بريت ئی تبر نه خوری
* بريت غوړ ئی په تاکی کی ايښی ود له تاکی پشی يووړ

* بر بنډ د لارې اوړي وړي نه اوړي
* برخ مې جوړ اوه را نه کادانه شوه
* برج د تر اسمانه له لوړي د سپي مري
* برخې ازلي دي نه په زور نه په زاري دي
* برئې شته برکت ئې نشته
* بړستن به څه بړستن وي چې د رزا برزا پکې نه وي
* نیستي ښه وي او بلیږي ورکه بیکسي کړي سړی له ملکه
ورکوینه
* بسم الله ورکه بلا
* بسم الله ويل ثواب لري نه د ګیدړ د ښکار د پاره
* میږي - میږي چې د لنګیدو نه وي نو تیریدي ولې
* بڼ له مزرو نه خالي کیږي
* بنې راغلې مخ په مخ یونې راغلې څټ په څټ
* بوري هم ژاړي ، وراري هم ژاړي
* بې کسه بدي نشي پاللی
* بیګاري سړي په پردو میتازو کشینوي
* بې ورورد مه شي تربور ظالم دي
* بې له منډې غوبل نه کیږي
* بیل وطن ، بیل ئې دستور

* بې باره ونه څوک په تيږو نه ولي

* بې عمله سر کدو ده

* بې برغولې ديگ ده

* بې دليله خبرې مکوه ( بې پرتوگه خبرې مکوه )

* بې ډوله مه گرمېږه

* بې گودره مه گډيږه

* بې وخته ډمامې مه وهه

* بې ثمره ونه ده

* بې ځايه لافې مه وهه

* بجې (ارمنه ) ته هغه سړيکينې چې سندرې زده وي

* بړ ـ بړ توري تر ملا

* بنگړې جينکې په لاس کوي هتکړې هلکان (ځوانان )

* بهلول هوشيار وو ده خو قسمت ئې خوار وه

* بخت سې کوټه شي اميران ټکرې خوري

* بخت سې کوټه سي پاچاهان ټکرې خورينه

* بيډې ئې ميرږ ده

* بنده پخپل وس پړ ده

* بنده لرې ننبلولې مرگې لار ورته نيولې

* بيا ئې ورغيده!

*بیا ئی ومونده.

*بی پورد بی توله دد.

*بی غمه یو خدای دد.

*بنده پخپل وس پردد.

*بی ځایه چه یاری کړی ، اور به بل په خپل تندی کړی.

*بیل ، بیل وطنونه ، بیل یی رواجونه.

*بیږه شیطان کړیده چه ځای ئی دوزخ شه.

*بی نصیبه خواړه نه خواړه کیږی.

*بیکاری - بیماری دد.

*بنه بی سرینبونه لګیږی.

*بازی په بازینګر سمیږی.

*بی خوبه خوری - بی خوبه چښی.

*بنګی بی خپلو بنګو مه کی.

*بنده لری نښلولی مرګی لار ورته نیولی.

*بن په تندی وهه ، ایور په لینګی.

*بی نصیبه خواړه نه خواړه کیږی.

*بل ته غوږ نیول هم ګټه لری.

*بازار غلولی به په کور معلومیږی.

*بابا به چه غلا کوله اول به یی له ملا کوله.

* بار بار دار وړی دی زور زور دار وړی دی .
* بد په خوله خوږ په نیت.
* بدی چه نه کړی بدی چاری ، بدی به چاواژه په لاری.
* بل ته گوته ښه نیوله کیږی ځانته نه نیوله کیږی.
* بی کارو له شیطان کار پیدا کوی.
* بلا وی می ولیدلی گلی گلی داسی می ونه لیدلی لکه د کوز قلی.
* باچا هان چه د اوگری پیروی خوری وس ئی رسیږی.
* بار یی په شانشو وړای یو لرگی بل پری کښیود .
* باغ که باغوان نلری چغال خدای لری.
* بام ئی لوړ کور ئی ډ گر.ة
* بد په بلا اخته ښه د د.
* بد په سلام نه ورکیږی.
* بد مه ورسره کوه ښه د نه خوری.
* بد تربور په بد ځای کی پکاریږی.
* برج د تر اسمانه سپی ړله لوږی مری. ؛
* برخی تولی ازلی دی نه په زور نه په سیالی دی.
* بزد پخپل ښکر نه درنیږی.
* بلا بید ده ښه وی نه وینبه.
* بلا په بلا واوښته بلا یو څه لاندی واوښته.

* بلا د هغه پاڅی چه یی ګړنګ په بریتو څاڅی.

* بلخه بی تمیزه لالی راغی بی کمیسه.

* بیکاری د بدبختی زانګو ده.

* بنده نور مردار ده قول ئی حلال ده.

* بوډی تله په خرڅ پرته.

* بد رنګی سرتاوی چیره وی — ښه رنګی مخ نه پټوی

* بل ته مسئلی کوی په خپله پری حملی کوی.

* بنګ به لرګی نشی، .... به سړی نشی.

* بده ښځه تنګه پنه ده.

* بده ورځ ورور نلری.

# پ

* په پیغام بوسه نشي
* په تهمت رنگ شوی جامې په صابون نه سپینیږي
* په تي تي پخلا په کړی مرور
* پیر بابا لوی ده که د سپینې غر ؟ ویل ئي خدای د داسي حیران کړه لکه چه زه د حیران کړم
* پیر بابا سنډا درغي
* په تورو بوره نه پوهیږي
* په تیر ساعت پسي ارمان مکوه
* په خوله دده په کولمه دده
* په مور تیره ده خدای د آیندوو ته خیر کړی
* پیاز یې په گنډه کي ایښي
* پردي خیرات ته یې پیاز به گنډه کي وهلي ده
* زاړي کرونده د وخته حاصل ورکوي
* په وخت ئي وکره په وخت ئي واخله
* پوښتنه کول عیب نده نه پوهیدل عیب دی
* پیسه له سره جار سر له ناموسه
* په تاغل څوک تاني ته هم نه وري

* په کومه ویاله کې چې اوبه تللې وی بیا هم ځي
* په خرچ یې د ه په خوند ئې نده
* پتکي چې په اوږې تکیه شي ولیدلې ئې مه بوله
* په مسجد کې لمونځ او کتاب ، په چوک کې چلم او رباب
* په ملائی جنازه ده ښوونکي خدای دی
* په میړه د ډیر وطن قحط وؤ ،چې ته ئې کولې !
* په ناسته غومبر نکیږی
* په ناسته غومبر نه وهل کیږی
* په نره ئې گتم په نره ئې خورم
* په وچو اوبو ژرنده نه چلیږی
* په وچه زمکه لا مبو نشي وهل کیدای
* په ویر کې هر څوک په خپل مړی ژاړی
* په هغه دخدای مه وهه چې وهل ئې نه وی کړی
* په هره سوړه کې گوتې مه منډه هسې نه چې مار د وخوری
* په هغه د خدای میلمه که چې میلمه ئې نه وی لیدلی
* په هندوانو کې می محمد خان نوم ندی اوریدلی
* په یوه حال یو الله
* په یوه کاڼي دوه مرغی ولی
* په یوه استنجه لمونځ نه کیږی

* په یوه هډوکي دوه سپي مه ښخوه
* په یوه کتاب څوک نه ملا کیږي
* په یوه هډ دوه سپي سره جنګیږي
* په یوې لارې دوه وارې ځه ، په یوې قصې دوه وارې مه ځه
* پیاز څه کوم نیازئې څه کوم
* پیتې د میلمه جواب دی .
* پیاز د وی خو په نیاز د وی
* پیازه زه د چه خورمه ، ته رانه جاریږه
* پیاز په ګنډه په ډوډی پسې ګرځی
* پیریانو ته غزنې څه دی . (کوه قاف)
* پیزار که د سرو ده خود پښو ده
* پیسې ، پیسې مه ژاړه سر به ورکړم تا به ورنکړم
* پیسه په غره کې سورې کوی
* پشې چې ایساره شی ونې ته خیږي
* پشې چې جنګ کوی نو منګولې (خېرې) مخ ته نیسی
* پشې چې میاو ، میاو کوی نو غوښې وینې
* پشې په خوب کې وازګې وینې
* پشې د خدای د پاره موږک نه نیسي
* پشې اووه ساه وی لرې

* پښو ئې د غوښې څوکيداره کړه

* پيښې نه تيښته نشته

* پيغله په شپه کوه -کونډه په کاته کوه -طلاق چيرې مکوه

* پيغله که توره هم کور مې ځينې ځارشه

* پيغله هر څومره که مته کوره وي تر کونډې ښه ده

* په زړه د يوه په خوله د بله

* په زاړه قبر لکړې نه لګيږي

* په ژبه کې هډ وکې نشته

* په ژرنده کې د شپه شه د زوم کره د مه شه

* په ژمې کې به سيورې څه کوې

* په شنو (سبزې) ښځو ژيره ورکړې ده

* په سپې د خاوند زړه بديږي

* په سترګو وينې په زوې ئې لوړې

* په سپينه جامه داغ زر لګي

* په سيزمې څه وينښته ؟ ويل ئې اوس به مخيته د رولويږي

* په سلو مې مړ کړې په يوه مې پړ مکړې

* په سوتړ ئې چې ګندڼ نشي په پيو به ئې لمده نشي

* په شا توچې لوې وې هغه په زهرو مري

* په ښه خبر د ليونې هم پوهيږي

* په ظاهر شیخ ، پکی وباسی د اسلام بیخ
* په عمر کشر په عقل مشر
* په غرمو وګټه په سیوری ئې خوره
* په غله غل پیښ شو
* په غوړ لوښی اوبه نه ټکیه کیږی
* په کمزوری ورخ زر اوبه ماتیږی
* په کور کی یو ټک دارو نلری او په ځان ئې نوم غنبازه ایښې ده
* په ګیډه می شوتل ( شوتله ) دی په مله ( ملا ) می توره سپر دی
* په ګیله د ګیله منه یم په مرګ د نه یم راضی منه
* په لاس کی پنځه ګوتی هم یو شان ندی
* په لږو کی خوره په ډیرو کی ویشه
* په لویو غرونو د خدای نظر وی
* په لویو کی بنګړی ماتیږی
* په لیدو اوریدو کی فرق دی
* په لمځی کی ویښته لټوی
* په مار چی اجل راشی ،دی په لاری برابرشی
* په میتازو کی ماهی نه نیول کیږی
* په مړه مار ګذارونه مکوه

* په مړو کې بد نشته په ژوندو کې ښه نشته
* په مړي کې چې ایمان نه وي د ملا په سورة یاسین نه کیږي
* په اخند شوروا ډیره ده
* په حرکت کې برکت وي
* په پوښتنه ، پوښتنه سړی کعبې ته رسیږي
* پوښتنه وشوه چې خوګ هګۍ اچوي که بچې زیږوي ؟ جواب کې داسې وویل :
په دې بې لکۍ شک نشته چې دواړه به ورکړي
* پشي خوماکړي میاو خو ته ووایه
* پکه او پوستین
* پوستین ئې په چپه اغوستی دی
* پیاز لا بیخ نده نیولی
* پیسه د لاس خیري دي
* پردو شوملو ( تروو ) ته بریت نه خرئیل کیږي
* پردې غوښه په ځان پورې نه نښلي
* پردي غوزان نه په بډه کیږي
* په دې نه یم چې را به نشي – په دې یم چې لاړ به نشي
* پردې واده کې سپي مه شړه
* پردې وینې په ځان پورې مه مږه (مښه)

* پر سپې یو هډوکی هم ډیر دی
* پرنس هیڅ ښه نه معلومیږی
* پړی که وسوزی خو ول ئی هغسی پکی پاته وی
* پسی شـ د بادشاد ارتینی ته هم زیړی کیږی
* پسی شا خو د بادشا ښځه هم... له کیږی
* پښتون وایی چې ایمان د لاړشی خو پښتو د نه ځی
* پښتون وایی چې هیر شو - هندو وائی چې ډیر شو
* پښتو نه خبر نه دی د ډومانو کوټی اوشلیدی
* پښتانه ښه ته هم کافر وائی
* پښتون په پښتو مری او په حیا پائی
* پښتون سل کاله وروسته پور واخست ویل ئی چې اوس می تلوار وکه
* پښتون کور کی زیږیږی اوسنگر کی مری
* پښتون ندی چې د نوک ځواب په سوک ورنکړی
* پښتون له غیرته ځان اورته اچوی
* پښنی هلته ځی چې زړه ځی
* پک په پمن پوری خاندی
* پکه! دا دی لا بله سپکه؟
* پکر (دریزه) کوی، خو کچکول تر شانیسی

* پکې څه تور - تور شته
* پک نه په سر تار لري - نه په غوړو کار لري
* پکه چا په ورانه ګډوله ، دی ویل د مخ په او ښه زه سپریږم
* پکه نه په سر تار لري - نه په چا کار لري
* پکه ئې نه په چا اوبې نه ئې په چا وریسی
* پوستین یو توده وی ، بل نه ځایوی
* پوهه سړی تر کمبلې پښې نه تیره وی
* په ادیره ( هدیره ) کې همسپین قبر ته دعا کیږی
* په الاجې د لوبی کړی په ـتو بند شوی
* په اوبو څوک نه چاغیږی
* په اور کې واورد مه غواړه
* په وږی خیټه غومبر نه کیږی
* په اوښ سپور وم سپی وخوړم
* په اومو غوښو اتبار نشته
* په بد زوی ښه پلار یادیږی
* په بد نیت کلی نه رنګیږی
* په زور کلی نه کیږی
* په پټ کې تور مصلی ښه ده
* په پتو زړو خدای عالم دی

* په پردې کور سل میلمانه هیڅ ندی
* په پردې خټ سل سوکه څه دی
* په پردې ملک خانی نه کیږی
* په پګړی د شوم غلطه چې په کور د راغلم نه دځل وه نه دکته
* په پلیت بوتی سپی هم مېتازی نه کوی
* په پوښتنه سړی مکې ته رسیږی
* په تا به ئی هم سر تړلی وی
* په تا که و اوری په ما به وڅاڅی
* په ترخو کی خواږه وزی
* په تش جیب یارانه نه کیږی
* په تندی کی د زمری ویښته دد
* په توره مړ شی زویه – نه چې دښمن ته خړشی زویه
* په تور – توت نه توریږی
* په تیرو اوبو پسی کره نه اوړیږی
* په جار، جار می د ښه نه شی څو می خیته مړه نکړی
* په جنګ کی یو ګام د سلو کالو لار ده
* په جنګ کی مړی کیږی
* په چا غم په چا ښادی
* په ځای د کیږی په ځای تسیږی

* په حرامه راغلی وه په حرامه لاړه
* په ځان زده کړه په بل شپه کړه
* په ځینې وخت کې بې غیرتي هم نیمه توره ده
* په خپل نه پردی ښه وي چې په ځان پوری د ښه وي
* په خپله توره ئې ځان غوځ کړه
* په خپلو خپل په پردو پردی
* پخپل کور کې سپي پیاوړی دی
* په خوره خوله ښار خوري شي
* په خوله تنګ په ګیډه لوی
* په داسې بلا واوري چې پر تو ګ په اوره راوري
* په داسې بلا واوري چې پر تو ګ په غاړه راوري
* په داووس زوی نه زوی ښه ده
* پیغله داوو قچرو زور لری
* په دریاب کې کاڼي دیروی خویو نیم پکشی سیروی
* په دووس کلي کې میلمه هم مشر وی
* په دوو بیړیو پښې ایښودی نه شي
* په قبر شکری نشته
* پلار د کور ستن ده
* پلار خو مې ندی درته وژلی

* پلار د څه کول خره ئی خسی کول ، څه ئی تری وموندل ،خپلی جامی ئی پلیتی کړی
* پلار د څه کول ، خره ئی خسی کول ، څه ئی تری وموندل؟ موتی مالگه د کوره اچوی
* پلار د څه کول ، خره ئی خسی کول ، څه گټه ئی شته ؟ د لاسونو سره کول
* پلارئی په اته زوی ئی په شپیته
* پلانکی د مچ نه کوچ باسی
* په خپلو سپک په هر چا سپک
* پور په ورکړه خلاصیږی
* پور پیغور دی
* پور چې څنډنی شی خوردنی شی
* پور د بدی تخم دی
* پور د پور منت د نور
* پوری ئی نه کړو –راپوری یی پری کړو
* پو (په ) سترو کونو ایتبور (اعتبار ) مه کوه
* پو (په ) کور د ونی (دانی ) نشته مور د میچنی ته ځی
* پو (په ) کور د ډمان جمع شه
* پو (په ) کور د ملایان جمع شه

* په آس سپور ځي او سر تيټ اچوي

* پا پلې - پا پلي پل واخله - پل د بختور شه ، پسی بل واخله

* پاتې د نيا ښه ده نه په تخته اريان

* پاړو گر د مار د لاسه مري

* پتې ښه که لکي ؟

* پټ بر بند مې ليدلی دی

* پټ غل پاچا وی

* پتوی اوښان ځي تيټ تيټ

* پټه خوله بهتره دی

* پرتو گ خوئی په سر تړلی دی

* پرتو گ مې هم واچوه او تحصيلدار هم رانه غی

* پر خواره ځمکه هره گياه شنه کيږی

* پردو تروو ته او گره مه پخوه

* پردی غم نيمه ښودی ( ښادی ) وی

* پردی اسونه او لوی لوی ميدانونه .

* پردی خر شل منه وړی

* پردی زوی که په خيټه هم منډی پښې به ئی بهر وی

* په هر کار کې اختيار پکار ده

* په کار کې تدبير پکار ده

* پړی د اوږد اچولی خوخاشاک کم دی !

* په مات پان ولاړ ده

* پلمې ډیری دی

* په ورکړه کې نه ده په شکوند ره کیده

* په وعده وفاکوه

* په زړه پاک په خوله بې باک

* په بې برغولې دیگ کې هرڅوک څمڅه وهي

* په ړندو پشو موږک نیسي

* پخپله کونډه نازئی د پیغلی

* په اسمان ستوری نلری په ځمکه ښوری

* په آسمان ستوری نلری په ځمکه سیوری

* په بیل کې ئې مستې مایه کړی

* په روغ صورت داغونه مه ږده

* په ځگر کې ئې الف نشته

* په زخم مالگې دوړه وی

* په خوله کې ئې اوبه دی

* په قناعت کې عزت دی -په طمعه کې ذلت

* په ږیره پسی ئې بریت وسوزیدل

* په ماته کشتې سپور دی .

* په یوه ستر ګ ژاړي په بله خاندي
* پښبه بنې پښبه
* په خوړ کې کاڼي د یروي خو خبره په سیر پورې ده
* پیسه د زوی او ورور سر وهي
* په لنډو لارو مه ځه
* پټکی ول په ول تاوېږي
* پړی ول په ول تاو خوري
* په جنګ کې ګواښ رندي وهل کیږي
* په کور کې دې خاشاک نه وه چې تولـه زینه وړې او که ځنګه؟
* پټه خزانه ده
* پالتو خوراک د سپي خوراک
* پر تو ګ ستا دی...ل چا پکې وکړه ؟
* پارچاوي ژرندې ته ئي وار نیولی ده
* پردې غوزان نه په بډه کیږي
* پکې ته چا ویل چې واده دې ده دې ویل ګمان (یقین مې نشې
* په اتفاق کې برکت وي
* په بوسو (پروړو) کې اوبه مه تیره وه
* په تیاره کې امیل (هار) نه پییل کیږي
* په تا به ئي هم توپک ویشتلی وي

* په تا به هم مور سر ترلی وی
* په تنده ( تندی کې) د ولس بجی دی
* په ځنکندن کی توبه نه قبلیږی
* په خبرو پوری لکی مه جوړ وه
* پخپل نصیب صبر پکار ده
* په خره که کتابونه بار کړی نو ملا به نشی
* په خوله یوځه په زړه بل ځه
* په رڼا ورځ سترګی مه پټوه
* په زړه سترګه ئی ګوره شهباز خان دی
په پخوانی سترګه می ګوره
خیر دی که می نن جامی د ملنګی اغوستی دینه
* په خوله لا الله په زړه ګمراه
* په زړونو خدای عالم ده
* په شرعه کی شرم ندی پکار
* په غم د پاسه غم
* په کومه څانګه (ښاخ ) چې ناست یی هغه مه پریکوه
* په ...نه کی د ...ل وچ خبری د ارغوچ
* په لوی لاس غرق شو
* په ما به اوریږی په تا به وځاځی

* په مخ ئی د قبر خاوره دوریدلی ده
* پزی ئی تیغ وهلی ده
* په مړو دروغ ویل ښه ندی
* په ملنګ د چا قلنګ نه وی
* په میراث کی خو درنه نه یمه پاتی ( رسیدلی )
* په نن پسی سبا شته
* په ونه کی زه ایسار شوی یم او پیربابا ته یادوی
* په هیره روژه نه ماتیږی
* په یوه سپرغی، ټول ځنګل سوزی
* په یوه حال خدای پاک دی
* پشی تر هغه شیخه چې په وازده نه ده پیښه
* پنځه روپی نه لګیږی پنځویشت لګوی
* په الفافه کی غږیږی
* په یوه ډډه رغړی
* په چل کی ول ده
* پلار ئی لا پیدا نه زوی ئی په لښکر تللی وه
* په کور کی یو ډز دارو نلری - پلار ته وایی چې ما ته توپ واخله
* پخپل نظر نه زما په نظر ورته وګوره

* په لاس ئې ورکړه په پښو ئې واخله
* پته خوله بهتره ده
* په فلانی ئې چپه میچنی وګرځولی
* په کومه سترګه چې راته ګوری په هغه سترګه د رته ګورم
* په کوم کاڼی می چې تلی په هغه د تلم
* په پلمه جنګ غواړی
* په پلمه بند ده
* پوروړی ته ئې وویل ضامن د څوک ده ؟ ویل ئې ضامن می تور علی خان
* په تا به ئې هم لیتې خوړلی وی !
* په خرو سانګی نه وهلی کیږی
* په زوته -زوته مه غږیږه د راچووئې
* په هر تال کې ځنګیږی
* په یوه تناره کی یی سره پښې اچولی
* په شوروا مرور په غوښو پخلا
* پاچا ته پاچا یی نه پاته کیږی ګدا ته ګدائی
* پاچا به پاچائی کوی -ګدا به ګدائی کوی
* پخپله ځان مه ستایه پریږده چې نور د وستائی
* په دی دنیا کې څوک بی غمه نشته که وی سړی به نه وی

درین دنیا کسی بی غم ندیدم
اگر باشد بنی آدم نباشد

* په خبرو د چا خوله نه خوږیږي !
* په اور باندې خاشاک اچوی
* په اور باندې ازوغ اچوی
* پردی زامن چوبوی
* په ورکه مردکې پسې یې بله مردکې ورغړوله هغه هم ورکه شوه
* په جو، جومې د ښه نه شي ،ثومې خیټه مړه نه شي
* په کور کې خوهر سړی زمري وي
* په کور کې خوهر سړی توریالی وي
* په خبرو کې ئې مالګه نشته
* په خبرو کې ئې اثر نشته
* په رښتیاووستر ګی مه پټوه
* په روغو ستر ګو پټی، مه لګوه
* په ړندوستر ګو روان ده
* په زړه کې ئې شیطان ناست دی
* په سر کې ئې چنجی ښوریدلی دی
* په رڼا ورځ ئې په ستر ګو توره تیاره سی

* په سپینه رڼا ورځ دروغ وائی
* په بې اتفاقی کی په ګړیو کی هم اوبه وچیږی
* په تابه ئی هم ډولونه وهلی وی
* په شپه کی به څه شپه وی ؟
* په غلو غل وخوت
* په ماسړه توده تیره شوه
* په نس ښه ندی معلوم
* په زړه کی هوښیار دی ، په خوله د چا زړه نه بدوی
* په نه خوراک د نه یم شیر داد خانه ! زړه می چووی له بی تمیزۍ نه
* په ډیرو کی د یوه خوله کونه وی
* په اوو په نه د نه پوهیږم د مچ نقل در واچوم
* په لندولښتو اور نه بلیږی
* په وچه ځمکه شویندک وهی
* په لوړ کچ کیده
* په دغه خو می میتازی ندی کړی ؟
* په نا منلی ورځ پیدا دی
* په یوه زین دوه کونی نه ځایږی
* پلار ګنټلی زوی ته تو کی مسخری شوی

* پکی ورا د راغله گمان می نه سی
* پکه چا په ورانه پرېښوده دی د سر کجاوی غوښتی
* په باران پسی کاسی مه گرځوه
* په سپینو جامو د داغ مه ږده
* پلار د سپرو مړ که که پیاده وو ؟ پلار می مړ که که سپاره وه که پیاده
* په ناسته کونه خبری کوی
* پښې ئی وغزولی
* په کال کې دوه ورځې د آختر وی
* په غم د غمجنه شوم په سود د سودمنه نه شوم
* په ډانگ پیلی وائی
* په هر حال شکر بی له کفره
* په اتفاق خدای (ج) خوښ ده
* په لنده ځمکه دوړی باسی !
* په لندو غوښو اور نه بلږی ویل ئی ښه بلیږی خودو گ ئی څوک نه وینی
* په لندو غوښو اوربلیږی خودو گ ئی څوک نه وینی !
* پشی که له بامه راولویږی په څلورو دریږی
* فلانی په څلورو روان ده

* په منډه نه ده په تنډه ده

* پاچا د خولی نامرد ده

* پهلوان یو چل ځانته پټ ساتي

* په یوه ډله وریرو کې نورجان پروت خاورو ایروکې

* په شلو نولو کې یو دا دی

* په دی کې مې مه شمیره پدی کې مې په دوه شمیره

* په تیږه میخ نه ځی

* پک د نورو د سر علاج کاوه خپل ځینی هیر وه

* پردی ئی پور یستی بیګاه ته خپلی لندی ته پاتی وه

* په تمبلۍ کی چې ځومره ځان نیوروی ، هغومره کته ځی

* پک د خپل سرجوړ کړی بیاد د نورو علاج کوی

* په انسان کی عقل جوهر ده

* په پردی ... نه شرط مه تړه

* په وره پوری ولاړی د منی ورځې دغه وی چې د اولاړی

* په خوله ئی یود په زړه ئی بله

* په مړو کې سپی نشته ، په ژوندو کی میړنی نشته

* پښی ئی ګټلی سر ئی بائیلود

* په پټه خوله سخوند مه وهه

* په چا غم په چا ښادی په چائی تیتی شګری نیولی دینه

* په کال کې دوه آختره وي
* څه نونې لانده. څه ژرنده ګنده.

* څوک به د چا په خوله پاستی واچوی!

* څوک چه میلمه باسی جارو تری لاندی باسی.

* څوک چه په کار شرمیږی هغه په په کور هم شرمیږی.

* څنګه نیت هسی مراد.

* څوک چا په کلی نه پرېښود هغه ویل چه توره می د خان کره ځوړند کړی.

* څوک چه یو کلی په نامه لری یو خوی له نورو ښه لری.

* څوک چه له پیسو تیریږی هغه له سره هم تیریږی.

* څښه ئی غتیه دده او غواړی خیرات.

* څنګه تړه هسی کربوړی.

* څنګه مخ هسی څپیړه.

* څه ماهی ړانده څه او به خړی.

* څنګه ژرنده هسی یی دوړه.

* څنګه میاندی هسی لوڼه.

* څوک د په پنډه کی ګډوی که هسی لاس وینځی ؟

* څومره خولی هغومره خبری.

* څښتن سپی ته وویل او سپی لکی ته.

* څوک که ډیری پیسی لری سود به وکړی.

* څاڅکی به حال وائی.

* څه راوړه څه به یوسې.
* څې کوې چه نې کوې.
* څورې څه په څنګ څه په نس.
* څوک چه زحمت ونه ګالې راحت نه مومې.

# ح

* حاجت بلا وده که تیر خبر شي ، ځای د راتلووی ته ورله ورشي.
* حاجي په مکه کې لټوه ، چرسي په تکیه کې.
* حال د ویلو ندی ، ځای د ښودلو نه دی.
* حال منصور وایه چه سرئې په دار شو.
* حافظ که توري نه وي سپیني هم خوري.
* حلق په خپلو لاړو لوند دی.
* حلوا ، حلوا یادولو خوله نه خوږیږي.
* حساب په مشقال بخشش په خروار.
* حریص له دواړو خیراتو پاته وي.
* حق په حق دار ته رسیږي.
* حقیقت ویل ترخه دي.
* حوصیله هم یوه اندازه لري.
* حقیقت آخر خپل ځای نیسي.
* حرام چه د چا په کور ننوتلی وي حلال ئې هم ورسره تللی وي.
* حرام خواړه خواږه وي.

* حسد هسی نیکی خوری لکه بل اور چه لرگی خوری .
* حق په تا حق له تا .
* حق خپل ځای نیسی .
* حقی تیری دی نفلی زه نه نیسم .
* حیا دار حیا کوله بی حیا ویل له ماویریږی .
* حیوان قیمت په بار داری جگوی انسان ئی په کار داری .
* حیا چی له سترگو تویه شی نو بی حیا یی بولی .
* حکیم سړی هغه دی چه قدرت ئی ورسیږی او ظلم ونه کړی .
* حکیم سړی هغه دی چه قهر په تسکینی بدل کړی .
* حجره د جاروم شپه پکشی تیروم .
* حرام په حرامه لارځی .
* حرام مال د هیچا نه هضمیږی . (نه روزی کیږی) .
* حساب – حساب روری تر منځه .
* حصار گیدړ د زمری سره جنگ کوی .
* حق د څو دی ؟ څو د زور دی .
* حق نوم د خدای دی .
* حق خو حقی وی خدایه د نا حقو نه می وساتی .
* حقی روژی تیری دی – نفلی زه نه نیسم .
* حکومت سره حکمت پکار دی .

*حیوان چه بیکاره شی هم خوړل کیږی هم خرڅیږی.

*حق به حق دار ته رسیږی.

*حرام برکت نلری.

*حیله یا له لویو کورو کیږی یاله‌لویو غرو.

*حلالول -پخول.

*حاجت من د بنی سپک وی.

*حساب - کتاب به پەلوی لاهور کوو.

*حق می راکه حق د واخله.

*حرامه مړی په ستونی کی نښلی.

*حجره شته طالب ئی نشته.

*حماران خو تاسی یی چی کتابونه موویلی دی.

*حافظ ډیوه څه کوی.

*حال د ویلوندی ځای د ښودلوندی.

*حسد داسی نیکی خوری ،لکه بل اور چه لرگی خوری.

*حب د دنیا - سر دخطا.

*حیا نیم ایمان دی.

*حلال کړی چرگ دی که د سپی په خوله کی ئی ورکړی نو یوبه ئی سی.

# خ

*خانده خانده کور د ښه کور دی.
*خاوره ئی کیمیا ده.
*خائین خائف وی
*خبره له خبری پیدا کیږی.
*خپله لاسه گله لاسه.
*خبری هر څوک کوی خوله د ملا فاروق غواړی.
*خدای یی راکوی شیخ میرئی نه راکوی.
*خر سپی د لیو ورور دی.
*خوار می کړی د کس ندی نا کس.
*خپله پزه (پوزه) نشی پاکوی.
*خپل تغره سره دی پښی غزوه.
*خپل ته رښتیا بله ته لا پی.
*ختکی له ختکی رنگ اخلی.
*خوب چی ورشی بالښت نه غواړی زړه چی مین شی ښایست نه غواړی.
* خپل عیب د ولی منځ د بل عیب د کلی منځ.

*خپل عمل د لاری مل .

*خدای تعالی ویلی دی : ای بنده ستا حرکت زما برکت .

*خوریی ما ما ته ارمنی وی .

*خوښینه پخه مړی (ډوډی) ده .

*خپله پښه په تیشه وهی .

*خر په خندا څه پوهیږی .

*خره ته ئی و ویل چی کوتی د بختور شه وویل چه هر څر ک خپل بار وړی .

*خدای د داسی شر پیښ کړی چه زموږ پکی خیر وی .

*خر که په طلا وو بار کړی بیا هم هغه خر دی .

*خر کاری هم هنر غواړی .

*خر هغه خر دی کته یی بدله ده .

*خواښی د بړستنی لاندی مار دی .

*خوښینه د کباب لاندی ډوډی ده .

*خپل هډوکی ئی خولی ته ور اچولی .

*خبری ډیری سرئی یو .

*خپلی شیړی سره د پښی غزوه .

*خبره یی د تیږی (کاڼی) نوښته ده .

*خر په لار که مطلب پری بار کړه .

* خپله خوسا (ورانه) د بل ودانه .

* خپل مخ په آينه کې ورته معلوميږي .

* خداي تعالی ثوب ساز دی .

* خندا د ژوند مالگه ده .

* خوږلی خواږه زور لري .

* خوری ځنبي حساب نه مني .

* خانان ښه دي خانکي يې ښه نه وي .

* خانه خاني د مبارک شه .

* خاورو په ايرو واړول باد دواړه يوړي .

* خبره په خبرو خلاصيږي .

* خبری تا وکړی زړه زما سوړ سو .

* خپل ښايست د ځان بلا .

* خر په ......... پيژندی شي .

* خلک پيسي راوړي ژاولن ريچي .

* خلک هر څه کوي هر څه نه وائي ،

* خوارد شي مکاري هم جنگ کوي هم ژاړي .

* خوار دلته هم خوار په هندوستان هم خوار .

* خوارد کړي هغه مينځه چه د مينځي مخ ورمينځي .

* خونه که مي وسود ديوالونه مي پاخه شول .

خویندی مړی شوی چه پاته ترلی شوی .

* خرس یاد کړه ډانگ واخله .

* خپله غوښه کش کړه د هر چا داسی غوږیږی .

* خر وتړی په پړی دا گیت وهی په کلی .

* خر اړه له یوه گذاره ولاړه .

* خپل ځان په هر چا گران ده .

* خاموشی لوی کمال دی .

* خان خفه بی بی خوشحاله .

* خانده - خانده کور د ښه کور دی .

* خانده خوشحالیږه ، اچوه تاویږه .

* خانه ! ستا د خیره می توبه خو سپی د رانه کوری که .

* خان ئی په زور خوری ، ملا ئی په سوال .

* خاوری یو خاوری به شو .

* خاوند نوم د خدای ده .

* خبره خوله کی شخوند کړه بیا ئی اوباسه .

* خبره لاړه ډندوره شوه .

* خبره لږه عمل ډیر .

* خبری لږی عمل زیات .

* خبری اسانی دی ، تلل ئی گران دی .

* خبری ډیری سرئی یو .

* خبری ښی کوی لکی ړئی کړی کوی .

* خپل به ازار شی بیزار به نشی .

* خپل به سره خپل شی چغلگر خوله به ..... شی .

* خپل پر تنگسه کی پکاریږی .

* خپل په بر غولی ښه وی .

* خپل خپل ، پردی په ډیرو نارو خپل .

* خپل د هغه دی چه سبا بیگاه د مخ وینی .

* خپل سر پخپله نه خریئل کیږی .

* خپل عزت پخپل لاس کی دی .

* خپل عقل او پردی دولت هر چا ته ښه ښکاری .

* خپل غولی خچن د بل جارو .

* خپل گور هر چا ته تنگ ښکاری .

* خپل مخ خپله وینځل پکار دی .

* خپلوانتوب د دواړو طرفو نه جوړیږی .

* خپلوی له دواړو طرفه کیږی .

* خپله پښه خپله پڼه (کپی) پیژنی .

* خپله ډنگوی د بل نه اوری .

* خپله زمکه په سر گتیه ، د بل هغه په هنر گتیه .

* خپل هغه دی چه په تنگسیا کی پکار راشي .

* خپله لار شړه د بل سودا مه وړه ، خپله لار وهه د بل غم مکوه.

* خپله لاسه گله لاسه .

* خپلې پښې پخپله په تبر وهل .

* خپله وطنه ، گله وطنه ! .

* خپلې خولې وهلې شپاړس .

* خدای په رښتیا خوشحالیږی .

* خدای خبر چه سبا څه کیږی .

* خدای د حق ملگری دی .

* خدای د ښځې لری فرض روژی پرېږدی بیا شیشتی لری .

* خدای راکړی ورغ ده نه گورم اسمان ته چه شین دی که وریځ ده .

* خدای یو دی مالگی یی تر وی دی .

* خرابه ښځه د بل ده .

* خراړی د وارده سره لاړی .

* خر پر ځای حیران وو خاوند ئې پر بار حیران وو ه .

* خر پوهیږی کلال پوهیږی .

* خر په بار پوری اریان دی بادار په دواړو پوری .

* خر په جرمست دی .

* خر په زین آس کیدی نشي .

* خر په سبا څه خبر .
* خر په طواف نه حاجی کیږی .
* خر په وهلو نه آس کیږی .
* خر د ته دی خدای شکر نه ورکوی که ورئی کړل د غوایو نسونه به څیری کړی .
* خر د ته د ډیران سر تخت ښکاری .
* خر د ته ئی گلو نه کیشودل نو هغه او خوړل آس ته یی چه کیشودل هغه بوئین کړل .
* خر چه زمری وويني نو سترگی پټی کړی او وائی چه ما نه ويني .
* خر چه تر مکی بوزی هغه خر دی .
* خر چه له بارد ووزی له ټیزونو نه ووځی .
* خر چه لټ شی خپله کته هم نه وړی .
* خر څه شکر خونه کوی .
* خر خپل او پردی فصل نه پیژنی .
* خر خود سوټی لائق دی .
* خر د فقیر مړ شو او وران پری د کلی سپی شول .
* خر د گلانو په قدر څه پوهیږی .
* خر شکر غواړی او پشو وزر غواړی .
* خر که مری نو بار به وړی .

* خر ما او ثواب دواړه .

* خر مردار او ناغه یی مرداره .

* خر مړ کیدد نه ، گیدړ تری    ته نه .

* خر مړ کیدد نه ، سپی مړیدل نه .

* خر مه تړه د سرو بریشمو (ابریشمو) په پړی ، اصل ئی کم اصل دی په خاوروکی به رغړی .

* خر ندی قچر دی پری پوری د خره سر دی .

* خر وار د موتی نه معلومیږی .

* خرو سرد تر سیری (تیرسری) خوندنه کوی .

* خره ورسک د سپین شو او د ځښتن کور دونه پیژاند .

* خری موری خوږی موری .

* خر ئی گلو ته کش کاود د غولو ته منډی (ځفاستی) وهلی .

* خړه مرغی تبوله خراږه وی .

* خس چه سپک گنی په سترگه کی په پریوزی .

* خلق ژاړی خو پیغله خاندی .

* خلوص من (اخلاص مند) خدای خلوصوی (خلاصوی).

* خوار په خپله خواری نه شرمیږی .

* خوار په نس موړ شی نو پښی اسمان ته اونیسی .

* خوار چه موړ شی اسمان په تیزونو ولی .

*خوار خدای کړی بې غیرته چا کړی .

*خوار د ارزان په هیله په یو وار دوه جامې زړه وی .

*خوار سپائی پخپله ځان ستائی .

*خوار سړی ابلق (برګ) ئې سپی .

*خوار شوم نو هوشیار شوم .

*خوار سړی نه موندله چه اوئې موندله نو ویل ئې دا دولس ګزه ندده .

*خوار کبرجن زوړ زنا کار خدای نه بخشی .

*خوار کور له دیواله معلومیږی .

*خوار کلی خوار لری ، خوار ئې غنم خوار ئې لوګری .

*خوراک د اوربشې کوی پسکې دلوانګې اچوی .

*خوارو لیدلی نه ووه پیزوانونه ، اوس ئې واچول لړی لړی تیکونه .

*خوارډ ایله (هیله) به د خوارکه .

*خوارډ خواری د خرو د خاوندانو دی .

*خوارډ خواری شوه د مژکانو پاچاهی شوه .

*خوارډ زډ په خوار کلی واده وم .

*خوارډ شی ونیځی چه د ونیځی کونه ونیځی .

*خواری به ما وکړه د کندو میرمن ته شوی .

*خواری د چا اوبه نه وړی .

*خواری د چا خدای نه عبث کوی .

* خواری د میړو په شادده .
* خواری نه عیبېږد نه پیغور .
* خواری نا دیدی دروازی چه ولیدی .
* خواری ورکی شولی او چینگی ملکی شولی . ○
* خوارد غوړی وی بد نام سړی وی .
* خواست ته چه درومی هډوکی به مومی .
* خواست چه کوی د آس کود .
* خواښی په زوم رېږدی چه زوم به ئی لور ورپرېږدی .
* خوب په روغ صورت کیږی .
* خوب درځی ځه بریځر دی کړی .
* خوب چه کوی خوب به وینی .
* خور–خور (خوار–خوار) لری ، د خدای زور پری سور لری .
* خور–لور چانده ساتلی .
* خور می د شی مورمی دشی خو ما د خدای ساتی . (خورمی کی مور می کی ما اوساتی)
* خور می خور خورزه می د زړه تکور .
* خورندویه ښه دد که ساتندویه ؟
* خور او لور په کور کړه کړه د بیائی په غر لیږد
* خورد ، ځنبه حساب کتاب مه منه

* خوره (خوارد) یم خو داسی نه یم چه میسوفرو (مسافرو) څویری پتوم
* خور! څه رنگه چی د تنگ دی د غسی می تنگ دی (خوری څنگه چه د دی د غسی می دی)
* خوری، لوری تخت د رته غواړم بخت د خپل دی
* خوریی د ماما د مینی دښمن دی
* خوړل، خوړل دی، نغړل نغړل دی
* خوړلی خولی خواړه غواړی
* خوړلی خواړه زور غواړی
* خوږ به د کړم نو نه تر ځانه
* خوږه خوله ښار خوړلی شی
* خوشی خواری د لور په لمسی
* خوله په غاښو ښایسته وی
* خوله په غاښو، پلار په اولاد او مشر په قام شایسته وی
* خوله په میزو مه آموخته کوه
* خوله چه آموخته شی آس نده چه قیز د شی
* خوله په ډیر خبرو او کونه په ډیرو پسکو مه عادتوه
* خوله خوری ستر گی شرمیږی
* خوله ئی د سوی د د شخوند د اوښ وهی

* خوږندې مېږې شوې چه پاتې ترلې شوې
* خیال په بربنډه کو نه نشي
* خیال هم خوارې غواړي
* خیرات کوه د بلا د مخه
* خیرات پخپل اقرابات
* خیرات اول په خپل اقربا کیږي
* خیر راوړې بد ولاړیم
* خیر راوړې بې ځایه ځای ولاړیم
* خیښې په خوشي سودا په رضا
* خپل اوږه د سارد ته ګورد
* خدای تعالی هیچانده لیدلی په قدرتونو ئې پیژني
* خدای تعالی شاهد (حاضر حضورده) ده
* خدای تعالی غفور رحیم ده
* خدای تعالی غفور رحیم ده خو یو نوم ئې قهار ده
* خدای تعالی هم له سپین ږیرو نه حیا کړي
* خدا تعالی چه خوله راکړي روزي به هم را کوي
* خر په مالګه څه پوهیږي
* خوله او غوږ سرد نژدې دي
* خدای تعالی د بنده روزي رسان دي

*خر چه له خرد وروسته پاتې شي غوږونه او لکۍ ئې د پریکولو وي

*خواشی د بوریا لاندې لمبه ده

*خندا د ژوند مالګه ده

*خاموشي د رضا علامه ده

*خرد ته رنګه عینکې اچوي

*خر ختلې په لکۍ بند دی

*خپل یاسین تیزه وي

*خبره د په ګلاب بدله

*خرای ته هی کو مابه عضب ملا نیکنام ګرفتار شدم

*خوارد خواری د شبک د غلو دی

*خدای مړ کړی په قربانی کې حسابوي

*خپل کار په بل مه اچوه

*خوار د هر هر جای بی بی یو یو جای

*خبرې ئې فیل نسی وړی په کور کې ګرد اوړد نسته

*خان یاد خان نوکر

*خبره د نه ده د اوښ پسکې ده

*خپل خپل وي پردی پردی وي

*خپل غول ځای ته رسول پکار دی

*خپل مړی سر ته رسول پکار دی

* خدای په عبادت راضي کیږي بنیادم په خدمت
* خدای د چا زحمت بې ځایه نه بوزي
* خدای د ناحقه بلا نه وساته
* خدای د لوی که خو زمانه نه
* خرې ته گورد په صحرا شپې ته گورد
* خوار د چه مړ د شي ، مړ د شي
* خوار د خواري د خرو د خاوندانو دي
* خورم دا میړ د ژاړم بل میړ د
* خیر خو د په خیر شه خو دا سپې دې رانه کوري کړ د
* خوار خدای کړی خو مانه (گیله) له چا کړي ؟
* خپل کړي په بل مه تپه
* خدای حق دی مرگ حق دی
* خدای د د هر چا خپل لاړې دارو کړي
* خندا د نه د د سم گلونه نولي
* خپله خبرد اوري د بل نه اوري
* خدای تعالی په خپلو کارو ښه پوهیږي
* خوار ته خوارد کې مه وایه تربور ته تربورگې مه وایه
* خدای د ښاد کړ د که په زوي وي که په لور وي
* خدای د چه ښاد نکړي نو بنده به دې څه ښاد کړي

*خروړی سپی لوټه په خوله نیسی

*خر په طواف څه پوهیږی

*خبر د غوائی په شکر کیده

*خانه ! په تا به ډزا وی موږ به نه یو

*خبری خو په بیه ندی

*خره ته چه وای ودریږه نو نه دریږی چه ورته وائی (هوش) نو ودریږی

*خپله ورانه د بل ودانه

*خبری ډیری کوی خوشش پولی گټه ئی نسته

*خدای یو ده پیغمبران ئی په حقه دی

*خبری ته پر توگ مه اغونده

*خدای ئی ورکوی خو د ،،، ئی له شکیدو سرد

*خدای ورکړی سره سیالی مکوه

خدا داداگـــان را سیـالی مکن

خدا دادا گان را خدا داده است

*خدای ئی سی چا ته ورکوی نه شپه غواړی نه ورځ

*خدای ئی سی چا ته ورکوی نه ښه رنگی غواړی نه بد رنگی

*خدای ئی سی چا ته ورکوی د اسی نه وائی چه ته څوک یی

* خره را لاندی ډیتی کړی ما پښی پی تینگی کړی

*خبرد له اوله سپینه ښه ده

*خوار سی مړ سی څوک ئې جنازې ته هم نه ورځي

*خوارد به د غوا ړم نه د وروړ له مرگه

*خر خو هغه خر دی خو کته ئې بدله ده

*خرد چه بیکارد شي یو د بل ډډې گروی

*خوری روټه تیز د پلاو اچوی

*خپله مړې د بل په دستړخوان کیده

*خوله دده په کولمه ده

*خبره که نه تیریږی ، ځان ورته پل که

*خدای په یوه حال د د نه بنده

*خندی د غاړې غړوندی دی

*خوسکې د میږوی په زور غورځي

*خرورک وه د بار په وخت کې پیداسه ، ویل یې : دی ته ورک نه وایی

*خړه ته د ماله خوائې اوکه د لیود

*خوار به هلته سی چه اعتبار د ختم سی

*خوراک په خوله خوړل کیږی ، وطن په سترگو لیدل کیږی ، انسان په صبر مړیږی

*خپل ، خپل ته ورځي

*خدای یې سې چاته پیښه کړي ، ځان د ورته میښه کړي

*خوار هر چرته خوار دی

*خوارد خواری د خوست دغو بنودی

*خیر خو د په خیر سه ، خو تپول کړي د را چه توئی کړه

*خوله په سوال بده ښکاریږي

*خر پریږده لعنت پې کیږده

*خراو آس چا په یوه آخوره ندی تړلي

*خپل ښه راته بلا سوه

*خوار چه خدای ښه ساتی هلته یې نه ساتی

*خر چه مړ شي په سپو آختر شي

*خرکا فرد لرگی ئی پیردی

*خدای چې چا ته ورکوی نه شپه غواړي نه ورځ

*خانی بې ډنگه ډونگه نه کیږي

*خړي (خړ سپي) چه غریږي څه به ئی لیدلي وي.

*خشاک مې خشاک وسو او سبو (سابه) مې خوږ ونه خوړ.

*خوار چه له ژوري تیر شي بیا ئی څه ډار دی.

*خوارده – خوارده به د رته وایي و ژور ته به د بیائی.

*خوره وروره د ستر گو توره د دوزخ له اوره د ښمن له زوره.

*قرضه پوره د خدای وساته.

* خیرات اول په خپله اقربا دی.
* خوشی اشنائی د نیا او د لمسی (لمسی)
* خورد – خورد آس به د وړی.
* خورد خورد زور به د ځمکه اخلی.
* خوری زوزان باد پری مهربان.
* خلک ژاړی پیغله خاندی.
* خپل خپل پردی په ډیرو نارو خپل.
* خانی بی تره بی پرد نه کیږی.
* خرد ته ئی زور نه رسیدو کتی ته ئی ډبلی وښو کل.
* چه خبر د افغانی کوی نی پلار کوی نی ادی کوی.
* خپل د که مړ کړی ولړ ته دی نه غور ځوی.
* خپله لاسه – گله لاسه.
* خر په اته کوتی په شپیته.
* خر په وهلو نه آس کیږی.
* خر په سبا څه خبر.
* خر ندی کچر دی په پوری د خرد سر دی..۹۹۹۹۹۹۹......۹
* خوله په غاښو ښایسته وی.
* خپله خوله په بل نه وچیږی.

* خدای سړلی نه سمیږی.
خپله ..... رامه کی په ما پسی بلا مه کی.
* خوار خپله خواری نه زاړی سر د څخوړی غواړی.
* خدای د رکړه - میړو د رکړه - ډینګو زیارتو د رکړه.
* خدایه (ج) لوی می کړی لویی رامه کړی.
* خر ختلی په لکی بند دی.
* خیشتک له ..... سر د په جنګ اچوی.
* خدایدادخان پوهیږی خدای پوهیږی.
* خر د خوید په خوراک څه پوهیږی.
* خولی یی په خیرات کی شپول وهلی ود.
* خوی د سړی راکی صبر د سپی.
* خاوند نوم د خدای دی.
* خپل نه پردی کیږی.
* خدای چا لیدلی نه دی په قدرتو ئی پیژنی.
* خدای چه مهربان شی نو بنده نده چه پښیمان شی.
* خاوری یو خاوری به شو.
* خبره زده ګړه بیا ئی وکړه.
* خپل خر تړلی ښه دی که غل د اشنا هم وی.
* خپل هغه دی چه په تنګسیا کی د پکار راشی.

* خپله برخه آسمان نه وینی.
* خپله برخه اسمان نلری.
* خپله پیره لاس راکړه.
* خپله ډنګوی د بل نه اوری.
* خپله ډوډی په پردی ښکا ره کښی دی.
* خپله غوایه په لوړه خیژه چه څوک څه رنګ کړی هغسی ته کړه.
* خپله غوښه وڅکونده دبل دا هم دغه شان خوږیږی.
* خدای به وی یاران به نه وی.
* خدای د صبرناکو مل دی.
* خدای د ناروا مل نه دی.
* خدای د هیڅوک داسی نه کاچه خپله درنه کا د بل سپکه.
* خدای مل کړه کار پیبیل کړه.
* خدایه! زور راکړی کبر رامه کړی.
* خدایه! دومرد تنګسیا راولی چه دوست او دښمن وپیژنم.
* خدای یو دی روزی یی ډیری دی.
* خدایه! لوی می کړی لویی رامکړی.
* خدایه‌لویه! ما وساتی له بده زویه.

* خدمت عظمت دی.
* خر چه لټ شی خپله کته هم نه وړی.
* خر شکر غواړی او پیشو وزر غواړی.
* خر ندی قچر دی پری پوری د خره سر دی.
* خرو ته گورد په ډیران شپو ته گورد.
* خره ورسک د سپین شوا و د ښبتن کوردونه پیژاند.
* خره همیشه په بی طمعی ځای کی ولاړوی.
* خرئی په رشی پوری وتړلو نو ورته وایی چه مه خورد.
* خری موری خوری موری.
* خوله یی په اوگرد سوی ود او زگروی یی د ځنکدن کاود.
* خوار او مردار لری خبرد دد.
* خوارد خوله او څربی خبری.
* خواری نا دیدی دروازی د ولیدی.
* خواړد هغه خوری چه خدای پری خوړلی وی نه چه خوله یی لویه وی.
* خوری! څه رنگ چه د (زړو) چاود دی دغسی می (زړد) چاود دی.
* خوږ په نیت کوږ.
* خوی له اصله دی تاثیر له مجلسه دی.

* خیال هم خواري غواړي.

* خیراتونه مصیبتونه ژغوري.

* خیښي په خوښي سودا په رضا.

* خیښي په خوښي سورلي په رضا.

* خبري ښي کوي خو زمونږ کلي ملا نه نیسي.

* خوږ کښې هر کاني سیر نه وي.

* خان چي مړ شي نو هم په خیته کښې ئې یو مشک اوبه وي.

* خپل مخ په شیشه کښې ویني.

* خواري دچا اوبه نه وړي.

* خوار خپله خواري نه زاړي سر د څخوري غواړي.

# د

* د دروغو منزل لنډ وی.

*د ښو غوښو ښه شوروا وی.

*د لوگری چې لوته رضا نه وی لور په لوته تیرد وی

*د خوار ملا په اذان څوک روژه هم نه ماتوی.

*د پشی منډه ترتاکی وی.

*د ژمی په گرمی او د دښمن په خنده مه غولیږد.

*د اوښ په پچه وخته کشمیرئی ولید.

*دهغه پلار نه دا زوی.

*د سرکار له کورد چه تیل راووزی لمن ورته نیسه.

* د سر نا چی څه ځی ؟ پف.

*د خرد ثته غیم د ښځی گته.

*د هغه غرد سوی دهغه غرد تازی نیسی.

*د یود لاسه تک نه خیږی.

*د سړی د پارد یود خبرد دد.

*دومرد پود شوم چی هیڅ نه پوهیږم!

*د اولاد لویول د شهر آبادول دی.

* د تروو مچ دی.
* د پلالی اور تر درمنده وی.
* دخپل بام واوری د نورو په بامو اچوی.
* د توری زخم جوړیږی د ژبی زخم نه جوړیږی.
* د غله په ږیره خله کی.
* دواړه پښې په یوه موزه کی کړیدی.
* د الله دربار لوی دی.
* دلاس پنځه گوتی سره برابری نه دی.
* د زور اوبه مخ په پورته (مخ په جگ) ځی.
* د ظلم چراغ تر سهاره نلگیږی.
* د غوایی په شان زړی کنجاړی په خوب وینی.
* د یابو له شاه اود ... حب له مخی مه تیریږه.
* د حریص کاسه چپه ده.
* د زرو قدر له زرگر سره وی.
* د شپی هر څوک ډاریږی څوک حال وائی، څوک ئی نه وایی.
* د شپی که چا لاس تیټ کړ ارمان به وکړی او که تیټ یی نکړ هم ارمان به وکړی.
* دوچوله امله (پیله) لانده سوزی.
* د گور شپه نه په کور کیږی.

*د کبر کاسه نسکور ده .

*دیوال چاک لري ، چاک موږک لري موږک غوږ لري.

*د لویانو ویل دځوانانو کول.

*د خرد مینه لغته ده .

*د وزې هرد ورغ وتلی وی د مېږي چې یوه ورغ ووزي پوري خاندي .

*دروغجن یاد (حافظه ) نلري.

*د سر کار روپې درد لري خو مرگ نلري.

*د صبر میوه په مراد پخېږي.

*د ذکات په پیسو بچه بازي نکېږي .

*د هندو له کوره قرآن راووت.!

*د هیلې بچې ته لامبو ښي.!

*داسې دروغ وائې په رښتیاودبلا وگرځي .

*دبازانوخوراک غوښه ده .

*دصبر کاسه ډکه ده .

*دکوهې لوته سې راجوړ نشوي بیا دخدای راجوړ مکړه .

*دوستې زرکلنه ده .

*دوست نوم دخدای (ج) دی .

*د لستوني مار دی.

* د سپو کور په کور بدی ده خوار فقیر ته یې یوه ده.
* د پلار خاطر چې نه کوی نو دستا به څه وکړی.
* د خلکو پرده وکړه چې الله ستا پرده وکړی.
* د پردی شاته بله پرده ده.
* د کور له مخې ئې سپی په منډه تیرېږی.
* د صراف تر مخ کلپی چلوی!
* د کوچنی سره ښه مکوه هیر به ئی شی د زاړه سره ښه مکوه مړ به شی.
* درد لری مرګ نلری.
* د پچنوزغی ګاتی ده چیری چی ولویده هلته ولویده.
* د ریم ګړی د خیروی.
* د ځان ساتل فرض دی.
* د عمل جزا حق دی.
* د کورتو جزا ګرمی اوبه دی.
* د بی پیره جواب لا مذهبه ده
* د دووخرودانه (اوربشی) نشی جلا کولی.
* د ټولو کارونو جوړونکی الله دی.
* د خپل ځان ډاکتر واوسه.
* دوه پک هغه په کلی ورک.

* د نريا ترپ دد يا ئې خرپ دد .

* په خوند يې نه يم په خرپ يې يم .

* د هرچا دخدای خپلې لاړې دارو کړي.

* د ظلم کور اخير خراب دی.

* د سړی گټې نه تود تاوان ښه دی.

* د کور زمری نه دصحرا گيدړ ښه دد.

* دښمن مړ کړه مخ ئې پټ کړه .

* دښمن مړ که غيبت ئې مه کړه .

* د هر فرعون په سر موسی شته .

* دگوډی لار په ژرندد دد .

* د غنمولار په ژرنده دد .

* دميلمه جواب پياتې دی .

* دنن کار سبا ته مه پريږدد .

* دمچ په .... ډبيلې منډی .!

* دکورگټه دلاهور گټه .

* دټولو نيمه نيمه د آبا يود نيمه .

* دروغ چا ته په ميراث ندی پاتې .

* دخرد لکۍ دد که له پورته کچې او يا له کښته يو لويشت دد .

* د ليود لکۍ ئې په لاس کې نيولې دد .

( نه ئې تکیه کوې شې نه یې پرېښودې شې )

* د نیا په امید خوړه کیږي.

* دود پښې یې خپلې دود یې پردې کړي.

* دوست به دې وژړوي دښمن به د وخندوي.

* د میږونو راز خوندې وي.

* د موږ ک لار په کندو دې.

* دورځې ملنګ د شپې پلنګ.

* دومرد مې ووهه څومرد چې د په ځان لوریږي.

* دود به سرد جوړشي د شیطان مخ به پکې تور شي.

* دواړه غاړې خورې.!

* د قارون دنیا دد.!

* دشګو بند دی.!

* دحمام لنګ دی.!

* د نن غم کوې د سبا نه.

* د لیونې نه مه څه غواړ د مه څه ورکوه.

* د ګورت بیډی دد.!

* د زورور سرد یاری دخرد سواری دد.

* د چرګ د غوښې نه شورواتیزد دد.!

* د ګاونډي لور څښنه وي.

* د بل د پلاونه خپله وچه مړۍ ښه دد .
* د ډول غږ له لرې ښه ځي .
* د ګيدړې قباله دد .
* د هندو قبرچا ليدلی ؟
* د بخيل قبر تنګ وي.
* دومره کوه چې ځان خوار کړې دومره مکوه چې کلي خوار کړي.
* د لندو ختو لړ اوبه حاجت وي.
* د غاښ د درد علاج ښکن دی .
* د سلو کالو موږ ورېږی نه د سلو کالو وږی مړېږی نه .
* د لاس غوټه په خوله مه وازه وه .
* دا ګز دا ميدان .
* د ګور خاوري په ګور تماميږي.
* د موږک غوندې غار لټوي .
* د خير په غونډې ناست دد .
* د ځان دښمن دی .
* د سورنجی په مخ کی نارنج مه خورد .
* د روند کينی سپک جګيږي .
* د هر کار بناء (شروع) سخته دد .

* د مرور پزه چاړه نه خوري.
* د خلکو وني په کال کې يو واري ميوه کوي زما وني په کال کې دوه واري ميوه وکړه.
* د يوې سپږې لپاره تول پوستين په اور اچوي.
* د ښځې عقل په پنده کيده.
* د پلار وظيفه زوی ته پاتې شوه.
* د سپي غږ د آبادي په معنى دی.
* د سپو له خواري گيدړې په باموگرځې.
* د مړي خيتې خبري دي.
* د پر دوکورنو اوسپني چړي دي سې چاوخوړي دهغو دي.
* د ليوه زوی ليوه ده.
* د بې بخته په حلوا کې غاښ ماتيږي.
* د تلې سر ته گوري.
* د سرپيمانې د هرچاه کې دي.
* د وزي ...نه چې خارښت وکړي د شپانه پتيره وخوري.
* د پياز سريې که يې بيخ.؟
* د ښځو جنگ د ميړونو قتل دی.
* د سيال خواړه يا پور دي يا پيغور.
* د لاري په سرمه کښينه.

*د اوبو پیسی اوبو ته د شیدو پیسی شیدو ته .

*د چرگی په بهانه ولاړ د د کور میرمن شود .

*دهری ماتی شا ته کامیابی شته .

*د لوی توپ د پارد یو قدم شا ته تلل وی.

*د یو د شرم د پارد شل شرمونه اخلی.

*دلرمخ ته ډیو د ښودل دی.

*د تبر خوله لمخې نیولی دد .

*د لاندو به څه لاند شی.

*د کور پیغله پیڅړ د وی .

*د نرګونَه په بدل دد .

*دوړی په سړی هم کار کیږی.

*د خپلو نه پردی ښه د پردیو نه اپریدی.

*د زړه چوتې ئی مهر شود .

*د نیا په ( ۱۹ ) نولس ولاړ دد نه شل کیږی.

*د چنگو ښو من نه پورد کیږی.

*د مچیو په غار کی لاس مه وهه.

*د ښځی له مکره څلویشت اوښان بار شوی . ( باریږی )

*د ملنگ یو کیند دی بل ئی کچکول .

*د مړی او ژوندی پرده مو دد .

*دا یه له موره مهربانه شوه !

*دروغ خود چا د پلارمیراث ندی .

*د بد ه زړه خوهم ند ه مړ .

*د دنیا کارونه واړه په توکل شي .

*دري شلي اوشپیته یوشي دی.

*د سلو سل لاري وی.

*دښمن چې دوست کړی دوست د غلیم شي.

*دښمن چې دوست کړی دوست دغلیم شي.

*دښمن دکه ماشي وی تا بیا ورته د زمري کوه .

*دمړی نه... نه غواړی.

*د میړونو راز پټ وی.

*د بد سړی خبری هم بدی وی .

*دغریب سړی به د خیرات په ورځ په نس درد وی .

*دمړی اختیار د ژوندو په لاس دی .

*د ظلم کور وران دی .

*میړوی دلته وهی د وړی هلته خیږی .

*د ملا منډه تر جماعت پوری د ه .

*د مرگی اوښ به دهر چا د دروازی مخی ته چو (گونډ ووهی) کیږی .

*دا هم تیر یږی
*د هغه چا نه وداړ شه چی له خدایه نه ډاریږی.
*د بخیل گور تنگ وی .
*د سلو کاغانو یو د لوټه دارو ده .
*دومره پور ته که چې زور ئی لری .
*د مړی سره چا شرکت نده کړی.
*دا اخلی که دا ؟ اوس به د خانانو پشو راشی نه به داوی نه به دا .
*د ابا د مرگه پس په آدی راغی هوس .
*د آبې دغونه ( دومره ) اوگره وه چې په ختېلو تمامه شوه .
*دا خو د خرد لکی ده له کوم لوری چې کچ کوی لویشت دد .
*دا د لکې ښاخکی دی تهولو ته به ورسیږی .
*د آدی دومره غوړی وه چې په سر تمام شول.
*دادیرکم (درکړم ) که دا ! اوس بو ( به ) بی بی روشی (راشی) نه بو ( به ) دادیرکی (درکړی ) نه دا.
*دا دی لا بله ملاگله !
*دارتې کو زړی دی تش کوزیږی د ک راخیږی.
*دا زما ، دا زما دا هم زما !
* د آس کیزه چا ته مه ورکوه .
*داسی ممیز ( مویز ) نشته چې خلی پوری نشته .

*داسې مه وایه چې لږ یم ډېر به نشم، او یا ډېر یم لږ به نشم.

*داسې ونه نشته چې باد نه وې شورولې (خوزولې)

*داسې مه وایه چې زه یم داسې به شې لکه چې زه یم.

*دا مانې دچا ده؟ دتوکلیانو دا ځلې دچا دی؟ دا هم دتوکلیانو !! دامزرې (زمرې) په غارکې دا مزرې بچې پراته دي.

*دا مې سمنډوله برخه مې لا نورده.

*دانصاف مور مړه ده.

*د املوکو په تول کې که گونګټ درشي نو سترگې پرې پټې کړه.

*د اوبو لار د ژرندې په وتې ده.

*د اور په رڼا مه ځه د سپي په غپا مه ځه.

*دا وړې نه شړې کیږي.

*د اوښانو غلا په پټه نه کیږي.

*د اولس زور د خدای زور.

*د باچا زوی ته چا ویل چې قحط دی خلق د لوږې مرې ویل ئې غوړې وریجې ولې نه خوري.

*د پاچا د لورد بارانه په ځاځکو وجود دغمې کیږي.

*د باز په ځاله کې باز زیږي (دباز د ځالي نه د باز بچې الوزي).

*دباز عمر لنډ وي.

*دباهره راغله د کورد ئې اوشاړه.

* د بخشلي آس غاښونه مه ګورد .
* د بد سره چې ښه کړې لکه خره ته چې واښه کړې.
* د بدو په کار کې او د مارانو په غار کې لاس مه وهه .
* د بدې خبرې سل کاله عمر وي.
* دبدې خولې دارو سوک دی .
* دبزرګانو دیګ په وار پخيږي.
* د بزې (وزې ) تل اونه وه ،د ګډې یوځل او نه شوه ، پیغور ئې وركړو.
* دبزې ځان ارمان دی ، د قصاب غوښه .
* د بزې چې بدن کاوکې ، دشپانه ډوډۍ وخوري.
* د بل په پرتاګه ځان نه پټيږي.
* د بل په مړي نه دی خپل یاسین تیزوی.
* د بل تر ځوی خپله پکه لور ښه دد .
* د بل تر اطلسه خپله خامتا ښه دد .
* د بل حیا د ځان حیا .
* د بل کور د رڼا نه د خپل کور تیارد ښه دد .
* د بل ډوډۍ یا پور دد یا پیغور دد .
* د بل غم نیم آختر دی.
* د بل کار که ښه وکړې لاس به تورکړې که د بدو که مخ به

تور کړي.

*د بنګړو بارئې زه د ترم ته ورانیږي.

*د بنګړو بارئې په بهانه ماتیږي

*د بنګړو بارئې کلک د ترلي نه شم سست تنګیږي نه.

*د بوډی نه سپي ډوډی یوړه، ویل ئې د خدای په نامه د وی.

*د بی عقلی ښځې تل خپل کمیس سوزي.

*د بی غیرته ثاروی منډه تر آخورد وی.

*د بی صبرو د خدای رنګ ورک کړي، ماته ئې په دی زمکه را واچوه.

*د بیګا وی د سبائی نه وی.

*د بی وفا یاری د خره سورلي دی.

*د پاخه استاذ دیګ ورو ورو پخیږي.

*د پاخه سړي پاخه کارونه وی.

*د پردی آس نه خپل ټټو ښه دی

*د پردی خیراته چې سپی شړي سپی به د خوري.

*د پردی تور سری ښه غواړه د خپلی تور سری د پاره.

*د پښی په دکان که ونه سوزیږي بخرکی خوبه د ر الوزي.

*د پښتانه بدی د سری او ر ده.

*د پښتو کانې په اوبو کی نه ورستیږي.

* د پلار آشنا د زوی کاکا .
* د پلار میله دلوګی کړه چرسی شوی.
* د پلار مې خور نه يي زما به څه تروړشي.
* د پولي پړق (تک ) ته ناست دی .
* د پير بريره وه په تبرک کې ولاړه .
* د پیغلې سل مخه بخخه کې دی.
* د پنځمې ( پنځو ) درمند خرې (خرو ) خواړلی دی.
* د تالندې چې دربی شي دشپا نه ورته غرمبی شي.
* د تربور غاښ په تربور ماتیږي.
* د ترمچې څه دی يوپو دی !
* د تو، ( ستا ) دغه عادت وی د مو ( زما )الندی کوتک وی
اخير به سره کښیوزو.
* د چا په خوله څوک لاس نه شی ایښودلی.
* د چا په خوله څوک پاستي نه شي اچولی.
* د چرګ په اذان نه سحر کیږي.
* د شغال کور بی چرګه نه وی.
* دشغال تر نازه د زمری شیرل ښې دی.
* دجګ سړی عقل په ښنګروکی وی.
* د حاجت په وخت کی خره ته هم بابا وایی .

* د خبرې یوخوند وی.
* د خپل خپلوی ښه دده نزدیکت ئی ښه ندی.
* د خپل کاله لور - خور کړ میزنه وی.
* د خپل کور غل نه نیول کیږی.
* د خپلو ازاریده شته بیزاریده ئی نشته.
* د خره شکرنه کیدل ویل ئی چې کوچی دی.
* د خره مرگ دسپو آختر.
* د خره دا منی زما دا نه منی.
* د خروهم مشرشته.
* د خره څښتن ته پیښه.
* د خره مینه لته (لغته) وهل دی.
* د خره لکۍ نه وه نوخوب نه ورتو.
* د خځلی ځای ویران دی.
* د خلی اور په خرمن (درمند) ولگیدو.
* د خوارو....بلمنگی وی.
* د خواری یاژړا ده یاښیره.
* د خوار و یوه وزه وه هغه هم گوډه ړنده وه.
* د خواښې هله ورغ کړه شی چې د زوم کره ئی شپه شی.
* د خور یی خاورد ماما له نغری څخه وی.

* دخولي برغولي ( سرپوښ ) ئې نشته .
* د خیرات په خواکې ډئ کوي .
* دځوانانو مې څلي ولیدل اود نامردومې کلي.
* دڅلوروانو بیزو وه دلسوروپو ئې ځنځیر یوړ.
* دداسي سړي په لاس مړمه شې چه سل ئې نه وي وژلي.
* ددښمن په خوږوپستو مه غولیږه . ( مه خطاووزه )
* ددښمن د کور سپې وژلي ښه دي.
* دد له سپیه جې غاپې نه نو جند ( پورته ) لکۍ خو وړه .
* د دوبې کور د آختر په ورځ ګورد .
* د دوبې کالي د آختر په ورځ معلومیږي.
* د دوست په منت خفه نشي د دښمن په خندا ونه غولیږي.
* ددې ځای وه ددې ځای شو.
* ددې خوم په مخ کې ډیر منګوټې مات شوي.
* ددیوال سیوری یې سحریوه خوا اوماښام بله خوا .
* د ډک ایږی نه آخر ړپ اوشي.
* دډم ..... په ډمامه کې تیریږي.
* د ډومانو په نه خبرډ ډنګ ډونګ وي.
* د ډم سترګې تل د بل په نغری وي.
* د راجپوت قبر د سکروخزانه .

* دروغجن هیر ژن.
* دروغ وایه په شرعه برابرئي وایه.
* دریاب په لوټه نه خړیږي.
* دزړونو مالک خدای (ج) دی.
* دزړه په مینه څوک نه وي نیولی.
* د زړه حال چا ته مه ورکوه.
* دزړه او خولې تر منځ د سلو کالو لار ده.
* دزړه نه زړه ته لار وي.
* د زمري غار بې هډوکو نه وي.
* د ذلیخا کتاب یې ختم کړ و یل یې چې ذلیخا نر و که ښځه.
* دزور ورو اوبه په لوړه خیژي.
* دزورورو نه یا لرې یا غلی.
* د ژاولن په کور کې خپلوان شرمیږي په گور کې مړدگان.
* د ژرندې زه راغلم او خوله ستا سپیر دده.
* دژرندې زه راغلم او د وارد ته خبر یې؟
* د ژرندې لار له ډوله ده.
* دژرندې وار گیرې د مور میړه وي.
* دژمي اور هر څوک ځانته راکاږي.
* د ژمي په لوگي دیوالونه توریږي.

*د ږیرې نه یې بریت لوی دی.
*د سپي ترلکۍ لاندې عمر هم تیرېږي.
* د سپي د عمر نه مرګ ښه دی.
*د ستا غم خو پرتوګ نه دی چې به زوړ شي.
* د ستنې له سورې چا بار نه دی ایستلی.
*د سړي چې وار خطا شي نو ښځې ته وایي چې « ادی »!
د سړي ډول ګوره توره خو سپي هم کوي.
*د سړي یو د ستر ګه چې ړنده شي په بله لاس نیسي.
*د سلو بللو ځای وی د یو نابللي ځای نه وی.
*د سلو کالو روژه مو په...... ماته کړه .
*د سلو مرغانو یو د تیږه کافي ده .
*د سو ک ځواب لغته .
*د سیال خواړه یا پور دی یا پیغور دی.
*د سند مړي چا ګټلي.
*د شګې بند او بو وړی ده .
*د شرم او ښکه د خدای پاک دچا نه تویوی.
*د شګو شیطان هر کار ئې وران .
*د شولو تا و د بغرې نه اوباسي.
*د شینکې تبر ئې له هسه (هیڅه ) مخ نه اړوی.

* د ښاره اوخه له نرخه مه وځه.

* د ښایستې یو عیب نه عیب.

* د ښځو زده هومره د شیطان هم نه زده.

* د ښځې او زمکې هیڅ بیعه نشته.

* د ښځې چې د میړه سره راستې وې د کور ژوند ئې په درستې وې.

* د ښکار غوښې د ځان غوښې.

* ته مې بې ښځې مکړې او ښځې ته مې ناتوانه مکړې.

* دښمن د که ګیدړ وې خو زمرې ئې بیله (بوله)

* دښمن که په خوړ ووژلې شې نو په ترخوئې مه وژنه.

* دښمن که خس دې تا ته بس دې.

* دښمن هغه دې چې اول ئې «هو!» وې آخیر ئې «نه».

* دښمن د که د لوخو پړې وې مارئې بوله.

* دښمن د لمڅې اغزې دې.

* دښمن د ګیدې په تورد اووهه.

* دښمن وژنه ښه دی.

* د قسمت دانه د غوندې سر له راځې.

* د کابل وروستې پیاله ترخه ده.

* د کاږه تیکې سره کږه توره جوړیږې.

* د کاغذو ګلان خوشبویې نلرې.

* دکاله کشر مه شی دکاروان مشر مشی.
* دکام وړو سرد ښه مکړه ویر (هیر) به ئی شی، د زوړ د سرد ښه مکړه مړ به شی.
* د کړې خولې سوک دارو دی.
* دکم بخت شرعه له قاضی سره وی.
* د کمزوری زوروړو ته سلام دی.
* دکمزوری ښیری قبلیږی.
* د کم عقل دوست نه هوشیار دښمن ښه دی.
* د کم عقل ملگر تیادخر د سورلی د ه لیچه پکښی ماتیږی.
* د کم هلک (وړوکی هلک) په ژبه خپله مور پوهیږی.
* د کوتې په شا ولاړې ،اور د اولگوو لاړی.
* دکوتې منډ ه به څه وی.
* د کور ایله د هندوستان گټه.
* د کور پیر چا ته نه معلومیږی.
* دکور توریالی دی خود بیابان خندنی د د .
* د کور جینی سپکه وی.
* دکورخبرد باندی مکوه .
* دکور شپه په گور نه وی دگور شپه په کور نه وی.
* د کورغم به صحراته یوسی د صحراغم به چرته وړی.

* د ښو غوښو ښه شوروا وي.
* د ښه پلار د اود ښې مورد ، بلا پاڅې تکه تورد.
* د ښه سړي عورته د تول کلي بابې.
* د سبا خبر د به سبا ته کوو.
* د صبر برخې درنې وي.
* د صراف مخکې کلپې نه چليږي.
* د طالبانو د کوچنې اود قافلې د سپې په ستړيا مې مه خبروي.
* د طالبانو غوايې له لرې د خوله چنگه نيولې وي.
* د ضرورت په وخت خر ته هم بابا (ماما) ويلې کيږي.
* د طمعې ځای خالې دد.
* د ظالم عمر د خر د جال پاچائې دي.
* د عاجز سړي ښځه د هر چا ورېندار وي.
* د عقل مې کمبود نشته خو بخت نلرم.
* د غرد په سر اوربليږي له دې ځايه ورباندې لاس تود د وي.
* د غرو ځنگلونه بې زمريانو نه وي.
* د غرو پړان هم طبيبان شول.!
* د غريب په مرگ څوک نه ژاړي.
* د غرد په سر غوړي دې غوړي د هغه چا دي چې په برخه ئې سړي وي.

* د غله په ږیره خس (د غله په ږیره خلی)، غلگی لاس ورته نیولی.
* د غله نه غلا نه کیده ویل ئی شپه د جمعی ده ( زه حرام نه خورم )
* د غلو می کلی ونه لید د شگو می ځلی ونه لید.
* د غلو وروری خوږه ده خو په ویش باندی جگړه ده.
* د غله ځای په غرد کی نشته.
* د غله مور ایشه ( همیشه ) په پیو ( شدو ) سر وینځی آخر به په وینو ولامبی.
* د غله مور یا سپینی خوری یا وینی خوری.
* دغله میږانه تیشته ده.
* د غم لائقه ادی (آبی) ده.
* د غنمو له رویه ځوز اوبیږی.
* د غوښتو دارو ورکړه ده.
* د ..... ولی ..... گټه نه کیږی.
* دغه گز دغه میدان.
* دفقیرانو لاری چا نیولی دی.
* د کور غم د گور غم.
* د کور .... ځوک دی ؟ ور !

* د کور لور ـ خور قړمیزنه (گړنگنه) وی ـ
* د کور نه په صحرا خوشحاله دی ـ
* د کونډی دود غوایان ود یو وتو (ووت) نه بل ننه وتونه .
* د کونډی زوی د دا نیمکلی باچا (د هر چا خوریی) وی ـ
* د کونډی ځوی مړشو په لارد ووه که په چاړد ـ
* د کونډی غم د ځان وی د لور یې د خان وی ـ
* د کونډی ځوی نه د دین نه د دنیا ـ
* د کونډی هم زړه کیږی هم ئې ساړه کیږی ـ
* د کونډی نه دین شو نه دنیا ـ
* د ..... قبر په هدیره کی معلومیږی ـ
* د گا ځری په خوراک نه یم په خرپ یی یم ـ
* د گوتی په ځای کی سوک منډی ـ
* د گوډی لار آخیر په ژرنده دی ـ
* د گوملی مړی له گوملی غواړد ـ
* د گونگ (گونگی) په ژبه مور پوهیږی ـ
* د گیدړی او زمری آشنائی نه کیږی ـ
* د گیدړ مرگ چې راشی د ښار مخه وکړی ـ
* د لالا کارځه کوم زه خپل کار جوړوم ـ
* د لټ غوایی آخیر خاوند قصاب وی ـ

*د لرگي سر د چې خدای بد شي نو د ژرندې ټکټکانې ئي کړي.
*دلړم څه کېږد ( تیاري ) ده ، لکې په سر راواړوي بیا ځي.
*د لېږدیري ته سلوم (سلام ) دی .
*د لښکر په آخیر څه د ماتې په سر.
*د لماشوم (ماشام ) لیگائیې ( لوگي ) هر سړي اسمون
(اسمان )ته جگه وي.
*د لماشام ولمه د وزو پوژلي دو.
*د لنډې به څه لنډ کړي.
*د لولي واته یوشرم ، ننواته یې بل شرم .
*د لوی خدای لویه تله وي .
*د لوی ډیران خاوره ښه وي .
*د لوی منگي اوبه خوږي وي .
*د لویو خبري تعویذ کړه .
*د لویو ویالو ( ولو ) څخه ټوپ (خیز ) مه وهه لوند به شي.
*د لیلئ دغه منگي وود چې بیا ډک شو.
*د لیلئ د کوڅې سپي ښایسته وي .
*د لیوني پزه (پوزه ) خلکو پریکوله دی ویل پیزوان راجوړ کړي.
*د لیوني نه یا لري یاغلي .
*د لیونیو کلي نه وي .

* د ليونو څه ښکر لکۍ نه وي!

* د ليوه سره چې غوښې خوري د ځښتن سره تندي وهي.

* د ليوه چې خوله سره شي په لسو سپو بند ندي.

* دليوه لکۍ ده نه ئي پرېښووې شي نه ئي ټينګوی شي.

* دمات لوښي آواز نه غلطيږي.

* دمارانو لارې چا بندې کړې دي.

* د ماږه په مړيکې خلې وي.

* دمازديګر داوبو تګ له تهمته خلاص نه وي.

* دماکې ( مکې ) نه زه راځم مزی ( کانی ) ته د
ماوي (دموی)

* دمچ جنګ به د پيک په سر معلوم شي.

* د محبت بدل نشته.

* دمرچکو (مرچو ) په ختيه ناست دی!

* د مراور (مرور ) برخه زيوته (زياته يا خوره ) وي.

* دمرغابو نرئې نه اګی اچوي او نه آذان (بانګ) کوي.

* دمرغلرې خويو آب وده چې لاړه.

* د مرګ مرې چا نه ده په غاړه کړې.

* دمرګ دارو نشته ( دلقمان حکيم سره هم نه وه )

* دمرګه مخکې ځان مه وژنه.

*د مرګی توری کیږدی په هر چا ولاړی دی.

*د مرور برخه ډیره ده یا تالا ده.

*دمړو به لا څه ښادی وی.

*د مړو لا کله په قیامت رضا نه ود.

*دمړو واک د ژوندی وی.

*دمړو قدر په ژوندی باندی وی.

*دمړو څخه شیطان بیزاره دی.

*دزمری د لښکره را خلاص شوم دا کوږ داسی راباندی ولګیده لکه ورور.

*دمږی تر غار تل اوبه ځی.

*دمسجد (جماعت) سړی په مسجد کی لټود.

*دمسخرو آخیر جنګ وی.

*دمشکو بوی نه پټیږی.

*دمفتو شراب قاضی هم څښلی دی.

*دمکی لار په منډه نه خلاصیږی.

*دملا بادر اودس دی ترڅو به ئی ساتی.

*دملک لور په نامه غوښته کیږی.

*دملنګ کچکول پاته کیږی د باچا باچاهی.

*د زمرو غوښی ګیدړانو نه دی خوړلی.

*د منګرۍ سر په دښمن ټکوه.

*د منګور سل لارې دي.

*د موت (مات) ټیپک (توپک) نه تښتن (ثښتن) هم ویریږي
او دښمن هم.

د مو (زما) چې وي پټ کړي به مې وي.

* د موچي خونه هسې خسو (سخا) و د چې باران پرې وسو
ډډوزې ئې ولاړې.

* د مور نس بخخه دد.

*د مور نس د پښ بنې دد.

*د مورئې شړی لنګ وګوره، د لورئې شړنګ پړنګ وګورد.

*دمه (دامې) باور نه شې چې میزې (موزې) نه مې زیاتې
ځوې وشي

*دمیا ملا زړه ساته د ډم خوله ساته.

*د خوړ کانړي چې نرم (پاسته) وای نو ګیدړ به خوړلی وای.

*دمیړو یو لاس په چاړه بل په خواړه.

*دمیړه ژوند د توري تر سیوري لاندې وي.

*دمیږیانو کور له غمه نه وي خالي.

*دمیږې چې وزر وشي نو ورکیږي.

*د میښې یار سنډا وي.

* د میلمه بیگا مخ وی سبائی شټ وی .
* : دمیلی غوایه پخپله غاښ باسی .
* د: مینځی سره پریواته په غسل نه ارزی.
* د ،نا اهلو سره نیکی په شگو کی میتازی کول دی.
* دنا جوړه زړه هرڅه نه څکیږی.
* دنرزوی ژړا په زانگو کی معلومیږی.
* دنر وینه بی بدله نه پاتی کیږی.
* دنړیدلی دیوال نه هرڅوک لوټه نړوی.
* دنس پرسته لاندی ، په ځیله کی تمامیږی.
* دنن به د نن سره کوو د سبا به د سبا سره کوو.
* دنن کار سبا ته مه پریږده .
* دننگرهار له توپی نه سړی سر تور ښه دی.
* د نورونیمه ،نیمه د آنا می یود نیمه .
* دنور په وار غنم شود زما په وار جودر.
* دنوی په هوس زاړه ئی کړه خس پخس .
* دنوی منگی اوبه سړی ښکاری.
* دنه زویه نه مینه نه ورکیږی ،دسپی زویه مینه ورکیږی.
* د نه میړو ملک سویلو!
* دنیا تر سر جار سر تر ناموس جار.

*دنیا خو دهندو ږیره دده .

*دنیاد آخرت پټی دی .

*دنیا دغم په ورغ پیدا دده .

*دنیانیمګړی دداو نیمګړی به وی .

*دنیا هغه دده چه یا ئی وخوری یا ئی واغوندی.

*د نیمی ورځی حکومت دسلو کالو کور خرابوی.

*دنیو ( دنیا ) د بادشا لګیږی .... د وینځی سوزی (شلیږی )

*د واده په جونو او د آختر په زلمو مه غولیږه .

*د واوری به څه واوری ډیره یخنی .

*د واوری رنځوران په پیتاوو جنګونه کوی.

*دوبی د خوار غریب جامه دده .

*دوچوله غمه لامدد سوزی.

*د وچوله پیله ( امله ) لانده سوزی .

*دود ښایسته ؤ لره ځی.

*دود هغه له ځی چې په خواښی ګران وی.

*د وران کلی ملک بتیاری (ډم ) دی.

*د ورځی د توتو په خوړلو شرمیږی دشپی یی له پچوسره خوری.

*د ورور خور می کی محتاجه می مه کی.

*دوزخ که گرم دی که یخ د عاصیانو ورته مخ دی.

*دوزخ له خپله تاوه غنگیږی.

*د وږی تر پامه سږی غوښی وی.

*د وږی نظر (سترگی) په دسترخوان وی.

*دوست او دښمن ته په یوه سترگه گوری.

*دوست د کوم دی چه سهار د اور وینی ، ماښام د کور.

*دوست روزنه غواړی ، دښمن ترټنه.

*دوستی د سلو کالو لار دده.

*دولت د هندو زوی زغملی دی ځربی د میږی بچی.

*دولت د هندو ږیره ده ( نن شته سبا نشته )

*دولت د دځان وی عزت د په جهان وی.

*دو مرد گتو چپ ئی ښتو.

*دوو گیدړانو زمری وژلی دی.

*دود بر بنډ په یوه ځادرکی نه پټیږی.

*دوه به سرد جوړشی د دریم مخ به تور شی.

*دوه په تناره خورم ، څلور په تله راتله خورم ، دوه چپ کښینم
هله ئی خورم ، زه خواره لاځه خورم.

*دوه توری په یوه تیکی کی نه ځائیږی.

*دوه لوځ (نه) سره پټیږی.

*د وه لوښي ( په کور کې ) سره کړاپیږي (جنګیږي)

*دوه مرغان یو ځای ځاله خبر نه دي یو د بل د حاله.

*دوه ورونه هغه سره تر بورونه.

*دوې سترګې نظر یې یو.

*د هر چا په سر کې یوه پیاله بنګ وي.

*د هرچا سره خپل سیوری مل وي.

*د هر شي جامه ځیرېږي د ښه خوی جامه نه څرېږي.

*د هر شي خوند په مالګه ښه کیږي، د مالګې به په څه ښه شي ؟

*د هرمرض دارو شته دی.

*د هغې بلا نه مه ویرېږه چې شپه ئې تر منځ وي.

*د هندوانو په تنور د بل چا ډوډی حرامه ده.

*د هندوانو تنور ئی د بل چا ډوډی د رباندی نه پخیږي.

*د هندوانو جنازه هر جای ولاړه وي.

*د هندوانو مال په پښتون حلال.

*د هندو چې زوم پیداشي نو خرخرځوي زوم چلوي.

*د هندو د مرد ..... نه وي چې لنګ ئې اوشلوي.

*د هندو ژړا نه زده – د وزیر سندره.

*د هندو غلا ته زړه کیږي خود سپو نه ویریږي.

*د هوا مرغی شل د پیسی.

* د هوشيار ويل د کاڼي کرښه وي.
* د هوشيار بلا د ورکه وي.
* د هوشيار سړي د يګ ورو ورو پخيږي.
* د هيلی مخ تور دی.
* د يار سره ياري کوه په عيبو کی نظر مه کوه .
* د يتيم اوښکی به خپله مور وچوی . ( په خپله مور پاکيږی. )
* د يده کره ناديده وشو نوم ئی پری ناروا کيښود .
* د يرش روزی د آختر د پاره .
* د يګ چه جوش کوی بيا تويی شی.
* دی نصيب ته ګوره چې اور بشی شوی غنم زما .
* د يوه زوی شه د سلو پلار شه .
* د يوه سپاره دوړه د ميدان تر سره نه رسيږی.
* د يوه زيان د بل تکيه .
* د يوه لوس (لاس ) نه خړاپ نه خيږی ، چې دوه لوس (لاس ) نه وی ورسره .
* د يوی سپړی د پاره پوستين اور ته مه اچوه .
* د يوی سوړی ( غار ) مار يو ځل چيچل کا .
* د هر مار په سر يو لړم وی.
* د ميږو يوه خبره ده .

* د خدای حق د همسایه حق.
* د خپل ځان طبیب اوسه.
* د ځوز اور یوه لمبه دد.
* د غمبر خولې په لوړی سر دی مه خیژه له لړی.
* د سری اور دې.
* د توت په شان ئی وځاندې.
* دد دبیه دد مه ئی سر گورد مه پښی.
* د خیر په کار کی څه مصلحت.
* دستنی په ځای جوال دوز منډی.
* د خره په غوږ کی آذان گټه نلری.
* د ښځی او میږه په منځ کی منځگړیتوب نه کیږی.
* دروغ ویل د ایمان زیان دد.
* دروغ گوی د خدای دښمن.
* دروغ وایه په شرعه برابر ئی وایه.
* دننه ئی زه مړ کړم او دباندی عالم.
* د مور په زړه کی زوی او د زوی په زړه کی دباندی.
* دم، غنیمت.
* دنیا په امید خوړه کیږی.
* دنیا په یوه حال ندی.

*د نیا د آخرت توشه دد .

*دوست له دوسته گیله کوی.

*د ملا نصرالدین دیگ دی .

*دی پود آخرت ئی پود .

*دځان پیژندنه دخدای پیژندنه.

*دخپلی لمنی پورته کول دی.

*دالله د کور دروازی همیشه خلاصی وی.

*د ظلم ونی پاینبت نلری.

*د میود لرونکو ونو د ښاخو سرونه ټیټ وی .

*د شیطانت درس زر زده کیږی.

*دم - گړی.

*دم ما می دم .

*دمړی او ژوندی دد .

*دسری کتوی کالی (جامی ) دی.

*د دوست حال له دوسته سرد وی .

*د پر وړی لار په کاهدانه دد .

*د دروغجن مخ تور وی.

*د کاغه په شان مشوکه په خاورو پاکوی.

*د ښادی زخم دی.

* دناسور زخم دی.
* د پښتو لاندې یې مېږه تانه نه ازارېږي.
* د دباندې سپي راغلل د کور سپي ئې وشړل.
* د دعا لوری ځيني ورک ده.
* د دروغو قسم د سړي بنياد ورکوي.
* د ګيدړې ضامن لکۍ ده.
* د هرچا ظرفيت د هغه په دانش پورې تړلی ده.
* د ورځې ورک د شپې پيدا.
* داسې خبرې کوې چې د عطار په قوطۍ کې هم نسته.
* د عقاب په شان جګ کړه پروازونه.
* د نن غم سباته مه خوره.
* د هر څه غم به هير شي خود ګيډې نه.
* د هلکانو کار خام وي.
* دنيايي کارونه خلاصون نلري.
* د حلال رزق پيدا کول عين عبادت دی.
* داسې کار کوه چې هم خدای راضي وي او هم بنده ګان.
* دهګيو غل اخير د چرګو غل دی.
* د اوښ غوښه ئې خوړلې.
* د شيطان غوږونه د کاڼه وي.

* د غلا مال برکت نلري.
* د خیر په غونډې ناست دی.
* د واده او گور شپه نه په کور کیږي.
* دښمن په خوږه وهه.
* دښمن سې په خوږه ونه وهې په تورو وهل ئې مشکل دی.
* دښمن چې په خوږه مري توري ته حاجت نسته.
* د ښو میږو تول نسته د بدو پیغور نسته.
* د وړه راوړي بې ځایه ځای ولاړ یم.
* د زغرې ازمایښت په بدن کیږي.
* د مینځې کالې وینځې.
* د چا نیکي مه هیروه.
* د ډومانو تېتو دلري چې سړی ووینې ورته دریږي.
* د ډمانو خندا مور خور سرد کیږي.
* د ډومانو کلې نشته د شگو ځلې نشته.
* د ډومانو زړه وچاده او ځان ته منځوره نشوه.
* د ډم په شا پسې مه ځه.
* د انسان لاړې اوده لري.
* د خوړونه دې په ننگ خوشحاله شوم.
* دا یرو لاندې انګار وي.

* دخوار تر فام سړی غوښې.
* دسپرغی اور تر درمنده ځي.
* د زورور نه مه مخکې ځه مه وروسته.
* د ازاره چا بازار ندی موندلی.

چې د اورلمبو وهلي وی بیا جوړشي
نه رغـــیږی د ازار لمبـــووهـــلی
په ازار د چا راضي مــه شــه رحمانه
که خلاصی په قیامت غواړی له عذابه

* د آس تټو فرق شته.
* داسي دروغ وایه چې زر نه رښتیا کیږی.
* دافسر په مخه مه ورځه د خره په شا.
* دانسان مخ د خدای د نور ددی.
* د چا په سر خاوری مه اړ دوه.
* دببي بله لور وشود.
* د بدو خلکو دناستې نه یوازې ناسته ښه ده.
* د بل په کار کی کار ملره.
* د بی کاره خدای بی زاره.
* د پخلا دښمن نه ځان ساته.
* د پلار د کور مثال د باغ ده په قرار خوږ کیږی.

* د پشي په شان اووه ساوي لري.
* د زړبودی ( زوړوالی ) سل لمنځونه د ځوانی یو لمونځ .
* د پیښې نه تیښته نشته .
* د تش میدان نه به څوک څه یوسی.
* د توبې دروازه پوری شوه .
* د توبې دروازی خلاصی دی.
* د تیاری یار دی.
* د ثواب نه یی عذاب زیات شو.
* د دوړ ( جولا ) تنسته ئی غوړه ولی ده .
* د چا په ورکړه څوک نه بختور کیږی.
* د چا په ورکړه څوک له کاله نه وزی.
* د چرسی د بل چرسی سره یارانه وی.
* د حیا « شرم » سترګه د ړنده ده .
* د خبرو دیګ ئی باندی کړیده .
* د خبری نه خبره یاده شی.
* د خپل څادر سره پښې غزول ښه دی.
* د خدای نه می مخ تور شو شیطان می دوست نشو.
* د خره نه په زین باندی اس نه جوړیږی.
* د خمیری غلا مه کوه .

* دخوبه د خوړلی دهٔ د خوبه د اغوستی دهٔ.

* د قیانوس د زمانی خبرهٔ د وکړهٔ.

* د دوست سرد نینی چیچل پکار دی.

* د ډم نه چې په میدان کی ډول خطا شی تننا کوی.

* د ډیوی لاندی تیاره وی.

* د روژی هر ماښام آختر وی.

* د روغجن د دروغ وایی ریښتونی د قیاس کوی.

* د زرو بدو یوهٔ توبه دارو دهٔ.

* دسپی او پشی یارانه نه کیږی.

* دسپی او غله مصلحت یو وی.

* دسلو خبرو یوهٔ خبره.

* دسوداگر په سترگه ورته گوره.

* د سوو به څهٔ اوسوزی.

* د سیره ئی پاړسنگ لوی دی.

* د شگو پړی نه تاویږی.

* دشگو شیطان دی.

* دسبا مړی به سبا ته خښوو.

* دصحرا دښمن نه په کور کی پټ شی د کور د ښمن نه به چیری پټ شی.

* د صورت د نیستی نه د خدای وساته .

* د طالب پرستن ده .

* د غرد سړی نه سړی.

* د قاضی خوله شرعه ده .

* دکم اصل یاری دخره سورلی ده .

* د کور جنګ په صحرا تودول نه دی ښه .

* د کوږ دیوال نه ویره پکار ده

* د کونډی کوږتون اسان دی چې د بلار کورئی ودان وی.

* دګنو همسا د یوه ګیډی.

* دلنګانه نه مخکی لیتی مه خوره .

* د لور می دمیړه مری دخوی می د عورته .

* د لیدو نه ئی نه لیدل ښه دی.

* د لیندی نه وتلی ګاتی (غیشی) بیرته نه راګرځی.

* د مخ نه ئی نور الوتی ده .

* دمرګ مچ ئی هر ځای حاضر ئی.

* د ملا په نیت می نیت دی.

* دمنافق دوست نه مرور دښمن ښه دی.

* دمور زړه په زوی دځوی زړه په وچ کانی.

* د ناحقی شاهد دی.

*د ناکامه خلک هندو ته ماما وائی.

*د نر سړی مرگ د بی غیرته سړی د لاسه وی.

*د نورو نیمی ،نیمی د ابی خواري دوه نیمی.

*د نیا څو ډانگه ده ؟ ډانگ یی کوه.

*د نیا د غم بازار دی.

*د نیا د غم په ورغ پیدا ده.

*د وړو سره وړوکی د لویو سره لوی.

*د ومره خوره چی هضمولی ئی شی.

*د ومره ښه کوه چې بل ئی وړی شی.

*د سترگونه رانجه پټوی.

*د ویښی مور نه زوی پټوی.

*د ویښوونکی برخه کمه وی.

*د ویش نه په تا لان خوشحاله یم.

*د وویلونه اوریدل ښه دی.

*د زیلونه نه ویل ښه دی.

*د هرچا سره پنج خو د یار آشنا سره نه.

*د هری ونی سیوری ته سړی نه کښینی.

*د هغه خبری د کانی کرښې دی.

*د وروستی پښې نه ئی را نیسی.

*دهند وقبرچا لیدلی ؟

*د ا وړی به شړی نه شی .

*د ټول عمر تجربی نه د یو ساعت سوچ ښه دی.

*د مرگ په خوب ویده دی .

*د توری شپی غل چا نیولی دی .

*د زرگر نه گټه نه کیږی.

*د غیرت نه زوی نه کیږی.

*د نیستی یو د سوړ ندد .

*د نیستی یو غم نه دی.

*د بعضی نر توب نه تیښته ښه وی.

*دا گیډی د ځمکی نه ترنامه پوری نه دد .

*په تورو شپو کی منزل گران وی.

*لوټه د خروړی سپی نه نه اوچتیږی.

*دنیا د ارټ کوزړی ( لوټی ) دی.

*داستا رسی او زما غاړه .

*د کوچیانو کډی تل باروی.

*د فلانی کور داسی ده لکه د میږ تنو غاریو تریرا وزی بل ورننوزی.

*د مړی کار خدای نه بندوی.

*دومره پورته کوه چې زور ئې لرې.

*دومره پورته کوه چې وړې ئې شې.

*دومره خوره چې هضمولې یې شې.

*د بنده له داده مې توبه ده.

*د بنده به داد څه وې؟

*د بنده له داد نه د خدای داد ښه ده.

*د پادې خرده ګیځ ځې بیګاه راځې.

*د ګور په غاړه ولاړ دې.

*د ګور چنجې په خپلو کې سره خورې.

*د ګور خاورې په ګور تمامیږې.

*د سپیې بې بې په برخه چکیدې دې.

*دا چکیدې لکه سې د ماپه برخه دې؟

*د بازانو خوراک د ښکار غوښې دې.

*د ژوندو رزق نه تمامیږې.

*د کان یا کان ده یا د کن دې.

*د سر سر واښې ئې شکیدلې دې.

*د شیخ اتل بابا په غونډارې ئې وله.

*د ښومیږو تول نشته د بدو پیغور نشته.

*دومره کبر کوه چې ځان خوار کړې دومره کبر مه کوه چې بل

خوار کړي.

* دما په حق کې دې ځان په ګټه کړېدی.

* د توبې دروازه پورې شوه.

* د کلال اوبه په مات کنډولي کېدي.

* د کلال په برخه مات کنډولي دي .

* د جمعې مړي ئې ځیني جوړ کړي.

* ه بخیل ګور هم تنګ وي.

* د موچې تل څپلې شکیدلې وي.

* د کلال منګې بې سره وي.

* د لاس سټړي ښه ده نه د زړه سټړي.

* درویزه څه مصلحت غواړي لکړه راواخله ال - ال ناري وهه.

* د مور نس بخځې -بخځې ده خوېود بل په څیرنده .

* د خپلو نه ازاریده سته ،بې زاریده نسته .

* د خدای خوار کړي د آختر په ورځ په نس درد وي.

* د دنیا د حاله خبر نده . چې په څو ډانګه ولاړه ده ؟

* د نرو آسو په میدان کې هرڅوک سانګې نشي وهلی.

* د خپلې دروازې په مخ کې خوسپې هم زمري وي.

* د خلکو په سترګو لاس ړدی.

* د خلکو په سترګو لاس مه ړده .

*د ډېرنو سپې دی.

*د سرد پاسه سر دی.

*د زړونو مالک خدای دی.

*د نس لوری زور وی.

*د بدی ورځې یار دی.

*د رحمن ویل به هلته در په یاد شي چې یو دیوال ته مخ بل ته
دی شاه شي.

*د غمونو ځلې دی.

*د تاریخ کندی ته ولویده.

*د تاریخ څپېړې وهلې.

*داسې څه وکه چې خلک ئې ولیکې یا داسې څه ولیکه چې
خلک ئې ولولي.

*د بل مال ته اسرد مکوه.

*د خپل مړی خنبول پکار دی.

*د ځنګدن یوساعت د د خوبد ساعت ده.

*د لندو ختېو لړ اوبه دارو دی.

*دا به ته نه یې ؟!

*د مړی نه ..... غواړي.

*د هرچا د سرپیمانې ډکی دی.

* دسلطان محمد لتپان دی.

* د کارنده خود خبروشین پرانگ دی!

* د ملایانو خبره ده (کافی شافی ده.)

* د فرنگی غوندی طلسم گر دی.

د تاسره طلسمونه د فرنگ دی

دما سره هم خزانې د نام و ننگ دی

* د چا خولې ته برغولی نه جوړیږی.

* دروغجن دخدای دښمن دی.

* دسپی په غپا څه کیږی.

* د سختی نه مرگ نشته.

* د سوال نه سوال نه کیږی.

* د شک علاج نشته.

* د طالبانو غوا دهرچا ته ئې خوله جینگه نیولې ده.

* دغاړی غړوندی می سه.

* داوریدو نه ئې نه اوریدل ښه دی.

* دوست د دوست د لاسه مری.

* دومره زړه نه یم چې د پلارد خوښه نه یم.

* دومره گوله کوه چې تیروی ئې شی.

* دومره گوله کوه چې ستونی کې دی ونه نښلی.

*نوم ئی مه اخله د ښځی ئی واخله.

*د پاچاهانو پاچا خدای دی.

*د مور لېمون ده نه لوریږی.

*د فلانی دومره زامن دی له..... تیوئی کتوډ کیږی خو په کور کی ازوغ نشته.

*د تا چې داشنی شولی رسیږی، مرغی به ځان په زړا ستړی کی.

*د گیدړی..... پکار سوه، ځنگله ته یی یووړه.

*دا گز، دا میدان، دا توره د شیطان.

*دیکی به یی خیر وی.

*دومره که بخت وال وای نوم به می بخت محمد وه.

*د تا پی څه خوله خوریږی.

*دا څه سخوندر، سخوندر کیږی؟

*دنیا په نولس (۱۹) ولاړه ده.

*دبیړی کار د شیطان دی.

*د خدای نور می تر پښو لاندی کیږی.

*د صاحبانو کابل نه خوښیږی.

*د کورخفگان دنس خشکی دی.

*د واوری نه چې څومره ساړه وایی هومره سړه ده.

*دزړه او خولی لا رئې یو ده.

*دنیا که په یوه سر جوړیدای نو ورانه به وه.
*دوه سوی سره بنې د خوار گوډی ئی ورووست ترکونی.
*د دوو آسانو جنگ وه ترمنځ د خره پښې ماتی شوی.
*دمانی زویه نورو زه ،مانی په ستر گو ړوند..... لو ته بوزه.
*د غوبله مورچی ...... نوم ئی نوی دی.
*د سوریې سره سندرد دد.
*د کم اصل یاری د خره سورلی دد.
*د پښې کره چاره نه وی، د ترکاڼ کره چینچه.!
*د غوښتو ورکړه دارو دی.
*داسی خوږ زبان ،داسی لنډه وعده او داسی کره ضامن.
*دخدای خدایی گورد د جنگښی پاچایی گوره.
*دبربنډ له اوبو ډار نشته.
*دنیا دلاس خیری دد ، کله وینی کله نه ویی.
*داسی وایه چې نه غواړی هغه مه راپیښه وی.
*میلمه په تلوار د کاله څه سی.
*د حرص غمی نه ډکیږی.
*د ډم کره وخوره دیادیدونکی کرد نه.
*د شیشی درځ نه جوړیږی.
*د جولا منډه خوتر دکانه وی.

*د سلو کاغانو یوه لوټه دارو دی.

*د توکل په دبې یې وهه.

*د ترکاڼ سپیه، د دیتامی څه وړی، ته ولی غاپی؟

*د سپی داړه د سپی په څرمن بندیږی.

*د مرئی په شان ئی وګټه د خان په شان ئی وخوره.

*د اور وړلو ته راغلی وه د کاله میرمن شوه.

*د تاسی له دروغو دما په صورت اوربل سه.

*د ګونګ په ژبه مور پوهیږی.

*د خورانو جای خاران دی.

*د و مرد ښه کو د چې بد یې تیرولی شی.

*د فلانی په خوله یوه په زړه یې بله.

*د فلانی په ژبه شیطان ناست ده.

*د ما خوله سپی څټله د د غږ هم نه ورته کاوه.

*د توتو تروی دارو دی.

*د نیا له آرمانه سره ده.

*د ما یو د تاپه دوه!

*دا دوه مو پریږده بیا به ډیر سو!

*دا د کور داد اور.

*دا دی ډینګ چمونه دی.

* د سری اور ترڅو چې لړی تاویې زیاتیږی.
* دنغری څنډه د توره –بله درا مه سه ترکورد.
* د میلمه جواب پیاتی دی.
* د کال می له قحطی وساتی د ښځی می له بی شرمۍ.
* د بیګاه ترخیره د ګهیځ شر ښه دی.
* دفلانی یو ندده.!
* د اوښ غرغړی عادت دی.
* د رستم نوم ښه دد نه رستم.
* د خدای بی حکمه یو پانه لا نه ښوری.
* ددنیا حب اخیستی.
* دمسلمان زړه دخدای کور دی.
* دادمړی خیتی خبری دی.!
* دکونډی دود غوایه ود یو په ځغ نه ته بل په کرک.
* د کور په سوداد بازار سودانه کیږی.
* د بل کره ګز ګز اش پری کوی. پخپل کور کی اوماچ نشی پخولی.!
* د چالاکه بخت په غرد کی د ککړ بخت په ورد کی.
* دژوندو له مړو سرد نه کیږی.
* د نا بوده سړی په کور کی به میلمه واکدار وی.

* د ماښام لوګي هر سړی اسمان ته جګوي.

* دنیا دارد چه دنیا د ډیرو له سپن کفن د یوړو دغه نورد د په چا وزیر موله.

* دوست اشاری ته ګوري - دښمن وادی ته ګوري.

* د یو وطن خاورد د بل وطن دارو.

* د یوی ونې لرګی څه لوی او څه کمکی.

* د دوو قبرونو تر منځ د بلا خوري.

* د سیند په غاړه مه ځه او دبی جلوه فیل سورلی مکوه.

* د خدای (ج) مال چه ورکوي مال به د نه سوزي.

* د نن ورځې زوی د سبا ورځې پلار دی.

* د دَوو روپو شادی نه وه د سلو روپو ئی څنځیر یووړ.

* داو وخورد سبا بیا خدای لوی دی.

* د یارانو مجلس غنیمت دی.

* د صبر میوه په مراد پخیږي.

* د سپینی غر بی لړی نه وی.

* دین په عقل ندد.

* د باچا شکری په غم ککړی.

* د بریالیتوب زینه د ناکامیو له تختو څخه جوړه شویده.

(اپلاتون)

* د جنګ خوږې خبرې ساعت ئې تریخ.
* د غریب غاښ په حلوا کې وتلی وي.
* د وی پښې په یوه موزه کې نه ځي.
* د سر وینښتان د تور دي که سپین؟ وائي اوس به د رتویشي.
* د خوګ پتیه خوګ درغي.
* د ما نه وشوی اوس د ما د مور میړه شوی.
* د دي کلي خان څوک دی وائي من ئې غر نجوی.
* دا خوله او هغه حلوا.
* د آس لغته اس ځغمي.
* د اوښ غلا په چوخه نه کیږي.
* د بل په قول شرطه مه تړه.
* د بنده هیله ګنده ده.
* د پسرلي تر ګلو د ژمي اوربښه دي، تر ناکلاله ښځه جره بې کوربښه دي.
* د پښ په دکان که ونه سوځي بخر کې به د روالوزي.
* د جولا منډه تر موږي پوري وي.
* د دسترخوان په لمن څه دوست څه دښمن.
* د دنیا څخه چه وفا غواړې لکه د مړو څخه چه خندا غواړې.
* د دو وخرو دانه نشي ویشلای.

* د دیوال عمر له اخیړه پوښته.

* د ډیرو ډیر مری د لیږو لیږ.

* د رواغ د میږه وزر دی.

* د رواغجن هیر جن.

* د ریاب که لوی د ه چمچه د ی خپله د ه.

* د ریاب په لپه نه لیږیږی.

* د ړاند د نیولو ، د کانه د وهلو د خدای ساته.

* د زور ور وهل د کمزوری ښکنځل.

* د زورور لښته نه پوردی نه پیغور.

* د زوی په میرانه مور د سره ځوانه.

* د بل په لاس کی مړی غته ښکاری.

* د زوی می د اورته مری ، د لورمی دی میږه نه بوره یم نه ورارډ.

* د ژرندی زه راځم خو خوله ستا سپیره د ه.

* د سپی تر اشنائی د ځان خواری ښه د ه.

* د دسترخوان پر لمن د دوستانو انجمن.

* د سوی د خپل غوښی داروسی.

* د شوقدر شپه په شوگیر لیده کیږی.

* د ښاره زه راغلم د نرخه ته خبر یی.

*د ښو ځخه ښه زيږى د بدو واښه.

*د ښه پلارد ښه مورد بلا و زیږیده تورد.

*د صحرا موږک راغی د کور موږک ئې ویوست.

*د عقل وږی چالیدلی او د دنیا موږ ؟

*دغا تر ترشا مه تیرېږد د ملک تر مخ.

*دغلو د ښه یاری بدئی بیزاری.

*دغله میرانه تیښته دد.

*د غنموله رویه ځوز هم اوبیږی.

*د کږی توری کوږ چړتون وی.

*د کوټه یود غوټه.

*د کور پیر چا ته نه معلومیږی.

*د کوز غم د گور غم.

*د گناه پر دکاڼ سپی د خندا مړد سود– د ښوروا په هوا تله خوله ئی وسود.

*دلته څه ؟ دلته هیڅ.

*د لالا کار څه کوم · زه خپل کار جوړم.

*دلیری د لیدی نه شم د نژدی درته کتی نشم

*د مچ کونه او ډبلی ؟

*د مرگ دارو گران دی.

* د مریانو لښکر څه دی خرو چرچر څه دی.

* د مړو اوبو ویریږه د تندو اوبو مه بیریږه.

* د میړو خولې ناوې دی.

* د مسافر د شپو حساب مکوه د سرخواست ئې کوه.

* د مستۍ په میچن څه اوربشې څه غنم.

* د مکې په بزرګۍ کې هیڅه شک نشته ګنه خر به حاجي نشي په طواف.

* د میرې زوې د لیوې زوې.

* د میړه سیالي کوه د بخت ئې مکوه.

* د میږیانو کور له غمه نه خلاصیږي.

* د میلمه میلمه بد ایسي.

* د مینځې سره پریواته په غسل نه ارزي.

* د ناز خواږه یا تور وي یا بلمنګه.

* د نغري غم څوک نشي ګلولای.

* د نوي په هوس زاړه ئې کړه خس – خس.

* دنیا هغه ده چې یا ئې وخوري یا ئې واغوندې.

* دنیا ډیریږي زړه تنګیږي.

* دنیا د .......... ږیره ده.

* د نیکانو له قدمه بدان ووتل له غمه.

* د وروریو لاس په خواږه بل په چاړه.
* د وړی سترګی په دیګدان کی وی.
* دوست ته حال وایه. دښمن ته لاپی وهه.
* دوستی د سلو کالو لار ده.
* دود به سره جوړ سی که دریم ئی تر منځ نه وی.
* دود به سره مړ کړی که دریم تر منځ نه وی.
* د هرچا په سر کی یوه پیاله بنګی دی.
* د هیلی مخ تور دی.
* د یتیم اوښکی په خپله مور پاکیږی.
* د یوه سپاهی به څه دوړه وی.
* دیوه مریی دسلو بادار.
* د پړانګ سپینی منګلی شپنو پوخی پری ویستلی.
* د چاودی په پلمه د صوفی غوړ د سود کولمه.
* د خپل وطن ګیدړ د بل وطن تر زمری ښه ده.
* د خره مینه یا ګور ده یا لغته.
* د دوست لاس درد نلری.
* د رندو بازار دی.
* د زاړه غوایی یوه جوپه ده.
* دنیا باد ده باد به یوسی د پاسه به او دل راسی تر قیامته به

پرواسي .

* دوه که لامچان سي د يوې بلا تمام سي .

* دوست د سختۍ د پاره ښه دد .

* د عاجزۍ سره کاميابي تړلې دد .

* د ورغوی تنپا که مرغلره دد .

* درياب په لوټه نه خړيږي .

* دوه غوايي چه ښکر په ښکر شي زيان ئې د بوټو کانو دی .

* دښمن هغه دی چه اول ئې (هو) آخرئې (نه) وي .

* دروغ دناپو و زردی .

* د غلو له ډاره سره يو ځای دی .

* دی گه ده دی ، دادی .

* دنيا ببې د يوه روی سی يوروی به مورنسي .

* د چا له خوښې نو ته په کال کې دوه واری لنگيده .

* دنيا د ميزان تله دد کله پورته ، کله ښکته .

* د سهار باده زلځله زړه او وته له ځله .

* د خوار زوی نه ود چه زوی ئې پيدا سه د مرگو زور سه .

* د موزيگی بيدارد بخته په نيمنی کانې مې ويست خطا مې که نه .

* د ثالاکی بخت په غرد کې - د ککړی بخت په ورد کې .

* د سپې سړی اورته ( عورته ) د ټول کلي ملامته .

* د لويو غرو کجيرئي مړکه - د کمو غرو کجيره خدای به د ساتينه .

* د ازل ليکه نه بدليږی .

* دا ساعت هم تيريږی .

* د سهار له لمره چه تود نه شوی د مازديګر له لمره نه توديږی .

* د شلخې توپک نه دوه نفره ډاريږی .

* دا پيښور ته ښه ځوانان ځي ، کوناټور ترډکی ځي بيرته راځي .

* د رحمن ويل به هلته ستا په ياد شي چې يوه ديوال ته دی مخ بل ته دی شا سی .

* د انسان لاس ګل دی .

* دښمن ته په خواره ستر ګه مه ګوره .

* د کړی په هندوانو کی ګلاب شاه ښه ځوان دد .

* د تيز په ناره ورک .

* د کان وايي چه کونه راکه زه به روزی ورکوم . ( هندوانو متل )

* د کب ، کب خوښيږی د کب خوړونکی دواړه .

* د شيرازی باغوانه ! بر ګ خوسی په تيز را اړوی .

* د مرد ډوډی د نامرد په خيته کی پاته کيږی .

* د ليری د ډول غږ ښه ځي .

* د پا چا له زوره او د ملا له توره می وساتی .

* د اباسين نه چه اوبه غواړې تږې نه يې .
* داس لغته اس زغمې .
* د پښتون کاڼې په اوبو کې نه ورستيږي .
* درياب چه ځې غورځنګ به خود لري .
* د سيک اصل په ويښتو وي .
* د عقل وږى او د دنيا موړ چاندي ليدلي .
* د ګيدړ تر نازه د زمري ښيرل ښه دي .
* د لښکر په آخر ځه د ماتې په سر ځه .
* د موچې خپلې څپلې زړې وي.
* د سپيږو په جنګ کښې مې ښکر مات شو.
* د کرتو تاو د رخپين نه اوځي.
* د پوليسو په شر کښې خير وي.
* د مږو ډيرى جرګې د پيشويو ميو.
* د تور مار د م شته خو ستا نشته.
* د مکى نه زه رغلم او تورى تيګى ته د موى.
* دا خوار موږ سه پاته ئى کور سه.
* د لتپانو ځاى غزنى دى.
* د سوال په اوبو ژرنده نه چليږي.
* د ما مينځه پاپله د پاپلي مينځه بله.

* د ډیرو همسا – د یو گیډې دی.
* د تشو نه اوچت شوی په ډکو کیښناستی.
* د وږی په غوږونو کښې هر وخت د پراټو تپاروی.
* د هندو خپلو گوړ ته سترگی وتلی دی.
* د سر کار شکری په غم ککړی.
* د خلی اور خرمن ته ځی.
* د سپیو له نیستی گیدړی په بامو وهی نیزی.
* د مور نه میره میلنه سوه.
* د جولا منډه تر میږوی وی.
* دښمن دی که گیدړ وی ته ئی زمری بوله.
* د لیوه کور بی هډوکو نه وی.
* د بل په نس چې چاړه ځی لکه چه په ختپه ځی.
* د تا په اوښکی د مانه سی آسانی.
* ذهن لوی طاقت ده.
* د تا په اوښکی د ما نه سی آسانی.
* د بل کور چا خوار ندی لیدلی.
* د اوښ کوم ځای سم دی پاته ئی غاړه شوه.
* د مار سی اجل ورسي دی به لاری لره ورسی.
* د ورغوي تپاکه مرغلره ده.
* دا وږی به شړی نشی.
* د ومره مالگه لرم چې شو تله پری وخورم.

# ډ

*ډیری ډیری دی
*ډم چه ډول وهی زور به ئی لری
*ډوله وهم د چیری ډنگا د چیری ځی
*ډوډی که پرډی ده نس خو د خپل دی
*ډیر خوره گنډیری خوره
*ډزئ په کاغی وکه غول د گربتی ولاړ
*ډال چه گرځوی ځان به ساتی
*ډبرد یتیم له سرد نه چپیږی
*ډبری اړوی لړم تری لاندی غواړی
*ډبلی که ماته وی خود لوښو گود وبس دد
*ډکه و گرځی تشه پاځی
*ډومان څلور کسه په څټه پسی تلل مگر د بی کسی چیغی ئی وهلی
*ډم په ډول نه شرمیږی
*ډم تور او خیری ئی نور
*ډم چه وړی شی نو د مړی قصی کوی
*ډم چه بی غیرته نه وی نو څرک ئی څه کوی

* ډم چه مرور شي د ځان نقصان ئې ده او که کلي مرور شي د ځان نقصان ئې ده
* ډم خو موړ شو خو پاتې ئې کور شو
* ډول یې په غرد واهه لیونې په سمه ګډیده
* ډمه ډم ګرې کوه خپله خوارې کوه
* ډم یار شوي ندې کنچنې خور شوي نده
* ډمې جومات جوړ کړو نه ئې ثواب وشو نه ئې عذاب
* ډمې یار د مړ شو ! د کومې کوځې ؟
* ډنډکې یو، غوا متیازې وکړې ټولې یادېږي
* ډوډې د پردي شو راته مه وړه کوه
* ډوډې خپله خوره عقل له بله زده کوه
* ډوډې له نانوائې ځې زړه د بټیار چووې
* ډوډې راپسې راوړه د هند ولاندې مې شپه ده
* ډول په بیه ، کبر ویړیا
* ډول په ډبلې وهې ژرنده په موروې وهې
* ډول شته د رزائې نشته
* ډیر رنځ د مرګې ورور دی
* ډیر بنه سړیتوب کونې توب شو
* ډیر غواړه لږ نغاړه

*ډیر مه وایه چه خطا کیږې نه

*ډیر ویل د قران ښه دی

*ډیر ئې مال بد ئې حال

*ډیر ئې نه موندل لږ ئې نه خوړل

*ډیو د چه په سر اور بل کړی نو ټول کور رڼا کړی

*ډیر کار ډیر د ګټه

*ډیره لوږ مه ږد ماته به شی

*ډیری لانجې ډیر ئې غمونه

*ډیره ګټه له خط سره وی

*ډیری شپې ولاړې لږ ولاړی

*ډیری ولاړی لږ ولاړی

*ډومان چه بیکاره شی یو د بل سر خری یی (تراش کوی یی)

*ډوډی ئې د شاله لور می خوړلی

*ډمی یار د مړ شو ویل ئې د کومی کوڅې

*ډم ته چا ویل چه غم د خوښ ده که ښادی ویل ئې : د دواړه نه قربان شم

*ډیر ئې موندل نه کم ئې خوړل نه

*ډیری خولی ډیری خبری

*ډول ئې په غرد واهه لیونی په سمه ګډیده

*ډار د مرګی ورور دی

*ډیران د خځلي ځای دی.

*ډیر چاور کول نه ، کم ئې غوښت نه.

*ډمه که مې د کورنه وای لیدلی - کور به مې د په کور اینبی وه.

*ډم چه مرورشی د ځان نقصان ئې ده کلی چه مرور شی د ډم نقصان دی.

*ډوډۍ خپل خورد عقل له بله زده کوه.

*ډیری مه وایه چه خطا کیږی نه.

*ډوډی زما خوری او غاپی دار سلاح خان په دروازه کی.

*ډم له خدایه څه غواړی؟ یا ویر یا ښادی.

*ډ برد د یتیم له سرد نه چپیږی.

*ډ که کاسه ضرور چمپیږی.

*ډوډۍ وچه ورته کیږده د کتغ عذر ورته وکړه.

*ډوډی د نانوائی ځی زړه د بتیار چووی.

*ډیر ویل څه پکار دی.

*ډیره گټه د سرمایی سر خوری.

*ډول په ډومبکی وهه سورنی په لکه غاړه.

*ډیره لوړه ئی مه تړه ماته به شی

# ر

* رښتیا له ما شومانو پوښتنه کوه
* راتګ په اراده بیرته تګ په اجازه
* رښتیا چه ورځي دروغو په کلي ړنګ کړي وي
* رښتیا یا زورور وائي یا لیوني
* روغ صورت پادشاهي دی
* روغ لیوني دی
* رادنه کړه - راپوري د پري کړه
* راستي زوال نلري
* راواخله ! نوم ئي مه اخله
* رمه که بې شپانه ده بې خښتنه ندي
* رنځور ده - طبیب هغه دی چه رنځ پري تیر وي
* رنګ د د ملا عمل د د نوري بلا
* رنګ ئي مه ګوره خوند ئي ګوره
* روپی د مار پښه ده
* روټه نه د کاله خوشیږي نه د میلمه
* رور چه ښه سړي شي د خور به یو ټکري شي

* روره لوی شی خو زمانه لوی مه شی

* روزی په تنډه ده نه په منډه

* روزی چا په منډه نده نیولی

* روغ صورت نه پټیږی

* روغه ښځه چه ملا راغی کارئی خراب که

* ریچی به د بنی آدم ما غزه خوړلی وای خو خوله کی ئی ویښته ده

* رضا ئی که ملائی ماته کړه

* رښتیا که نه وایم الله می وینی که یی وایم عبدالله می وینی

* رښتیا مه وایه عمرد په قام کی به د ځای ورک شی

* رښتیا ویل ښه دی خو د نه ویلو برابر ندی

* رښتیا منصور ویل چه سرئی په دار شو

* راپوری خو د نکړل راپوری د هم رانه وشکول

* راشه درشه

* رشوت ورکونکی او رشوت اخیستونکی دواړه مجرم دی

* روژه په تیز نه ماتیږی

* رښتیا - رښتیا دی

* رحم اوزبک قهر افغان

* روزی خو ځوړندی مړی ندی چه له درځی به درلویږی

* رنگ بدقیافی ختلی

* رنگ بد جامی ختلی

* رنگ بدختی ختلی

* راغلی پکی کیوتی

* رښتیا - رښتیا وی دروغ - دروغ وی

* رنا ورځ غلو په ځان تیاره کړیده

* رنگ ئی مه گوره خوی ئی گوره

* روغ صحت اختر دی

* روغ صحت باچاهی دی

* روزی رسان الله دی

* روزی می په خدای پورده

* روزی خو ته نه راکوی روزی خو خدای راکوی

* راکړه په ورکړه خلاصیږی

* رنا ورځ ئی ترفامه شپه

* رنگ ئی گوره حال ئی مه پوښته

* روانی اوبه مه ډنډ کوه

* رنځور په روغ ساتلی دی

* روزی په زور نه زیاتیږی

* رنگ رنگ تول یو رنگ

* راکړی خپل چه خورم ئی تل

* رغوی نه په غاښ کیږی.

* روغ صورت نه پټیږی.

* راتله ئی خوند ئی ښه دی.

* راوله وروستی چه قدر وی د ړومبی.

* رنځور دروغ شی د هر چا په د اورچه وی.

* روپی می گټله پوزه می بائیله.

* راستی زوال نلری.

* راست اوسه پر لویه لار ناست اوسه.

* راولی اوسنی چه قدر من سی اولنی.

* رنځورده آن د تمام سوده چه لقمان پر تا نادان سو.

* رنگ دی گل خوند دی پیاز دی زه کور د لیله ستا په رنگ خطا وتمه.

* رنگ د ملا عمل د نوری بلا.

* روزی چا په منډه نده نیولی.

* روټی چه زه د خورم ته رانه جاریږه.

* راغلی اوسنی قدر وکه وړاندینی.

* روپی که کوچنی ده کارونه غټ کوی.

* رنځور په روغ ساتلی دی.

# ړ

*ړوند په خپله خونه ښه پوهیږی نه بنا د بل په خونه.

*ړانده نه یو وری (یوځلی) لکړه ولویږی.

*ړوند له خدایه څه غواړی دوه سترګی.

*ړستونی یی سپور ده.

*ړانده ته شپه او ورځ یو شان ده.

*ړانده ته ګډیږه (رقصیږه) مه کاڼه ته ډول مه وهه.

*ړانده ډبوی څه کوی.

*ړانده ښځه په خدای سپارلی ده؟

*ړنده او ښه قافلی غرقوی.

*ړومبی د وروستی پل دی.

*ړوند په ګوډ پوری خاندی.

*ړوند په مړوی هره ورځ نه لویږی.

* ړوند په مړوی یو ځل ټکړه خوری او سترګه ور دوه ځله.

*ړوند ته به څوک روغ ووائی.

*ړوند موږک په نغری کی خاوری اوباسی.

*ړوند یو وار امسا (لکړه) ورد کوی.

*ړوند هر څوک په يوه سترګه ګوري.

*ړوند خو ړوند وي نو روغ ورته ولې په سترګو کې ګوتې منډي.

*ړنده ميښه په خوب کې پندانهويني.

*ړوند په خپلو سترګو بنا دی.

*ړنده کې لارد ده.

*ړندو ته څه تور لا څه سپين.

*ړوند يو ځلي په موږوی لويږي روغ سل ځله.

*ړانده ته د خولې لار معلومه دی.

*ړانده ته مه رخصيږه کانه ته ډول مه وهه.

*ړوند په ګوډ پوري خاندي.

*ړوند پخپل کور ښه پوهيږي.

*ړانده ته شپه او ورځ يو ده.

*ړنګه سی تبۍ زه ولاړم تر سرکۍ تر چاروازۍ ته لانه يې د مړي.

# ز

* زور قالب نلري

* زور چې د زور ورشي پتې له تخمه سرد د بل شي

* زده هم سیال ته هم سیال په سر کی د څه خیال

* زویه ترمالویه

* زوړ سو خو پود نسو

* زوړ شوی خو سوړ نشوی

* زوړ غوائی کنجاړی په خوب وینی

* زوم نه چابللی نه چا سړلی

* زورئی په نهمه میاشت دی

* زنګ وهلی تورد د

* زاولی چوخپیا شوی نه د تا شوی نه زما

* زوم پیژنم د زوم ورور نه

* زاړه په خواړه وی

* زاری هم د زوره کمه ندده

* زاړه زریږی ځوانان غوریږی

* زاړئ هر څه ښه دی بیله مرګه

* زامن خواږه دي ، غيشه ئي كاږه دي
* زر زر دار لره ځي خاوره كلال له ځي
* زر زرګر تولوي خبري د ريو زګر تولوي
* زر زور لري
* زرغونه به لنګيږي احمد شاه به ځيني زيږي
* زرګر د مور نه هم غلا كوي
* زرګر غولولي په شلم كال پوهيږي
* زر مه ګډيږه چه سپک نه شي
* زړور يو وخت مري او بي زړه تل مري
* زړه په خوله بديږي
* زړه چه مين شي شايست نه غواړي
* زړه خره نوي توبرد
* زړه د سور مل وي
* زړه مي غورځي آس مي پرځي
* زړه ښايسته نه غواړي خوب بستره نه غواړي
* زړه د غوښي ده
* زړه نه زړه ته لار وي
* زلفي د خياله زنګيدي باد پري بدنام شو
* زما په ژرنده د اوړه ندي كړي

* زما پیدا په مالگیا
* زما د سر نه تیره خدایه مکړې د نیاڼه یره
* زما د شا شی د بلا د ورته مخ شی
* زما زویه ترما لویه
* زوړ شوی میر نشوی
* زه د په کلی کی نه پریږدم ته د ملکی دعوی کوی
* زلمی د ځوانی په نشه مست وی د چا نه اوری
* زما میړه او ستا میړه سره لښکر شی
* زما ئی په مسلمانی کی شک دی دوی ورته مریدان نیسی
* زمری او آس به د قیامت په ورځ له خپله زوره خبریږی
* زمری که په پنجره کی وی هم زمری دی
* زمری ته خدای په هر ځای کی غوښې ورکوی
* زموږ کلی ملا نه نیسی
* زور په زور ماتیږی
* زور په ازمائیلو کمیږی
* زور چه پری ورشی عقل لرو برشی
* زور د چل کونه شکوی
* زور حق وی
* زورورنه مخکی مه ځه او قچرنه وروسته مه ځه

* زوړ اشنا په کته کړی خر دی
* زوړ امام او زړی تراویح
* زوړ پیونده ود بر بنډ به نشی
* زوړ غل په خپل اولس کی غلا نه کوی
* زوړ مخ او نکریځی
* زوړ که بار نشي وړای لار خو وړی شی
* زوړ ندی ډوډی هیڅ چیر ته نشته
* زهر په زهر وگرځی
* زوم ئی د خسر له نغریه اخلی
* زوی ته اړ گورد لور ته لوړ گورد
* زوی ته د مور په سترگه گورد
* زوی ته د پلار نوم پاتی دی
* زوی زړه دی ، ورور لیمه ده ، لمسی د هډ ماغزه دی
* زوی غواړه له خدایه لور غواړه له مانه
* زوی لور تر پښو اوبه تر حلقه
* زوی می را ملا کړه کډی می ولاړی
* زوی ئی غوښت خیر ئی نه غوښت
* زوی اته پلار ئی شپیته
* زه اولالا می یوازی ود غل او کوتک دود کسان ود

* زه او ته راضی څه به وکړی خوار قاضی
* زه او ته له یوه اصله زه ولی شوم کم اصله
* زه پر تا مړ او ستا راته تندی خړ
* زه په طمعه ته بی غمه
* زه تری نه پزه (پوزه) پریکوم دا رانه نتکی غواړی
* زه د پیژنم د کوره څه که راغلی له لاهوره
* زه زړه ور وړم د ئی سیخ راوړی
* زه ستادخولی قیصی کوم ته زما د خولی پیښی کوی
* زرگری جنګ دی
* زه که توره یم د پلار د کوره یم ته که سپینه ئی د هلکانو مینه ئی
* زه وایم اوړه نشته ته وایی پتیری پخی کړه
* زه خان ته گورم خان اسمان ته گوری
* زه د آدی مزدوره آدی د کلی مزدوره
* زه د باغ نه وینم ته وایی انار د غه دی
* زه د پوزه پریکوم ته رانه پیزوان غواړی
* زه د د پلار ویر کوم ته می د خولی پیښی کوی
* زور په زور ماتیږی
* زړه په زړه آینه دی
* زړونه یو بل ته لار د لری

* زړه چه لوی وی ځای لوی دی
* زړه چه تنګ نه وی ځای تنګ نه دی
* زور بالائی زور
* زور قالب نلری
* زمری د پشی ښکار نه کوی
* زړه د شیشی په شان دی شیشه چه یو وار ماته شود بیا نه جوړیږی
* زورئی په نهمه میاشت دی
* زورئی د ملخ پتی وهی په مخ
* زړه پټ پاچا دی
* زر په زردار اوریږی
* زما په سپینه لمن داغ مه لګوه
* زما خو پکی وینښته سپین شویدی
* زما د سرنه ډیری د غم څپی اوښتلی دی
* زما د خواست ورک شی ستا د داد ورک شی
* زورئی په بل دی
* زورئی ځمکه اخلی
* زه په طمعه ته بی غمه
* زه څه وایم تمبور می څه وایی

* زه مور په اوربې کې کلک تړلې یم
* زهر لړ هغه، ډیر هغه
* زوړ یار په کته کړې خر دی
* زیارتونه واړه قدرمن دي دا کړې جنډې په روحاني بابا ولاړې دینه
* زمري د ځنګل باچا دی
* زه ځانته سیال نه وینم
* زما په سر ډیر سړي تودې تیرې شوي دي
* زړه د ګل په شان دد چه وررېږي بیا نه راټولیږي
* زور به ئې په کوټه معلومیږي
* زړکه پاک وي له اوره یې څه باک وي
* زه لاړم خودي پینډې ته غوړي واچوئې
* زه وختم په لوړ - ننداري کړم د کابل که دا واري خدای خلاص کړم بیا به نه خورم داسې غول
* زه د آبا بولم ته مې په خوله پوري خاندې ( زه د آبا بولم ته مې د خولې پیښې کړې )
* زه د یم لالي دي یې یو ښته اوره د یې که نور نه یې نه به یې
* زړه په خوله بدیږي
* زه تیزه پورته کوم لړم ترې لاندې غواړم
* زړه په توره کټو سپینیږي

*زوی په غزنی – سازورد کور سپنسی غړی
*زمانه هغه دد خو خلک ئی بدل دی
*زمانه د زمانی مخی ده
*زه همیشه ژوندی یم څپلی می نشته
*زه ژوندی د نیا ژوندی
*زه څه وایم او د مبورد می څه وایی.
*زمری چه مړ شی گیدړ ئی هم لکی را کاږی (اسپانیائی متل)
*زر په هغه گران وی چه گتلی پخپل ځان وی.
*زړه ور یو ځل او بی زړه سل ځله.
*زړه ښایست نه غواړی او خوب بالښت نه غواړی.
*زړه نه زړه ته لار وی.
*زما د سره تیره د خدایه مه کړی د نیا ډیره.
*زما میړه او ستا میړه سه لشکر شی.
*زمری د خپله زوره نه دی خبر.
*زور چه راشی د چل خوله شکوی.
*زورور غوایی د غولی منځ نیسی.
*زهر څه خروار خوړلی څه مثقال.
*زیری د مرگی نښه دد.
*زما نه هغه زما نه دد خو خلک یی بدل دی.

* زه د م یم هغه تور نه می ننگ سته نه پیغور.
* زه چه ژوندی وم پدی لاره تلم!
* زاړه ته ئې ویل مه خپرېږه دده ویل مه غرېږه.
* زاړه ولاړ پر خواړه دی چه خواړه نه وی مړه دی.
* زر که سبږ خواږه دی کال ته هم خواږه دی.
* زړه ئې ښه که کار پروکه.
* زړی خری نوی تبری؟
* زلفی سنبل نس می پربل.
* زما پور د په کارگه وی د کارگه مرگی دی نه وی.
* زما دا نه منی خرد امنی.
* زما غوری ستا په کورتو لوئیږی ستا کورت لاتره هار لری.
* زور د عقل کونه خیری.
* زه مرم دغو چی او ته بیا وائی چه غوچی.
* زورور د تر پام کمزوری د رمه سه.
* زور چه زورور سی پتی له تخمه سرد خپل شی.
* زورور د رواغجن زوږ زناکار خوار کبرجن خدای نه ښښی.
* زداو ته له یو د اصله زد نو ولی سوم کمصله.
* زه به څه کوم دا تور چه غمبر وهی په زور.
* زه پور غواړم ته نور غواړی.

*زه تر تا جار ته تر ما جار.

*زه ځان خورم تا له ته ځاکيني ماله.

*زه د جنت ته راکشوم ته دوزخ ته زور وهې.

*زه د حق نه ګنم ته وائې درانه ئې را وتله

*زه ستړی ته ناخوښه.

*زه د هوا چرګه و غیم چه د خیاله مستک نخوری.

*زه نوکر یم د باچا خاص دوی روپی می تنخواه د ده یوه زه خورم

بله آس ، پسرلی لرده به درسم سپیری سپیره سر پړی په لاس.

*زه د تا په ونګ وم زه وری د لونګ وم.

*زوی په پلار پسی روان وه ویل ئی زه له دغو کړلینګو پیدا یم

*زویه ! تر ما لویه.

* زویه ! له ما لویه!!

*زور قالب نلری.

*زه به څه کوم داتور چه غمبر وهی په زور.

*زور چه راشی دحساب ملا ماتوی.

# ژ

* ژرنده که د پلار دده هم په وار دی.
* ژیرد ما واک ئی د ملا.
* ژبه هم قلعه دده هم بلا دده.
* ژرنده په سوال نه چلیږی.
* ژوندی ژبه ژوندی قوم.
* ژبه په (۳۲) غاښو کی دی.
* ژبه تاندد (لنده) دده.
* ژرمه گډیږد چه سپک نشی.
* ژرنده په چل گرځی.
* ژرنده که هر څومرد گړندی شی لاندد غنم نه اوړد کوی.
* ژرنده ماته شود تکتکی ئی لا ښوری.
* ژرنده گړی خدای خوار کړی څته پرته او مزد خوړلی.
* ژرنده ئی ښځی کړی او څت دده سپیرد دده.
* ژړا هم د زړد زور غواړی.
* ژمی د تودمه شه دوبی د سوړمه شه.
* ژمی کله وی چه باد باران وی.

* ژوند ئې گران مرگ ئې گران.
* ژمې د خوار غريب زيون (زيان) دی.
* ژوند د ورک شه له مرگه بتر.
* ژوند خوخه يو موتبې اوره ندی چه به خلاص شي.
* ژبه ئې بياتي (د قيچي) غوندې چلیږي.
* ژړنده گړی جماعت گوري که هسې گوډی را ننه باسي؟
* ژبه د غوښې ده هري خواته ئې چه اړه وی اړه ول کيږي.
* ژوند يو خول‌خندا ده نن به وی سبا به نه وی.
* ژرنډه که د مور ده په زور ده.
* ژاړه مه سربه ورکړم خو تا به چا ته ورنکړم.
* ژمې به څه وی خو ډير ساړه.
* ژرنده ماته شوه تيکټکې ئې لا ښوري.
* ژړا هم ښه زړه غواړي.
* ژمې د تود مسه دوبی دی سوړ مسه.
* ژمې تيريږی خو مخ توري يې سکروټې پاتې کيږي.

# ږ

*ږیره د ما واک ئې د ملا.

*ږیره د میړه زیور دی.

* ږیره ئې بوتې نشته بریت ئې منډوسکې دی.

*ږیره د میړه زیور دہ.

*ږیره ئې ډکې شته بریتونه ئې غټ ،غټ دی.

*ږغ د ملا آمین د کلی.

*ږ یره د بل په لاس مه ورکوه.

# س

*سل دې ومره یو دې مه مره

*سې چیرې ته وای هلته زده وای

*سره سکلې برګ په منډه ځینې تیرېږي

*سره او شنه چراغونه ئې ورته روښانه کړیدي

*سره او شنه باغونه ئې ورته ښودلي دي

*سر د پاسه سر دی

*سم سوې تر پله سم تازې ته غول ورغله

*سړی د همیشه خپل ګریوان ته سر ټیټ کړی

*سیند د سپي په ژبه نه مرداريږي

*ستوری ئې ډوب شویدی

*سپور د پلي له حاله څه خبر دی

*سړی سل واری د سند غاړې ته ورې بیرته ئې تږی راوړي

*سې خان ئې په یاران ئې

*سرد يي له تبې آخلي

*سې او سې په خوې به د هغو سې

*سې لونګ د رسره نه وي بوې د د نه ځي نرکچوره

* سړی یو رنګ جامه ئی دوه رنګه
* سپی د فقیر دښمن دی
* سپی هډوکی خوری خو دانه وائی چه له کوم ځایه به ئی اچوم
* ستر ګی له ستر ګو شرمیږی
* سی درانه بارونه وړی خوراک ئی ځوزدی
* سیل ، سیل سرګردانی هم سیل
* سی په ډکه کاسه موړ نشوی په څټلو ئی نه مړیږی
* سل په لالی پوری یوه ئی د بنګړو
* سل په لیلا ولاړی یوه ئی د بنګړو
* سپین زر ګتم سره زر خورم
* سیر خورم چارک ګتم درځم که نه درځم
* سر چی ژوندی وی خولی ډیری دی
* سری هګی په سپینو بدلوی
* ستر ګی پټی که سبا دی
* سوی چه د شپی ویده کیږی پښی پورته نیسی چه ګواکی اسمان را باندی راونه لویږی
* سی سیفو سوم نو پی پوه سوم
* سردی خپل ګریوان ته ټیټ کړه
* سپائی د آس نال دد چیری چه ولویده هلته ولویده

*سپي، پخپلو کونګرو غول کوي .

*سور فرنګي دی!

*سر ئې يو چيرې پښې ئې بل چيرې .

*سر ندی کدو دی .

*سپي پوهيږی او سناچ يې .

*سپي ته يې وويل چه ولې دومره لکۍ شوره وی وئې ويل سې ډاريږم .

*سپي ته وويل چه ولې دومره غاپې ويل يې چه خلک ډاروم .

*سړی څه خوری څه پريږدی .

*سياست پلار مور نلری .

*سيل بين د څلويشت وزيرانو عقل لری .

*سالم عقل په سالم بدن کې .

*سې نه ځي و ابه دی خلم سې نه خوری څه به د کړم .

*سيل بين د نښې منځ ولي .

*سترګې عين غين کوي .

*ساعت ځي ګړی ګړی مرګ ورځې غاړه غړی .

*سپيه کار دی څه دی ، جنګ .

*سپي لړ ډير د ځان د پار غپيږی لږ د څښتن د پاره .

*سپر (ډال) هغه ګرځوی چه تورو ته اوږی سموی .

*سپرلی ( پسرلی ) دی ستا په ګنجی سرئی هم تومبلی د ګلونه ،

*سپړی له د ستنی داغ بس دی .

*سپمولی سپوخوړلی .

*سپور خور خاوری خور .

*سور د داسی نه وائی چه پلی به نشم او پلی د داسی نه وائی چه سپور به نشم .

*سپوږمی که په اسمان وی رڼا ئی په جهان وی .

*سپی په ښه خوی بد ښکاری .

*سپی ته لاړی غورځوه چه در ته غاپی نه .

*سپی چه ایسور شی غول کو سړی چه ایسور شی تیر د کو .

*سپی چه څومره غاپی هومره نه تراپی .

*سپی چه ګرځوی په هډوکی وله ،

*سپی چه لیونی شی په بل خوله لګوی – سړی چه لیونی شی په خپل خوله لګوی .

*سپی خپل بادار ښه پیژنی ،

*سپی د ځان په ښتولو نه مړیږی

*سپی د میر ګل د د کور د شیر ګل ساتی .

*سپائی پخپله ځان ستائی ،

*سپی صبر کاوه هډوکی ئی خوراک شوه ،

* سپي مې کړي کشر مې مکړي.
* سپین ږیري شو د جمعې شپه ئې اونه پیژندله.
* سړی په نیت پړ ده کار ونه خدای کوي.
* سړی ته کونه هله ورياد د شي چه غول ورشي.
* سړی چه په کال کې رنځور نشي پخپل ایمان دو ویریږي.
* سړی چه زوړ شي د رنځو نو پري زور شي.
* سړی چه زوړ شي عمر ئې د سپي شي.
* سړی چه زوړ شي بیا په کور کې د سپي ضرورت نشته.
* سړی څه خوري څه پریږدي.
* سړی د سړي شیطان دی.
* سړی د سړي رحمن دی.
* سړی د سړي پکاریږي.
* سړی د چه وپیږنې ویه د خوري سپي چه د اوپیږنې نه د خوري.
* سړی کسه جامه پري نیسه.
* سړی کله کله په گورت کې نیولی شي او کله په غیږ کې نه ځائیږي.
* سړیه څوک د گډوي که ته گډیږي.
* سړیه مطلبیه.
* سړی هغه دی چه له وخته ئې کار واخیست.

*سل زامن د سپي يو د زمري.
*سپوري خوري او ځر به خبري.
*سپاره رانيسي پياده مو خپل دي.
*سي بچه وي لته نه وي سي لته وي بچه نه وي.
*سړي له کوره هم د رنيږي هم سپيکږي.
*سپين غر بې واوري نه وي.
* سپين کالي جيب خالي.
*سپين ويښته د مرګ استازي دي.
*سپيني پګړي خلکو ته ښځو په سر کړي دي.
*سپينه د خوله دد لکه لم په کلي ګرځي لکه دم.
*سپينه اورول که ، توره ويرول که ، زيړه تښتول که.
*سپي هم پخپله کوڅه کي زمري وي.
*سپي ئي اووهه چه خاوند ئي وويريږي.
*ستا څه کمي ده چه په لاس د سور غمي ده.
*ستا مال زما او زما هغه هم زما.
*سترګه رندښه ده او معامله رندښه نه ده.
*ستا مړي خانان دي زما مړي شاخيلان دي؟
*سترګي نه تړل کيږي.
*سترګي د نظر نه ګوي او نوم د روشن خان دي.

* سترو وګټل او هوسا و وځټل.
* ستن بې تاره نه پاتې کيږي.
* سخت ساعت يو ساعت.
* سختي د سختو بتري دي.
* سختري يو تر بل بتري.
* سر پخپلو ويښتو نه درنيږي.
* سر چه بې جنجاله شي کد وشي.
* سر چه په کار وي نو په دار وي.
* سر چه د شال وړوي له کشميره ورته راځي.
* سر چي نه خوږيږي داغ سړی نه پريږدي.
* سر کښته که چه تير شي.
* سر ښکته کړه کلي ښکاري.
* سر د سپاره پښې د شپانه.
* سر د خدای را نغد کړی له ګټې يې بيزاريم.
* سر د ميږي جنګ د منده غوايي کوي.
* سر مي درنه قربان شه خو قرض رانه مه غواړه.
* سره زر خپل ځان جوتوي.
* سر مي لوړ دي چه بابا مي په لښکر دي.
* سري سترګې د چرسي وي.

* سړو ګټلی سپو څټلی

* سړی په ژبه سړی دی.

* سړی په سړیتوب خر په خر توب.

* سړی په ښه خوی او سپی په بد خوی ښه ښکاریږی.

* سل بللی ځائیږی یو نا بللی نه.

* سفر په لوڅو پښو ښه دی نه پیزار په پښو تنګ.

* سفر ظفر دی سفر خطر دی.

* څیک چه تورد باسی بی وارد نه وی - غنم چه وړی باسی بی. بارد نه وی.

* سلام ئی نه اچوو چه وائی چوو په هندو وخوت.

* سل بایللی زر ګټلی.

* سل خویو نه نور کړی یو به د مور کړی.

* سل د تنورو نه دی یو موټی د اوړه نشته.

* سل روپی پور که سیاله په کور که.

* سل سمند ښیندد له بی عقله ځان ساته.

* سل ورځی بیګار یوه ورځ پکار.

* سل سویان په مرکه کی ښه دی نه یو هندو

* سل کاله پس ئی پلار وګټلو بل ورته وویل چه بیړه د وکړه

* سل کاله د ونی یوه شپه د مرغی.

* سل کسه هندوان ود بد رګه ئې لا نوره غوښته.

* سل مړي پردی کوی يو مړی نخری کوی.

* سل منه سر خوځوی دوه ګوتی ژبه نه خوځوی.

* سل ئې ګوری يو ئې غواړی.

* سم د کونډی زوی او ښو سم په کلی رنځ ګډ شو.

* سل نايان چه راغونډ کړی نو نيمه ښځه تری جوړيږی.

* سل يې مړه کړه لا بدی ئې نه بولی.

* سود په لاس پيسی تر کاله.

* سوی چه بار شی بار به ئې څه وی.

* سوی ته خو به سوی يايم.

* سوی چه خوړی شی څوک به او خوری.

* سيال مې يې مخی مې نه يې.

* سيالی د سيال سړی پکار دی.

* سيرلی پخپلی مور پوری ښملی.

* سيکانو په ښکته ګتېه وکړه، هندوانو دلته کړی کينښودی.

* سيکانو ته د تماکو نوم مه اخله.

* سين په ګاسونه وچيږی.

* سينه درياب که خوله بيړی.

* سکوڼ که حلال ده رنګ يې د مردار دی.

* سر ئې سوی بوی ئې لاندی ورغلی.
* سپی طمعه مکو د.
* سل سرونه ئې خیشته کړ د یو ئې هم ونه خرییه.
* سر سی بی جنجاله سی کډو ځینی جوړیږی.
* سل واری یې وکچه یو وارئې پری کړ د.
* سپی په خپل څښتن پسې ځی.
* ستر گی پټې که سبا دی.
* سړی د د خو په سړیتوب نه پوهیږی.
* سړی ته سړیتوب پکار دی.
* سپین غرله واورو نه خالی کیږی.
* سپین نیت لوی دولت دی.
* ستا خو پنځه واړه گوتې په غوړو کې دی.
* ستاسو سپی زموږ تبرندی راوړی ؟
* ستا غږ دی که زما په غوږ کې هسې زوږ دی؟
* ستر گه ړنده ښه د د خو لار د ړنده نه د د ښه.
* سړ د ووډی ساته وږی به نشي - ژوږ ځړو کې ساته بربنډ به نه شي.
* سړی ندی خو د داوسی کور دی.
* سکروټه په ببوزی نه سړیږی.
* سل خبری څوک په یو وار نه کوی ، یوه خبره څوک سل واری.

نه کوی.

*سل داومرد د سر سړی دی مه مرد .

*سم د سرینښو ډنډ دی .

*سمه د خبرو ژرنده ده .

*سیاله چه مړد شی دا لا خوړه پسته شی - کم اصله چه مړ د شی.
دا لا په خره سوره شی .

*سند ته د شګو بند نه ټینګیږی .

*سند (اوبه) مړی نه پټوی.

*سر ئی د ملا پښی ئی د سپاهی.

*سر ئی د ملا .... نه ئی د سپاهی .

*سر ئی هم ولاړ سر سرئی هم.

*سترګی له سترګو شرمیږی .

*سر باری ئی لا په ماکینښود .

*سانګی په آسمانو وهلی کیږی نه په خرو .

*سپینه مامه دینه :

* سوی مرغه سړی ده ، شنه مرغه ئی تر پښو لاندی وچیږی.

*سرونه پری سود نرخونه وتړل شول .

*سپی په ډیرنو خوس باسی (وهی) .

*سپی په پردی ډیرانه سره غاپی .

* سر ئې د لحدتښې نده وهلې.

* سندره هغه وايي کسرئې دې پسې کې.

* سپړې وژنې او ريچې ئې مزد اخلي.

* سر به ئې زده درواخلم نور ئې ته يادوه.

* سمبې په سمبې جنګ ده لاس مه راوړه جاې تنګ ده.

* سلمانزي (کوچيان) که داسې بزرګان واې خپلې وزې به ئې مېړې کړې واې.

* سر ئې زما، مال ئې د تا.

* سل عقله په سلو ټکرو زده کېږې.

* ستن په ځان او دغوندې ستن په بل.

* سويه! چه دا ته ئې، داد لنډ بغرې يې، او د ما دا کوړ ډانګ ئې يوه ورځ به يې په غره وخورې.

* سرمست خېلو له خوارې ژرندې جوړې کړې له کبره مزد نه اخسته.

* سپين ويښته د مرګ نشان دې.

* سل دوړ د يو دلوړ.

* سترګې خداې پيدا کړې د ليدو د پاره - غوږونه د اوريدو د پاره.

* سل سرونه خشتوې يو نشې خرييلاې.

* سپې ويل: خداې د د هر چا سره ښه وکړې، پر ته له خپله قامه.

*ستا استاذ زما شاګرد وه.

*سپې ته مړې وراچوه چه درته غاپې نه!

*سپې که هر څومره بد شي خو بیا هم د څښتن کور ساتي.

*سپینې پګړې سړو ته ښځو په سر کړې دي.

*سپینې وریجې (وریژې) نزر-دین خورې او سپینې تورې ئیل بوغ وهي.

*سخ د هغه چا چه ئې غم وي په بل چا.

*سر خرئیلي ښه دد نه میړه شړلي!

*سړی تالا ښه دی خبره تالا نه دد ښه.

*سړی څه په یوه لوټه سپیره څه په سلو لوټو.

*سړی د غوږ په خبره ځربیږي او پټي د ډران په سره.

*سل روپې ښې نه دي یوه ښه خبره ښه ده.

*سرور کوو - سنګر نه ورکوو.

*سړی په رنګ نه سړی کیږي - سړی هغه دی چې ئې خوی د سړی وینه.

*سر یئې پټ کونه ئې لوڅه.

*سپینې پایځیې له غمه ډکې وي.

*سپې دد او غاپې به نه.

*سل روپې پور که د عید شپه په کور که.

*سپاهي کار د څه دی لړائي.

*سل کال د تیر سود د جمعې شپه د ونه پیژندله.

*سور سپی د سور لنډی ورور دی.

*سینه د دریاب که خوله بیړی.

*سپی په خپل منځو کی سر د خوری سارایی ته ئی سلا یو د دی.

*سپی طمع د خدای له کرمه څخه مانع دی.

*سپی دی وی ژوندی دی وی.

*سپی ته ئی ویل د چا د لاسه په عذاب ئی ویل د خپل کامه.

*سپی غیم ژوند ئی غیم.

*سپی خپل بادار ښه پیژنی.

*سپی سړی سپی خبری کوی.

*سپین تکی د هر چا خوښ دی منګر د پشو کسی پسی لویږی.

*سپی چه غاپی څه وینی.

*سپی می کړی کشرمی نه.

*ستا له خیر د می توبه د د سپی د ګرزود.

*سخت ساعت یو ساعت.

*سخوندر د میږوی په زور غورځی.

*سر چه د شال لایق وی له کشمیره ورته راځی.

*سردی اسمان ته رسیږی او عقل د تر پښو لاندی دی.

*سل ورځې بیکار یو د ورځ په کار.

*سل کاله عبادت یو د خبرد د حقیقت.

*سل خرد په سویه کی ښه دی نه یو ........ په مرکه کی

*سپی د پیل په سایه کی تی وویل دا سایه زما دی.

*سخاوت کود چه مخورشی.

*سی درومی څه به مومی.

*سری وارمی درپسی.

*ساعت هغه ساعت دی چه تیر شو.

*سیرله په مور پوری ځملی.

*سفر له سکر د حساب دی.

* سفسته وائی.

*سر چه سر سو به شی کدو گرځی.

*سر سی بی جنجاله سی کدو ځینی جوړسی.

*سپی هیله سپی کړی.

*سل یی غواړی یو ئی وړی.

*سوغاتی اس غاښونه څوک نه شمیری.

*سل روپی پور کړ د آختر شپه په کور کړد.

*سیالان په نیمه پوهیږی.

* سل عقله په سلو ټکرو زده کیږي.

* سړی هغه دی چه ئی کار د سړووی.

* سل روپۍ پور که یو زوی په بازار لوی که.

* سل سپینی روپۍ پور که خو د ژمی شپه په کور که.

* سره زر په اور کی پخیږي او سړی په سختیو کی.

* سټرو وګټل هوساو و وختل.

* سمندر په یو دلپه نه کمیږي.

* سل د زرګریو د ګګر (آهنګر)

* سوړسک خورم خیال د حلوا کوم.

* سرئی په دریاب کیده.

* سترګی لیدلی بشر نه هیروی.

* سپین ویښته نه توریږي.

* سپی هډوکی خوری کونی ته نه انګیری.

* ستانزی سړیه! زیان دوسه عذر د ومسه.

* سخی د خدای دوست دی.

* سپیه! که غاپی نه لکی خو ډانګه ونیسه.

* سپر (ډال) هغه ګرځوی - چه تورو ته اوږه سموی.

* سپوږمۍ که په اسمان وی رڼائی په جهان وی.

* سرګردانه ژوند فانی دنیا.

سور په وینو کې لت پت په پت کې ښه یم
نه د ســروزرو پـه تخت بانـدې بې پتـه

*ستا د سپیږی نوم هم بیگم جان وی.

*سویه که هر څومره باری شی نو څه به یوسی.

*سوری مری بی تاره نه پاته کیږی.

# ش

* شولې په يو د تېک نه سپينيږي.
* شرم مې کوت بيخ مې خوت.
* شرعه ظاهر ګوري.
* شپه تيره وي حجره غيبي.
* شکرور دروغ وائي.
* شف، شف نه شفتالو.
* شنه مرغه ئي تر پښو لاندې وچيږي.
* شنې سترګې زير ويښتان د شيطان علامه ده.
* شاخيل ته خپل زوی پاچا وي.
* سپيلې په شنډو وهلې شي.
* شپنې د ليوه کارندې.
* شپه تيروي حجره څه کوي.
* شپه به وي ياران به نه وي.
* شپه مې هم تيره کړه آنا مې هم مړه نه شوه.
* شپه مې د خوښې په کټ تيره کړه سبا مې د جرګې خبره هيره کړه.
* شپه يوه ده غله ئي ډير دي.

* شرعه کې څه شرم دی.

* شرم په سترګو کیده.

* شرم .....ز د کوناټي په سر وی.

* شرمشکې د مار سرد غزیده په منغ نیمه شود .

* شکون که حلال د د رنګ ئې د مردار دی.

* شلغم د غاړې غم.

* شنې سترګې رسول (ص) غندلې دی.

* شهر په یوه پیسه ود خو غریب سرد پیسه نه وه .

* شیخه په هر بلا پیښه

* شیطان ته ئې وویل چه خاوری وخوری ویل ئې چه غوړې ورسره دی.

* شین ختې د شانه معلومیږی.

* شاګردان د استاذانو استاذان شول.

* شپه به وی یاران به نه وی.

* شپه یوه د ه غله ئې ډیر دی.

* شر چه غواړې پر پیښ به شی.

* شرم د هغو ساته چه پر شرم پوهیږی.

* شرم د ایمان پوښ دی.

* شړومبې وړه مستې راوړه.

* شړومبی او شوروا به د بی همته سړی لړیږی.
* شیر په شیو د خوړ کیږی نه په کنبلی تورو.
* شین د شانه معلوم وی.
* شپه (شپون) خوار..... نازکه.
* شیر لره زړگیه سی ورخدای ستهٔ ورمرگیه.
* شیخ صاحبان وائی چه نن سبا قیامت دی.
* شیطان د خره په لکۍ سپور دی.
* شتر مرغ ته ئی ویل چه پرواز وکړه ویل یی اوښ یم ورته ویل یی بار پوسه ویل ئی مرغه یم.
* شعر ئی جاری دی.
* شراب چه څومره زاړه هغومره ئی نیشه زیاتیږی.
* شمشیر زن ......... س تیزن ندی معلوم.
* شرعه ظاهر گوری.
* شیخ فریده! خوله پټه بهتری ده.
* شپه تر میان خدای مهربان.
* شرعی ته ئی برابر که.
* شی به چا له ورنکړم زړه به د چا بد نکړم.
* شی شی نه یی نوم د فتح خان دی.
* شرم د شرم تاوان د لا پسی.

* شپې ورځې خو هغه وي چه پلار مو ژوندی وو.

*شاگرد ته تول چلونه ښایه - یو ترې پټ ساته.

*شله لامده ئې خورئ.

*شنې په غلانه چیچلې کیږي.

*شامې هم سوزي ، خوا مې هم سوزي.

*شولې د خپلې - پروړې د هم خپلې.

*شرم مې کوت بیخ مې خوت.

*شرمخ (لیوه) هغه میږه وړي چه د رمې نه جدا شي.

*شناخت په لیده شي او مینه په لقمه شي.

# ښ

* ښه کوداوبو ته ئې واچود.
* ښه وکړه اوبه ئې نه وړي.
* ښه مکوه بد به له تا څه غواړي.
* ښه خوي به د سلطان کړي بد خوي به دي په ځان پوري حیران کړي.
* ښه وسله هغه ده چه په لاس درغله.
* ښه نشو بدتر شو.
* ښه خوي زړونه ښکار کوي.
* ښځه شریکه ښه ده نه مال شریک.
* ښځه د شیطان لومه ده.
* ښه خوي د انسان زیور دي.
* ښه خوي د میړه زیور دي.
* ښځې ته حال مه وایه.
* ښځه کول اسانه ده پایڅه یې گرانه ده.
* ښادي په خندا ښه ښکاري او مړي په ژړا.
* ښادي تیریده نه لري، غم زړیده نلري.
* ښادي وربادی غم دي چه په تاپسي لړم دي.

*ښادي د ياري غم دوراري.

*ښار په ښه خوله خوړي شي نه په لنډي تورد.

*ښار چه وران شي لا ښه ودان شي.

*ښايسته مخ د خوږ زړونو مرهم وي.

*ښځه په کالونه د ښيږي او نر په وسله.

*ښځه چه زړه شي خوله يې پسته شي.

*ښځه د تن جامه دد.

*ښځه د کور چراغ دی.

*ښځه د ښامار جنګ ته تياره دد.

*ښځه کړد پشتي دد ماته به ئې کړي سمه به ئې نه کړي.

*ښځه که هر څومره ښه دد د سړي ځای نشي نيولای.

*ښځه مې د نجل وي او زامن مې د سل وي.

*ښځه نه بخ ته ګوري نه تخ ته ګوري د سړي مخ ته ګوري.

*ښځه يا په کور يا په ګور.

*ښکار تازي وکړ و خوشحالي کوته کوي.

ښکر مې ګتيل غوړونه مې بايلل.

*ښو قدر نشته د بدو پوښتنه نشته.

*ښه انګور شغال هم خوري.

*ښه باران په ناود معلوميږي.

* ښه به د لوړ کړي ، بد به دې زوېر کړي.
* ښه په بدو د میړو کار دی.
* ښه پدې دنیا وي په هغې دنیا نشته.
* ښه په ښه کېږي.
* ښه په بدو هم معلومېږي.
* ښه په ښه دي بد په بد.
* ښه جالوان د طوفان په ورځ معلومېږي.
* ښه چه یاد کړي نو به ئې برباد کړي.
* ښه خوی گوری ښه دی خو د عزت په بدله ندی.
* ښه دوست په بد ځای کې معلومېږي.
* ښه د هغه چا سر د خوند کړي چه پرپوهېږي.
* ښه دې هم د ځان دي او بد دې هم د ځان دي.
* ښه سړیتوب کوني توب دی.
* ښه عمل د لارې مل.
* ښه کړی خوری ښه کړی ، چه زما له کوره یې کارې بیا ئې
بیرته راپاخه کړي.
* ښه له دواړو خواو کېږي.
* ښه میړونه په ښه خوله یادېږي.
* ښه یې گټم ښه یې خورم.

* ښې چارې چه د په لاس وای بدې چارې به چا کله قبلولې .
* ښې خبرې پخپله او ناکاره په دلال .
* ښې لاس د کينې ته نسې اړ .
* ښځې په هر کور خو بې بې په يويو کور .
* ښې او چپ لاس نه سرد پيژنې .
* ښه ته هر څوک ښه وائي .
* ښه ته ښه وايه بد ته بد .
* ښايست په ساد د گې کيده .
* ښه خبرد ښه وي خو که ئي ونکړی ثانی يی نشته .
* ښه ويل ښه وی خو د نه ويلو مساوی نه وی .
* سپمولی سپو خوړلی .
* ښځې ته د دباندی حال مه وايه .
* ښځې ته حال مه وايه .
* ښار نا پرسان دی .
* ښه پوهيږم خو نه پوهيږم .!
* ښادی له خدايه دد نه له زويه دد نه له لورد .
* ښه هم د ځان سرد دی بد هم د ځان سرد .
* ښه خوی د خلکو زړونه ښکار کوی .
* ښامار آدم خان مړ که تورد پکې هر څوک سرد کوی چه ما

مړکه.

* ښه ئی خورد ، پسته ئی خورد.

* ښه خورد ، ښه چیښبه گگر تللی سبا به نور راوړی.

* ښه له اصیل سره کیږی.

* ښه د بدو توول (ملگری) دی.

* ښځی وایی: میړه د خوړکانی دی یو اچود بل راخله.

* ښه د چه یاد کړد نو د برباد کړد.

* ښه خبره جواب نلری.

* ښې وار په وار ، بدی تهولی یو وار.

* ښار په خوږد خوله خوری شی نه په لنډی تورد.

* ښه په ښو به هر څوک وکړی – میړه هغه دی چه په بدو ښه وکړی.

* ښه دوست په بد ځای کی معلومیږی.

* ښه قصه بل ته کوه ښه خواږه خپل ته ورکوه.

* ښه هغه دی چه په ځان د ښه وی.

* ښایسته ښځه آرایش ته ضرورت نلری (انگلیسی متل)

* ښادی درباندی غم دی چه په تاپسی لړم دی.

* ښه پر بدو د میړو کار دی.

* ښه انگور شغال خوری.

*ښځه له اجاغه غواړه. خور لور ولند بل ته ورکوه.

*ښه کې خوری ښه کې د ماله گوډی یی وکاږی بیا ئی را پاخه کی.

*ښه له دواړو طرفو کیږی.

*ښه عمر باغ دد بد عمر د زړه داغ دی.

*ښه رنگ ورکی کی مخ نه پټوی - بد رنگی ورکی کړی وائی چیرته وی.

*ښځه د میړه خوښه دد که د کلی وائی چه د میړه خوښه دد نه د کلی.

*ښه منه چنجی خوری.

*ښه رنگی مخ نه پټوي - بد رنگی سرتاوی چیره وي

# ص

*صبر سرور ده.

*صدقه رد بلا ده.

*صابر سره خدای مل دی.

*صبر تریخ دی ولی میوه ئی خوږه ده.

*صبر خو سپی کړیده چه د ډیران سر ئی ځای دی.

*صبر خو سپی کړیده چه هډوکی ئی په برخه دی.

*صبر د بزرگی نښه ده.

*صبر درنه برخه لری.

*صبر د سپی او زړه د زمری.

*صبر د سپی ښه دی او خوراک د سړی.

*صبر د ښی لاری ملگری دی.

*صبر د میړو لوی هنر دی.

*صفره اووته بلا واووته.

*صورت خو چمن ندی چی بیا به راشین شی.

*صورت خو مرغه نده چه بیا به راشین شی.

*صورت ئی غټ په کار کی لټ.

*ضرورت د ایجاد مور ده.

*صحت لوی نعمت دی.

*صحت ثروت دی.

*صدقه په صدق دی.

*ضامن جواب ورکوونکی دی.

*ضمانت د که د ورور هم دی مه ئی کوه.

*صبری مړ شو خو په منډه موړ نه شو.

*صبا بیا خدای شته.

*صبا بیا د دی میاشتی ورځ ده.

*صورت ته میلمه دی عزت ئی پکار دی

*صورت می خپل وا ک ئی د بل.

# ط

* طلسم ئې مات شو.
* طفې طفیلي دي.
* طاوس ګډیدو چه پښو ته ئې وکتل په ژړا شو
* طبیب هغه دی چه په ځان ئې تیروي.
* طبیب هغه دي رنځ پر تیروي.
* طمع چه نه کړي بادشا به څه کړي.
* طوطي د خدای په ګنجومور کړي.
* طمعه د خدای ښه دد نه د بندد.
* طبیب کوم طبیب؟چه پرې تیر شوي وي.
* طمعه خلک د خپلو نه کوي.
* طمعه مکود منعه هم مکود.
* طمعه بد مرکب دی چه ورباندې سپور شي سپک به شي چه ورسره روان شي لار به ورکه کړي.
* طبیب هغه دی چې رنځ پرې تیروي.

# ظ

* ظاهر ئې ښه باطن ئې بد.
* ظاهر ئې طلا ده باطن ئې مس.
* ظالم مې هم وهي هم مې ژړا ته نه پرېږدي.
* ظاهر باطن ئې يو دی .
* ظاهر ئې يو باطن ئې بل.

په ظاهر لباس غلط د سړي مه شه
مينځ ئې گور دچې چغزی دی که متاک

# ع

* عجله د شیطان کار دی .
* عمر د ډیر شه پاچا بی تنخوا .
* عاجزي د خدای رحمت دی .
* عاجزي غیرت دی .
* عاشق تل لوغړن وی .
* عاشق سړی کله پټیږی .
* عاصی پوهیږی او دوزخ پوهیږی .
* عاقبت د لیود زوی لیود شی .
* عاقلان بدی ورکوی بی عقلان په بدو ځان آخته کوی .
* عاقل پر مخ ځی تر شا گوری .
* عالم د دین دنیا رنړا دده .
* عالم ساړه خوری خو تاوده نه خوری .
* عالم هر څه کوی خو هر څه نه وائی .
* عجب د کدو گل دی چه زه یو پور ته گوم لاندی تری بل دی .
* عذر تر گناه بد تر .
* عزیز د خدای نوم دی .

* عشق او مشک نه پټیږي .
* عشق ئې چه پټ که ځان ئې څټ که .
* عقل په پیسو نه اخستل کیږي .
* عقل ئې چې کم وي تل ئې په کور غم وي .
* عقل خو کوتک ندی چه در پلاس ئې کړم .
* عقل د بې عقلو نه زده کیږي .
* عقل که څوک مومي دولت کور لره ورد رومي .
* عقل نیمه بزرگي دي .
* عقل نه په سردي نه په کال د خپل فکر په کمال .
* علت ورک شي عادت نه ورکیږي .
* علم سترګه ور دي خو عمل ورله په چردي .
* عورته ئې کلاله سراور ئې منګوټي .
* عبد الخیره د تا ئې له خیره
* عمر باندې څه اعتبار د ه.
* عزت د هر چا پخپل لاس کې د ه.
* علم زده کړه که په چین کې وي.
* عزت – ذلت د خدای تعالی له لوري د ه.
* عاصي پود دوزخ يې پود.
* عاشق ړوند وي .

* عاقبت په خیر.
* عقل چه نه وی ځان په عذاب دی.
* عقیده ازاده ده.
* عیان ته څه بیان.
* عقل خو خر څیړی نه چه در ته وائی خلم.
* علت ولیړی عادت نه.
* عیسٰی به دین خو د موسٰی به دین خود.
* عمر دد کنې مرغۍ شه.
* عمر د ارټ لوټې ( کوزړی ) دی.
* عقل د کم عقل نه زده کیږی.
* عمر د بادو پیمانه ده.
* عقل خو دومره وه چه د رومی ښود ، نور یی پخپله زده کوه.
* عقل خو لزگی (کوتک ) نده چه په لاس کی درکړم.
* عاقل لره اشاره کم عقل لره کوتک.
* عجیبه کار دی یا عجیبه خبره ده
* علاقلان بدی ورکوی - بی عقلان په بدو ځان اخته کوی.
* عقل د عزت یار دی که عقل نه وی عزت خوار دی.
* عالمه مخ می تور سو د خپل غم د گلولو نه وم پردی غم را باندی زور سو.

* عاشق سر نلري.

* عاشق سره نلري غم د لښکر نه لري.

* عاقل د هر چا خوښ دی.

* عاقل پر مخ ځي تر شا ګوري.

* عقل عقلمند غواړي ، هنر هنر مند غواړي.

* عالم په څه دی او محمد عالم په څه دی.

* عدل ځواکمن لښکر دی.

# غ

* غوښې ویشه سړی ته ګوره .
* غوا یې لا حلال کړې ندې پنکې یې بیا په سر نیولې .
* غل په غره کې نه ځائیږي .
* غریب سړی مه وهه کالي ئې ورچیرې که .
* غوړ ړستونې دی .
* غر که ځومره لوړ دی په سر ئې لار ده .
* غلبیل کوزې ته وویل چه سورو ته دې ګوره .
* غچکې بې آزاره مرغه دې خو د ډنډله چنچو پوښتنه وکړې .
* غوښه په هر چا ګرانه ده خو پشې پې ایمان راوړی .
* غله ته وائي غلا کوه څښتن ته وائي بیدار اوسه .
* غر په غر نه ورځي انسان په انسان ورځي .
* غل مه اوسه له پاچا مه ډاریږه .
* غل په ټولو خلکو د خپل ځان فکر کوي .
* غنم خبرې د منم .
* غنم خبرې د منم اوریشي خبرې د خوشي .
* غل د خپل سیوري نه ډاریږي .

* ...ل هم د سړي خپل وي خو چه وئي ويني نو تهوپ ترې وهي .
* غټ نفس مردار دی .
* غيم تاميږه وهلی زه يم زاړی ته .
* غريب سړی په يوه ورځ دوو خيراتو ته خبريږی .
* غريب سړی برگ ئی سپی .
* غيرتی سړی يا ځان وژنی يا بل .
* بی غيرته سړی هم ځان وژنی او هم بل .
* غم او خوشحالی ورور او خور دی .
* غمونه ډير دی سر ئی يو .
* غله سره د جوال سر نيسی .
* غريب د خدای موږ کړی .
* غريبی عيب نده .
* غريب هم خدای لری .
* غرق شوی هر خس ، خاشاک ته لاس اچوی .
* غلبيل چلو صاف ته وائی سوری د پټ کړه .
* غوټه چه په لاس خلاصيږی خولی ته حاجت نشته .
* غمبر په شنډو وهل کيږی .
* غوا مړه شوه شيروار وشليده .
* غريب خو هندو ده چه ايمان نلری .

* غوټکی د چه په غوجله کی لوی شوی وی غاښونه ئی مه گوره.
* غاتری ته ویل پلار د څوک دی ویل ئی آس غوندی ماما لرم.
* غار به جوړ کړو او لیوه به ورله بوزو.
* غاښ چه رنځور شی علاج ئی انبور شی.
* غټی سترگی ځان وینی وړی سترگی جهان وینی.
* غر به په غره ورشی خو خوشحال به په چا ورنشی.
* غر به در په شا کړم توان به د پیدا کړم.
* غربه در په سر کړم طاقت به درله در کړم.
* غر غنی دی خو بنده کونی دی.
* غله په خوراک تمامیږی.
* غل په غوجل کی پټیږی.
* غر لری خبر لری.
* غریب سړی او برگ ئی سپی.
* غریب مړی ډیره خوری.
* غوایی زمریان ماتوی غوښی گیدړ خوری.
* غوریږی یو ځای اوریږی بل ځای.
* غړ که هر څومره چه شار بل کیږی کوچ کوی.
* غزل او مزل نه سره کیږی.
* غشی ته چا ویل ولی ځغلی ویل ئی وروسته د لنیدی نه

تپوس (پوښتنه) وکړه .

* غلا تا کړه بلا دی پر ما کړه .

* غلا لاسو وکړه سوکان ځټ وخواړه .

* غل اوسه په انصاف اوسه .

* غل و زغلوه د کوره نه تر کوره .

* غل په غلا نه شرمیږی ته ئی په نیولو شرمیږی .

* غل په غل پوهیږی مل په مل .

* غل چه غلا کوی اول میتیازی کوی .

* غل چه غلا ته ځی نو ړومبی یی قسم ته ملا تړلی وی .

* غل څه غواړی د ځان مله غواړی .

* غل د کلی د حاله ندی خبر او کلی د غله د حاله ندی خبر .

* غل شړه خو تر کوره پوری نه .

* غلطی د بغداد څخه راغلی .

* غل له خپل ترپ نه ویریږی .

* غل کورونه وهی بد بخت زورونه وهی .

* غل یو لاری یی ډیری .

* غم بی خبره راځی .

* غم د پښتون جامه ده .

* غم .....م ، غمجن .....م ددو ښځو خاوند .....م .

* غم دد د لالی په سر مسته د تازه گرځي.

* غریب وژنه اسانه دد د خدای نه ډار پکار دی.

* غرڅه هسی هم د غرو ود چه گرنجونی ئی ورواچاود لا د غرو شود.

* غل اوسه په انصاف اوسه.

* غل یو گمان په سلو.

* غوړی په غوړو توئیږی.

* غر د ستنی په څوکه نه سوری کیږی.

* غریبی بده بلا دد.

* غریبی هر ځای ډیره اوخانی زد نه غواړم.

* غوا یی بی چوکی نه ځی.

* غل هغه دی چه ونیولی شی.

* غوړی که ډیر شی څوک ئی په سرنه تپی.

* غوړی که ډیر شی څوک پری ..... نه غوړه وی.

* غولی می دی گڼ وی که په زوی وی که په لور.

* غم د غمه نه شرمیږی.

* غیرت په مزی (چاق) او ډنگر نه دی.

* غله په خوراک تمامیږی.

* غریبی د خدای د صحرا په بوټی هم نه راولی.

* غوړ به گتی سر به په کیږ دی.

* غوږ ئې ګاټه سرئې په کې بايلود.
* غوټ به نرې شي نرې به سوړې شي.
* غريب چه کميني ونکړي نو څه به وکړي.
* غم چا نه دی خرڅ کړی.
* غم له چا نه شرميږي.
* غله په خوراک تماميږي ، ا زوغ په تنارد.
* غوړي په غوړو توئيږي ، نه په خوارو چاودو.
* غر څه پخوا هم د غرووه ګنګې دې چه ور واچول اوس ئې سيلونه کوه.
* غوا دې په غوجل کې لويه شوه ته ئې لا غاښونه ګورې.
* غل چه غلا کوي نور کور والا نه پښتي.
* غل سل کوره وران کړي يو خپل به ودان نه کړي.
* غوبي چه د غوبل په وخت مونده شي ورک يې مه بوله.
* غم د وي شو روا دوي.
* غوښه چه څومره بيکاره وي له شوتلې نه ښه دده.
* غريب مړ کړه خو جامې ئې مه ورته شکوه.
* غلا تا کړه بلا د پرما کړه.
* غل په غلا نه شرميږي ته ئې په نيولو شرميږي ؟
* غل غل پيژني.

* غل هم وایي خدایه مل هم وائي خدایه!!

* غوړي چه ډیر شي څوک بیخ نه په غوړوي.

* غوښې د هغه خوري چه توري وهي.

* غیرانو نه چه په خرد باندې سي نوم ئې عزت خان سي.

* غرور د شکست مقدمه دی.

* غلیم ته ئې مه ښایه.

* غرونه چا سوري کړل ! او شیرینه به څوک وړي!

# ف

* فيلان سی ساتی فيل خانی به جوړه وي .
* فيل چه له تندی مړ شي يو زنگون اوبه په نس کی لري.
* فيل مرغ غوندی چرت وهي .
* فيل لری فيل خانه نلري .
* فقر (درويزه) څه صلاح غواړي لکړه راوخله دوه کوره بالا وغواړه .
* فقيرانو (درويزگرو) ته کوڅی مه شايه .
* فقير ته يو ورپوری سل لري (واز) .
* فقير خو فقير يم ولی کچکول می مين دي.
* فقير شاه څه رائخه.
* فقيره دوه د سوده وه يو د خير بل د يدنونه.
* فقير کور د چيري ؟ ويل ئی هر – هرچيري چيرته می ښه هلته می ښپه.
* فقيری بی مکره نه کيږي.
* فقير که درويزه کړي خو پاکيزه ئی کړي .
* فيل په مالگه څه پوهيږي.
* فقير څوک له ښاره نه باسي.

* فاحشه چه په فاحشه توب نه شرمیږی نور به په څه شرمیږي
* فریماني ارزاني ده.
* فلسفي غږه وي.
* فیل هندوستان په خوب ویني.
* فیل یو خوب ویني او ښتن ئی بل.
* فقیر ته چا ویل غاښونه د سپین دی ویل ئی څه پری وخورم.
* فن د چامیراث ندي.
* فلاني خو په ایرو کی پټ لعل دي.
* فلاني خو سړی سند ته تږی ولي او تږی ئی راولي.
* فلاني خو یو مرغه ده سی چاو نیود هغه دی
* فلاني سړی د سیوری او پیتاوی تر مینځه گرځي.
* فلاني ماته په سترگو کی دوکی راکوي.
* فلاني خو تورو شپو وخوړ.
* فلاني خو د توري مخ وځاته.
* فلاني خو د ژوند مری تر غاړه تړلی ده.
* فلاني سپینه چرگه ده نیکی باسی او بدی راننه باسي.
* فلاني اوس په موتی کی تو خیږي.
* فلاني اوس په موتی کی خبری کوي.
* فلاني خوږی سپی ده.

* فلانیان .... چه د بارندی زوروور شی د رته وایی توبی اوباسه.
چه درته کمزوری شی بیا درته وائی چه غوخکی د یم پری می ږده.
* فلانیان ... لکه د گور چنجی داسی سره خوري.
* فلانی بی قومه بی قبیله دی
* فلانی چتره بیډی دہ.
* فلانی د پیغلو ډ رپل دی.
* فلانی داسی خبری کوی چه غیاث الغات کی هم نشته.
* فلانی د کارنده خود خبرو تپاکوده .
* فلانی د کارنده خود خبرو شین پړانگ دی.
* فلانی د خبرو تپاکودی.
* فلانی چه تر ځو سړی کیږی توری به سپینی وی سپینې به
توری وی.
* فلانی خانه وروره! دادی لابله سپکه.
* فلانیه! غم سی نه وي غم به راوړي.
* فلانی پښي وغزولي.
* فلانی د نسکوري کټوي په شان ده.
* فلانی لکه خښته شپږ مخه لری.
* فلانی چتره بیډی ده ، خر- خرد ریږي.
* فلانی د فلانی د گورت بیډی دی .

* فلانی مستو بلی وائی.

* فلانی د چیغی ډول دی.

* فلانی د وچ پوستکی تغ د دلس جا په غږ کوي.

* فلانی لکه وچه غړکه هوا نه تکبه کوي.

* فلانی د خبرو گوډی دی.

* فلانی د اوبو په سر ځگ دی.

* فقیر چا له کلی ندد اېستلی.

* فلانی په ابجدو کی خبری کوي.

* فلانی اوس په موتیي کی تو خېږي.

* فلانی ــ ږدن برمه کوي.

* فلانیه ! څه کړی ؟ چه په ما کی د غوا لنگه دده.

* فلانی بی ډوله گډېږي.

* فلانی د روبڼ جوړ کړي.

* فلانی د فلانی په د روبڼ تللی دی.

* فلانی کوږ لرگی دی په بار کی نه سمېږي.

* فلانی په هستی کی نېستمن دی.

* فلانی چېرلی ډول دی.

* فلانی د څکالی غل دی.

* فلانی لکه تبغ نه په بود لمبه سوړ ده په بله تود ده.

* فلانی د فرنگی زوی دی.

* فلانی د وریښمو زندۍ ده.

* فلانی په خوله کې مړۍ غواړي.

* فلانی خپلی خولی خوړلی.

* فلانی اور په اوبو تړي.

* فلانی د خبرو قباسونه باسی.

* فلانی وریښمنه پرستن ده.

* فلانی په مات پاڼ ولاړ دی.

* فلانی لکه پشي اوه ساوی لري.

* فلانی د کاهو په شان دی.

* فقیر لره یا خیر یا جواب.

# ق

* قصاب چه غوښه سپکه کړي هرچا ته سپکه وي.
* قصاب ته ناوخته ورځه.
* قصاب اشنا نلري.
* قدر به مي هله در معلوم شي چه يا مړ شم يا مسافر په لري وطنونه.
* قورت خو قورت دي خوند ئي اوبو وړي.
* قرضدار چا مړ کړي.؟
* قرض چه له سرد پورته شي مرغ پلو وهه (خورد).
* قسمت نصيب خپل کارونه کوي.
* قصابان چه زياد شي غوائي مرداريږي.
* قصاب هميشه د تلي سرته گوري.
* قصاس په قصاس روا دي.
* قناعت بهترينه سرمايه دد.
* قدرت نيول اسان دي خو ساتل ئي مشکل دي.
* قاضي زد ملا متولم ما ځان نه ملا متاود.،
* قديمي يار په زين کړي آس دي.

* قصاب اشنا لټوي.
* قاضي بل ته نصحت کاوه ځان ئي هيروو.
* قاضي په نکاح ده په اوسولو ئي ندی.
* قام آئين دی مخ پکښې سپين دی.
* قام زورور وی.
* قام له قامه نه بيليږی.
* قام - قام رام - رام.
* قبر تنګ دی په مړی ناکام دی.
* قربان له خپله کوره چه خبری شي په زورره.
* قسمت په کته کړی خر دی.
* قصاب قصابي کوله يتيم ورته شپه تيروله.
* قلم باچا توره ئي وزيره.
* قلم چه ازلي شي مور پلار به پې راضي شي.
* قند او کروت په يوه نرخ دی.
* قياس آنا کاوه چه ملا (مرکنډی) ئي غوټه ماته شود.
* قيامت به هله شي چه پښتون له ننګه پريوځي.
* قيصي ډيرى خوسر ئي يو.
* قام قام ته ځي او به خپل مقام ته ځي.
* قچرى ته ئي ويل چه پلار د څوک ده؟ ويل ئي مور مي آسپه ده.

* قصه کوتا کړه مقصد وایه.
* قیامت دده قیامت یو اسراپیل (ع) شپلی نده وهلی.
* قچر د خر له ذاته دی.
* قلمونه ازلی دی نه په زور نه په زاری دی.
* قلنگ خو دندرا باندی جاری.
* قرآن خوړل په حقه بد دی او په ناحقه هم.
* قربان له خپله کورد چه .... واچوی په زوره.
* قچر ته ئی ویل خملی ولی نه ؟ ویل ئی په ولاړه می څه وخوړل چه لاڅملم.
* قلم که د باچا نه کړی د باچا تر څنگه خوبه د کښینوی.
* قوت په یوالی کیدد.
* قابلیت د لمر سترگه دد.
* قایاس بابا کاود چه ملائی غوټه ماته شود.
* قرض ورکول یو هنر تری نه ایستل سل هنره.
* قرض وړی چا وژلی نه دی.

# ک

* کوږ بار تر منزله نه رسیږي.
* که زړه وسوزي له ړندی سترګی هم اوښکی ځی .
* کاغې د زرکې چم کاوه خپل ځینې هیر شو.
* که تا ویل چه زه یم او ما ویل چه زه یم نه به ته ئې نه به زه یم.
* که تا ویل چه ته ئې او ما ویل چه ته یې هم به ته ئې هم به زه یم.
* کاروان تیریږي سپی غپیږي.
* که لاړې پورته توکم پخپل مخ می لګیږي.
* کسب زده کړه د کندو شا ته ئې واچوه.
* کږه خوله په سوک سمیږي.
* کنځ خوښې خبری کوي که شاه ګل ئې ومنې.
* که ملګرې نه یې ته به نه یې.
* کوړتې ، کوړت دلته لړې هګې د بل کره اچوي.
* کونډې ویل که دا وار ودیدلم وینکې می ښه زده دی .
* کم عقل دومره په بل نکوي لکه په ځان.
* که د ترور ..... وای ماما به ووه.

* که ویلی غوړی شی له ستونی می نه تیریږی.
* کاهو غوندی بی خونده ده ( نه خوږ - نه تریخ )
* که شپه تیاره ده منې په شمار دی.
* که اوربشی په خروار شی د خره په برخه لپه ده.
* که یاری کړی د یاری لاری تیری دی که نه نو بانی ډیری دی.
* که یاری کړی خوشی کوتې ډیری که نه کړی بانی ډیری دی.
* که یاری کړی د یاری لاری تیری دی که نه بهانی ډیری دی.
* که ولی — نه یم خالی نه یم.
* که ولی نده خالی هم ندی.
* کعبه ئیکه د کرر شاته راهم شی وربه نشی.
* که سرئی د سروز رودی خو .... ئی د سلورودی.
* که بی وس یم د تابس یم.
* که تا کنځ ویلی مائی منځ ویلی.
* کلاله وکه خپله سیاله.
* که ټول وطن اوبه ونیسی د مرغابی د پښو تر بنده پوری دی.
* کوهی مه کینه د بل په لار کی هسی نه چه د کوهی په غاړه ستا لار شی.
* کوهی کیندونکی خپله په کوهی کی دی.
* کاغی بچی ته وائی سپنکیه زویه.

* کم خوره نوکر ونیسه.
* که اینکه ، پنکی داپټی به شین کی.
* کلکتی ته ښه ځوانان ځی دا کونا تور ترڅ کی ځی بیر ته راځی.
* که مرگ غواړی کندز ته لاړ شه.
* که ځان د پاره وایم ځان ډ وخورم که نه او گره د میلما نه لائقه نده.
* کاروان چه وگرځی گوډ خر په سر کی دی.
* کلی په لیونی پوری خندل لیونی په کلی پوری.
* که می طالع وای نوم به می طالع محمد وه.
* که غم نلری وزه واخله.
* که چاړه د سرو زرو شی خو ک ئی په نس نه منډی.
* کلال په کنډ ولی کی اوبه ښبی.
* که نه مری اخیر به ومری.
* کشری د هلکانو په لاس ورکه له خاورو ئی ډ ک که.
* که می دا خرمن سوه تره (تیره) بیا می توبه ده د زړی میړی له سره.
* کوړ کینه اوسم وایه.
* کامه اوبو یوړه بیرا گان اوس خبریږی.
* کیمیا بوټی دی.
* کوڼ دوه واری خاندی.
* کاغی د کاغی په ژبه پوهیږی.

* کچنۍ خانې ته ننوتل يو عيب ترې راوتل بل عيب.
* کشکه خړې کابل به گورې.
* کور به هم وائې چه غل دې غل هم وايي چه غل دې.
* کار ته سسته پسته خوراک ته ده تندرسته.
* کار چې بې وخته شې بې بخته شې.
* کار د بابا خوراک د لالا.
* کارغه په سپرلې څه خبر دې.
* کارغه ته کندړ هم باغ دې.
* کارغه له اصله تور دې سپين به نشي.
* کارغه ويل زما سپنکيه زويه او ژيژگي ويل پستکيه زويه.
* کارگر کور مړوي لټ مور ژړوي.
* کار مې د بل خوښ خوراک مې خپل خوښ.
* کارونه ازلي دي نه په زور نه په زارې دې.
* کاږه بارونه خداې سموي.
* کاروان په باج نه ورکيږي.
* کاسه په کاسه ده کرده په کرده ده.
* کال به دا وې شپې به نورې وې.
* کال به رب کړي تير خو خورې ستا دا سوې پتون به مې هير نه شي
* کفر که له کعبې راولاړ شي مسلماني به چيرته پاتې شي.

* کندو ماشومان تماموي او کاه دانه خوسي.
* که خبری د نه زده سر خو خوځوه.
* کار وکړه او سوال مکوه.
* که ما وپوښتې نه به وتښتي.
* که د گیدړی خپلی ځپلی وای پره دی به ئی ولی پټولی.
* کال د په لکړه تیر کړو که په ککړه.؟
* کالی چه اوبو یوړه سوباړی می ورپسی پریښوو.
* کام - کام ته ځی او به خپل مقام ته ځی.
* کانی به پوسته نه شی دښمن به دوست نه شی.
* کانی د یتیم په سر راولیږي.
* کبرجن د خدای دښمن.
* کبر له زوال دی.
* کبر هند وکاوه خوارئی پښتون که.
* کتابونه دریابونه دی. (د شاه لیلا آواز هم پکی راغلی ده)
* کر بوړی سره بولی.
* کرمیه غم دنه وه غم د راوړ.
* کرونده اسانه ده پالنه ئی گرانه ده.
* کری اوربشی غواړی غنم.
* کږدی پخپلو مراندو ولاړه ده.

* کلاله کلالی کوه ښځی له کالی کوه.
* کله وار د آدی کله وار د بابا.
* کله دریاب کله کریاب.
* کلی په کلی کوتک په ولی.
* کلی کور به اور واخیستو پیغلو ناوو غږ نه کوو.
* کلی په مشر ممبر په ملا ښه ښکاری.
* کم عقل چې بسیا شی عقل یی خطا شی.
* کم بخت سړی به د پردی خیرات سر خان وی.
* کم بختی ښځی په کال کی دوه واره لنگیږی.
* کم د لوی په هیله لوی د خدای هیله.
* کم عقل دومره په بل نکوی لکه په ځان.
* کم عقل د خبری کوی هوشیار د قیاس کوی.
* کنچنی ته ئی وویل یار د مړ شو ویل ئی د کومی کوڅی.
* کنز به هر څه وایی که فاروق ئی ومنی.
* کورت او غوړی ناست ورته سړی وی.
* کور د ماما دی لاس منډه گوره راباسه.
* کور چی سره کور شی د کلی مخ شی کلی چې سره کلی شی د اولس مخ شی.
* کور د هغو گران وی چې گتلی په ایمان وی.

* کور کې جواري نشته له دماغه ئې د پلاو بوي ځي.

* کور کول آسانه دي اور بلول گران دي.

* کور مې در جار کړي تروره د باندې.

* کور ودان د ورور ودان.

* کوزده له کوره وکړه واده له پوره وکړه.

* کوږ لرگی په اور سمیږي.

* کوږ لرگی په بار کې نه تړل کیږي.

* که اوښان لري دروازې به جگې جوړه وي.

* که او به هرڅو مره جگې شي خو د پله د لاندې وي.

* که بې څښتنه ډیري داي د غرو غرڅه به ډیر واي.

* که پور ته گورم پاڼ دي که کښته گورم پړانگ دي.

* که په ژړا څو ک ژوندي کیدي نو مړي به ژوندي شوي وه.

* که په تا واوري په ما به وشاخي.

* که په نورو ښه شپه ده په خوارو هغه شپه ده.

* که پیر خس دي خو مرید له بس دي.

* که پیغور لري په یوه گوته څلور لري.

* که تل لوونه وي ځوانان به نه وي که تل غوبلونه وي غوایان به نه وي.

* که ته تګ ئې زه تګ ماریم.

* که ته تربورئې زه ستا تره یم کبرجنه.

* که توره لنډه وي ته ورنږدې شه .
* که ته کافر ئې زما ځګړئې .
* که ته کټو یې زه ئې برغولی .
* که ته لاړ شې تر کابله برخه به ځې درسره خپله .
* که ته نازو شې نو میرخان (میرویس نیکه) به څوک زیګوي .
* که چرګ اذان ورنکړي هم سبا به شي .
* که څرک ئې له کوره وي خونه ئې خوره وي .
* که ښښتن ئې نیني چیچې سپي ته به څوک ور واچوي .
* که خرځوري مي زاړه دې خو هډوکي مي درانه دي .
* که خفه کیږې تنې د خلاصی کړه .
* که دښمن د خرشې مه پري سپریږه .
* د دښمن د ګیدړ وي تا بیا ورته د زمري نیسه .
* که د کاله رنګ بدیږي لږ د میلمه هم بدیږي .
* که دیګ د سروشي بیخ ئې د مسو دی .
* که را غله غوا په پې که رانغله پردی .
* که زمري وږې پاتې شي خو د ګیدړ پاتې شوې نه خوري .
* که زمکه تولې اوربشې شي د خره پکې یوه لپه ده .
* که زه نه وایم زما دا ګوډه پښه به یې ووایي .
* که سل کشمیر راکړي خراسان به پرې ورنکړم .

* کوچیان چې ځي په مېنه اور لګوي.
* که په زمکه ننوزي له غوږو د نیسم که پورته (آسمان) ځي له پښو د نیسم.
* که پزه په منځ کې نه وای ستر ګو به سره خوړلي وه.
* که پلار مړ شي ماشوم په لمڅي شي که مور مړه شي ماشوم په خاورو کې شي. (ځمکه شي).
* که د باړې کانې پاسته وای ګیدړانو به وختې خلاص کړې وای.
* که هوس دی دومره بس دی.
* که قرضدار تیږه هم ورکړي ځیني وائې خله.
* که په ږیره وی، وزه هم ږیره لري.
* که دومره بهادر وای نو نوم به دی فتح خان ووه.
* که سل کاله ژوندی یې آخیر د ګور بنده ئې.
* که سوزي کونډه سوزي د میراث خور پرې څه.
* که سیند لوی ده خو د سپي په ژبه ده.
* که ښکته تو کم ږیره ده که پورته تو کم بریت دی.
* که غاپې نه څک اوسه.
* که غم نلري ځانته بز واخله.
* که کور اوسو نو خندق مې پوخ شو.
* که میږي د نه دی پوولې نو کش خوبه دی اوریدلي وي.

* که لاس پنا که غر پنا. څه ور پناڅه غر پنا.
* که ما وپوښتی ته به وتښتي.
* که ماما سر گروی د خورئی طمعه پیدا شی.
* که نور سپی غاپی، غاپی به خود کلالانو سپیه ته څه له غاپی.
* که ما چاړه درلودی سر به می ولی داسی ببر وود.
* که نه پوهیږی ځوان مال اخله.
* که ورځ د زورور دی شپه د کمزوری ده.
* که وطن اوگرځی د خوار خو یوه چمچه شی.
* کیله ، کیله د خدای په هیله.
* کونډه په یوه کټ دوه خوبونه وی.
* کونډه د لیوره په طمعه ود له بل میړه نه ووته.
* کونډه هم ژاړی ، رنډه هم ژاړی اوسنی راوړی خاوری په سر بادوی.
* کوڼ سپی باد ته غاپی.
* که ادی سل میړونه وکړی خو ادی بیا هم ادی ده.
* که اختر هره میاشت وای چا به اختر باله.!
* کور د خپل ساته همسایه غل مه نیسه.
* که یاری کی د یاری لاری تیری دی که ئی نکړی پلمی ډیری دی.
* کوله - بوله.
* که باران وی که ږلی میلمه غواړی ښه مړی.

* که د چا پلار ئې خوزموږ یاریې.
* کاغې د کاغې په ژبه پوهیږي.
* کال په کال کهتري شته بهتري نشته.
* که غم نلرې وزې واخله.
* کار له کاره تیر دی.
* کابل له واوروډک ښه دی نه له زرو.
* کار شرم ندی.
* کار چې له کاره تیر شي افسوس گټه نلري.
* کار د زنده گی مالگه ده.
* کار سرته رسوه.
* کار په نیمه کې مه پریږده.
* کم بخت د اوښ په سر مار چیچي.
* کوسه په ږیره پسې ولاړ -بریت یې بایلوول.
* کله ځنگه ،کله څنگه.
* .... په .... مه عادت کوه ، خوله په خندا.
* که ئې خر وواهه که ئې موټر.
* که ئې یوې خواته اړه وې خو دوه گزه رخت وه او که بلې خواته ئې اړه وې نو د ښځې پرتوگ وه.
* که مې ښځه وای نو زوې مې له تا نه غوښتو.

* کار مې نشته او وزګار نه یم.

* کال ته ګوره او ډانګ وهه.

* کته باندې کتوې باندې کته کوزه کتوې کوزې.

* کته د خره سره مه ګنډه.

* کله دریاب کله کریاب.

* کله ئې اوروې کله ئې شین کوې.

* کنز به هر څوک وائې خو خوله د ملا فاروق غواړې.

* کور د ښځې نه جوړیږې. (کور په ښځه جوړیږې)

* کورد د میر دین جماعت شه.

* کوډ لرګې په بار کې نه سمیږې.

* کونډه زه شوم ډب ئې تا ته اووت.

* کونډه همیشه زوړ میړه ژاړې.

* کوښې (پیزار) مې په پښو کړې غجرې مې میده کړې.

* که پردې سل کورونه وران کړې خو خپل کور به ودان نکړې.

* که په چا اختر دې که اختر ندې په تا خو اختر دې.

* که تښتو مرې خو هندو به وړې.

* که څوک افلاطون د زمانې شې خو دا کار به ونه کړې.

* که د آس لکۍ لویه خو خپله د مباله پرې پټه ده.

* که د بې بې خپل د ننه راځه که د خان خپل د باندې ودریږه.

* که درونډ نه ئی په ځان پوری کانی وتړه .
* که دریاب لوی دی د سپی په ژبه دی .
* که د ښځو پزی نه وای ..... به ئی خوراک وه .
* که رښتیا نه وایم الله می نیسی که ئی وایم عبدالله می نیسی.
* که زما خپله چرګه ناکاره نه وی د ګاونډیانو کره به ئی هګی ولی اچولی. ؟
* که زه زمری د غوړ نه ونیسم خو ته وایی دا ګیدړ ده .
* که نه ژاړم بیا وژاړم .
* که زه نه ژاړم خو زړه می ژاړی.
* که هر څو مره ژوندی یی آخیر د ګوربنده یی.
* که موړ پلار دی په ډکی پوری وتړی خو ته به صبر کوی.
* که یو سیند ته منډی وهی دا بل هم ورپسی سند ته منډی وهی ؟
* کهیل ختم پیسه هضم .
* کارغه لائق د زرکی نه دی.
* کور نه دی کاروان سرای دی .
* که دومره تکړه وای خو سکی به ئی هم وړی وه .
* کار چاوکه ګړی د چا په سر مات شو.
* کار یوه وکه لاس ئی پر بل پاک کړه .

* کارمصاله کوي لافې بې بې وهي .

* که د مړو له حاله ځان خبره وې هديرې ته لاړ شه .

* کلال په کنډولي کې اوبه څښي .

* کسب زده کړه يوه ورځ پکاريږي .

* کاسې ته يې مه گوره تنډې ته يې گوره .

* که زر پاک وي له اوره بې باک وي .

* کافي شافي ده .

* که غم نه وای خوشحالي به چا پيژندله .

* که د په ما روژې ونيولې ته خو مې هم ښه نرې کړې .

* که نر ئې ددې سر مات که !

* کله ، کله سړی د شيطان هم مني .

* که زموږ پاچاهي شوه دا به مو گزوي .

* که ولاړ شي تر بلخه درسره ځي به خپله برخه .

* که ئې خوري نه ، وخوئې گوره !

* که خره قلبه کولای شوای نو کوناټې به ئې ورستاړ نه وهل .

* که مري که پايي ما به وړي .

* کم عقل هغه چه نه پخپله ورځي او نه د بل مني .

* کول (کال) خوبه تير شي خو دا ستا شوی پتون به مې هير نه شي .

* که بادشاهي غواړم نو نه يې مومم او که فقيري غواړم نو کند

کچکول تیار دی.

* که باران وي که ږلۍ میلمه غواړي ښه مړی.
* که په خپل وطن کې خان یې په بل وطن حیران یې.
* که د وړو نه لنگیدی نو کوځې به ډکې وي.
* که زه مرم وار خو به تیر وم.
* که کم عقل نه وای نو هوشیار و به مشرې په چا کوله.
* که لنډې غویئې په بدې کې قبلوې نو پلور (پلار) د مو وژله دی.
* که مشر مشر توب غواړي نو کشر هم د دنیا دود غواړي.
* که نه وې بې رامئې په هر چا به آبادي وي خپل بیسئې.
* که ورور د خپل وي خو چه په راز د بل وي دښمن تري ښه دی.
* کمینې کمال ده - کبر زوال دی.
* که پاس ځم کورده - که کوز ځم پور ده.
* که ولې نه یې خالي هم نه یې.
* که لږ لرې لږ به پاتې وي ، که ډیر لرې ډیر به پاتې وي.
* کنځ هغه کنځ دی څو خوله د ملا عثمان نده.
* کارغه د بلبل غاړي کولې خپل یې هیرې شوې.
* که ښه ده خو د ما د ښې نده!
* کار اسانه دی پیل ئې گران دی.
* کار گه مرداره خوري منبو که څنډوي.

* کار ګه په پسرلی څه خبری دی.
* کار کوه خدای یادوه ،
* کار ګه ته کنډر هم باغ دی.
* کنز خوهر څه وائی که څوک ئی ومنی.
* کور می تر تاجار څکه دی نه وای.
* کونډی ، رنډی پر ابا باندی پنډی.
* که آغا مری که بیبی زما دوه یخی ډوډی.
* که اوبه هر څومره لوړی شی خو تر پله لاندی بهیږی.
* که باغ خرابوی الو پکښی ایږده.
* که پخپل وطن خان یې پر بل وطن اریان ئې.
* که ته کړی سمی چاری تا به څوک باسی د لاری.
* که ته غریبی زه غونډی که ته مار ئې زه لنډی.
* که جنګ نکوی لکی خو اینګه ونیسه.
* که ځان په عذابوی له بی عقل سره اشنا ئی کوه.
* که د تربور ...... سی مه پرسپیریږه.
* که سر غواړی سر مه پاشه.
* که کشینستی خوله پتبه پلاس به نه راوړی هیڅ ګتبه.
* که ما چاره درلودای سربه مې ولی داسی ببر وای.
* که ما وپوښتی ته به وتښتی.

* که وږی یم سږی لا نخورم.
* که هر څومره هوشیار ئې نادان لا پوښته.
* که نن پر ما سبا پر تا دی.
* که نه مرم لا به ومرم.
* که ته ئې عالمشیره زه څپک یم تر تاثیره.
* که گیلې کې گیلې ډیرې دي ، که بهانې کې بهانې ډیرې دي.
* که ښه ده که گنده ده د مولا داد ........ دغه ده.
* کله بنده په لوږ وی کله په څوږ.
* کم د دلویه مه وشرمیږه.
* د یار کوپته وی ته ئې صفته بوله.
* کال تیرسه موزی یو واری‌را تیرسه.
* که می رمه نده پوولی کش خو می اوریدلی ده.
* کلپه روپی نه چلیږی .
* که موزی خوری روته د وخوری - زه نا جوړه ځانته چرگ حلالومه .
* که نور سپی غاپی ، غاپی د ترکاڼ سپیه ته ولی غاپی .
* کور په ښځه ودان دی .
* کور په ښځه هم وران دی هم ودان دی .
* کم ځی د لوی په هیله - لوی ځی د خدای په هیله .

* کبر زوال لري .
* کریمیه ! غم به نه وي غم به راوړي .
* کامه لوټ سوه بیړا ګان اوس خبرېږي .
* که تیږې دومره پستې واي موږ کو به تولې خوړلې واي .
* کوږ تادا او نه سمیږي .
* کونډه چه مړه شوه بیا مړه شوه .
* که په ما د روژې ونیولې ته خو مې هم ښه نرې کړې .
* که شین کوې علي ده که اوروې هم علي ده .
* که غلمینه مړې نلري ، نو غلمینه خبره خو به وي .
* کوچیان چه ځي په مښنه اور لګوي .
* کندوان واړه تشوي – کهداني خوسکي .
* کم خوراک او کم ویل ګټه لري .
* که په دي اوبو مو اودس کړې وي نو بیا اودس مو هم نده شوي
* کرامت د ولي کار دي .
* که د مصلحت د څوک نه وي نو خولې مخې ته کیږده ورسره مصلحت وکړه .
* که نه پوهیږې نو زیړه غوا به اخلې .
* کوږ د ګوښې په کاڼې ایښې .
* کله سړې پیسې ګټې کله قصې .
* که له پاسه شکرې را اوري ، خواران به لاس تر زنې ورته ګوري .

* کار چه بې وخته شي بې بخته شي.
* کاروان نه بند کمېږي د خلکو خولې نه بندېږي.
* کوږ ا ورې منزل ته نه رسېږي.
* که شوې واغوندې که زغره ما خیلې توره غاړه.
* که ټولې خبرې د ځان منې یوه به د بل منې.
* که چاړه په هندوانه ولوېږي او که هندوانه په چاړه ولوېږي نو تاوان د هندوانې دی.
* کله د دادا وار کله د بي بي وار.
* که په چا او ورېږي نو په چا به اوڅاڅېږي.
* که مې نه بولې در ګډیم.
* کوري سپیه! د چا د مخه.
* که پردي سل کورونه وران کړې خپل یو آباد نه کړې.
* کلي کور به ووائي که خچنه یور به ووائي.
* که لمونځ مې کولې مړې په هغه بل جماعت کې هم وه.
* کمکې زرینک له زوره ډک.
* که سند پلن ده د سپي په ژبه ده.
* که اوبه لړې دي ترپله برې دي.
* کور مې در جار له ګودرو پاس.
* کاروان په باج نه خوارېږي.
* کوږ اوري مینې ته نه رسېږي.
* که د داسې تو پکو ټکاوه نو میراته ئې بوله.
* کچره که آس ده خو سر ئې د خره دی.

# گ

* گل په پانو ښه ښکاريږی.
* گوره ،گوره يا دوه خوله به دی خوره وی.
* گيدړه انگورو ته نه رسيده ويل چې انگور ترش دی.
* گمان مې نشی چې به دا وړی شړی شی.
* گنج په ويرانه کی ده.
* گړی که مات شو اويا نه شوخو ازانگه ئی ولاړه.
* گټه په تاوان کيږی.
* گړی هره ورځ نه ماتيږی.
* گناه مه کړه له پاچا نه مه ويريږه.
* گندگی کی سی څومره لرگی هی بوی ئی زياتيږی.
* گډيدل څه دی د .... ښوريدل.
* گران بی حکمته نه وی ارزان بی علته نه وی.
* گرځيدونکی گيدړ ښه دی اوناست زمری ښه ندی.
* گرم د بازار دی ساړه د دکانونه.
* گړنگ مې څخيده خدای چې راکړ ستا پری څه.
* گل په بوټی کی ښه ښکاريږی.

* گل بې اغزیه نه وي.
* گل د اغزي مل.
* گل د گلاب بوی د ځنځلی سوری د ولی.
* گل شی خوعمر د د گل مه شه.
* گل له گل سره ښه ښکاریږي.
* گله له یاره ده نه له اغیاره.
* گمان د ی ایمان زیان دی.
* گوانښ کول میړانه ده.
* گور گوری سی خوری نو شونډی خو به د توریږی.
* گوره چې اوښ په کوم اړخ چوکیږي.
* گیدړ چې تنگ شی په زمری وردانگی.
* گیدړ د قام بد غوښتل شغال شو.
* گیدړه د اوښ په سیوری تله ویل ئی دا زما دی.
* گیدړی سترگی پټی کړی سپی اونیوله.
* گیدړه لاندی ده باندی نده.
* گیله له یاره ده نه له ماره.
* گل ته چې اوبه ونه رسیږی مړاوی کیږي.
* گړی که مات شو او که نشو آواز ئی لاړو.
* گیدړی ته ئی ویل چې شاهد د څوک دی ویل ئی لکۍ می.
* گومل پری اینبی ښه نه ورور وژلی.

* گومل که وچه دده زموږ ورته ناکام دی.
* گونگ د گونگ په خبر ده ښه پوهیږی.
* گتبه په تاوان دی .
* گل مخ او خټ نلری.
* گتبه د له چا وکړه ،له خپله وروره ! دا خو چندان گتبه ندده .
* گتبه سکروتبه دده .
* گتبه د مزدور غوندی خوره یی د څښتن غوندی.
* گونگټ له ځانه لوی باروړی.
* گل نه وه گلاب سه .
* گتیندوی ښه دده که ساتندوی ؟
* گذار روژه نلری.
* گل دینه واوتی د دواړو دینو.
* گمان د ایمان زیان دی .
* گونگټ که په گلونو گرځی خوبورا به نه شی.
* گیله دخپلو نه کیږی.
* گل د کدو گل دی چې یو شکوم تری لاندی بل دده .
* گیدړ چرگ له بڼکو سره خوری.
* ( گدا که کیمینی ونکړی نوځه به وکړی. )
تواضع ز گردن فرازان نکو است
گدا گر تواضع کند خوی اوست

* گرم د ده صافي گرم ده کړد نيسه ممکی په چينچو کوی وارونه.
* گل له گله رنگ اخلی.
* گنج په خرابه ( ديران ) کې ده.
* گنجيه ولي زاړی ؟ يوه مې درته وکړه بله غواړی.
* گل په ځان اوازغی په بل لوروی!
* گومل که وچه ده دود ئی روان دی.
* گتپه ياد پتې ده ياد کوناتې دی.
* گتپه بې ستړيا نه کيږی.
* گتپه يې مزدور غوندی ، خورد ئی د ښتن غوندی.
* گيله له يارده نه له آغياره!
* گازری په خوند دی نه يم په خرپ د يم.
* گاوميش د گل په بوی څه پوهيږی.
* گتې د گتيو تر لاندی وی.
* گوره چه اوښه په کوم اړخ ښملی.
* گيله له يارده نه له ماره.
* گيدړه! تر هغې د ی خانی ده چه ځو لمر نه وی راختلی.
* گډی هم چک او لړولو.
* گولی چه له ځانه چپه شی په وروړ کی داسی لگيږی لکه په
ختپه کی.

# ل

*له یاره سره یاري کوه په بنګړو ئې غرض مه وهه.

*له نا اهل اولاد نه نه اولاد ښه دی.

*له کچه توپک څخه دوه نفره ډاریږي.

*له تشه توپکه دوه نفره ډاریږي.

*له بارانه ناوې ته کیښنوست.

*له خدایه چې پټ نه وي نو له بنده به څه پټ وي.

*له عیانه څه بیان.

*له لیوني مه څه غواړه مه څه ورکوه.

*له ورخه تیري اوبه بیرته نه راګرځي.

*له غله سره ئې د جوال خوله نیولې ده.

*له وړې خبرې ئې د شادي پرهار جوړ کړ.

*له مزد نه ئې شکرانه زیاته شوه.

*له یوه کوره یو لیوني.

*له یوه لاسه ټک نه خیږي.

*لوند له اوبو نه ویریږي.

*لوڅ له اوبو نه ویریږي.

*له یوې خوا پاڼ دی له بلې خوا پړانګ.

*له ډک لوښي څخه چې نه توئیږي هم توئیږي.

*لاس چې مات شي غاړې ته ځي.

*لږ خوره تل خوره.

*لمر په دوو ګوتو نه پټیږي.

*لکه چرګ په کوزه کې ګوري.

*لکه چرګ په یوه پښه ولاړ دی.

*لکه سپې پټه خوله اچوي.

*لکه د ګاډي آس مخامخ ګوري.

*له بې عقل دوست نه هوشیار دښمن ښه دی.

*له ړانده څخه یو ځلي لکړه لوئیږي.

*له جنګه زه راغلم خبرې ته کوي.

*لونګ چې تور دی په تولو خرڅیږي سپینه د پروړه په خروارو خرڅیږي.

*له غوماشې نه پیل جوړ کړي.

*لکه چرګ په ډیرنو ګرځي.

*له خولې یې د شیدو بوی ځي.

*لکه د پچنو زغې ګاتې سې چیرته ولویده هلته ولویده.

*له بیکاره خدای بیزاره.

*له ما سره د کور غم له تا سره د نور غم.

*لاس - لاس پیژنی.

*لور په لوټه تیره کوی.

*له سره ئی د قورمی بوی ځی.

*لکه د گورچنجی داسی سره خوری.

*له مزد نه ئی شکرانگی زیاته شوه.

*لکه ځوسمار سپی په کورو وزی ننوزی.

*له هغی بلا مه ډاریږه چې شپه ئی په منځ کی وی.

*لیوه او میږی گډی اوبه سره چښی.

*لوټه ږدی له اوبو تیریږی.

*لقمان حکیم نه یی پوښتنه وکړه چې آدب د ی له چا زده کړ ویل یی له بی آدبانو.

( هرهغه څه می چې نه خوښیدل ځینی پرهیزمی وکړ )

*لیلا ښځه وه که نر.

*له خوږلی امید وار ښه دی.

*لاس ئی تور سپی ښتلی.

*لوټی ولی لاس شاته نیسی.

*لکه مچ خپل مخ وهی.

*له بدو ښه کیږی له ښو وابنه کیږی.

* لکه د سیوري غوندي په سر مي ولاړ دی .
* لا تر اوسه ئی د عقل غاښونه ندی پیدا شوی.
* له یوه کاغی نه څلوېښت کاغان جوړه وی.
* له کلی ووزه له نرخه مه وزه .
* لکه د خوسکی غوښه په خوله ، لاس پوري نښلی.
* د هر چا عمل د خپل مخ آئینه ده .
* له مات پاڼ او بی شرمی ښځی څخه وډار شه .
* له ژرندی زه راغلم ته وایی چې ورانه شوه .
* لالی می سوداګر دی پنډی وړی پنډی راوړی.
* له هګۍ لا را وتلی نده بیا مشوکی وهی.
* لیونی ته ئی وویل چې درمند مه سوځه . ( وایی اوس د را فکر که )
* لیونی پخپل کار ښه پوهیږی.
* له ځانه ئی شاداد - نمرود جوړ کړی.
* لږ خوره تل خوره .
* لکه تپوسان په مرزګه را تول دی.
* له ډیرو ویلو می په خوله کی ویښتان شنه شول.
* لا خو د په سر کی کوځی هم نده وریسلی.
* لا چاری بد مرض دی .

* لار په مزل لنډيږي.
* لر شي برشي په خپله ورينداره برابر شي.
* لار ميندلې مامئې پرې تللې
* لاس پرې تور مخ پرې تور.
* لاس چې تر سخرې ( تيږې ) لاندې شي په وروئي راکاږد .
* لاس د برې کار دی .
* لاس او پښئ په نکريزو دي.
* لاس وهه خدای یادوه .
* لا غل او لا .....
* لال پورد په ميږو پوره .
* لا کټ ته ختلې نه ؤ په ..... نوئي سر شو.
* لال په ايرو کې نه پټيږي.
* لامبو په ږيره نده .
* لاندې زمکه پاس آسمان تر دامينځه سلمان دی.
* لنده ژبه هرې خوا ته اوړی.
* لاهورې پور غواړې پيښورې نور غواړي.
* لا يار شه لا بيزار شه
* لټ د دوبې سيورې غواړي او د ژمي پيتاوي.
* لټ ئې د کور په وره کې غواړي که نه نوبيا ژاړي.

*لتپه ښځه ولور نلري.
*لرگی نه پیښو جوړه وی میاو به څوک کړی.
*لري د پرېښووی نه شم - له نژدی دکتی نشم.
*لري له سترگو لري له زړو. لري مي له سترگو لري مي له ځانه.
*لري مه ځه چې لیود د ونه خوري.
*لړم ته ئی ویل کوچ ! ده لکی په شا واړوله.
*لږ خوره ډیر گټه.
*لږ غږیږه ډیر کوه.
*لښته تنکی کږیږي.
*لغړه بربنډه ئی ولیدم زړه ئی راته وسو.
*لغته د هغی غواړه چې شیدی ئی خوري.
*لکه آبا هسی قبا.
*لکه اوښ په دواړو ژامو شخوند وهی.
*لکه بم (کونگ) په سترگو ویریږی.
*لکه په ځان هسی په بل شه.
*لکه طاوس خپلو پښو ته گوری.
*لکه چرگ اذانونه ډیر کوی لمونځ ئی هیچا نده لیدلی.
*لکه چرگ په ناوه زوړ شو.
*لکه چرگ په ډیران مه وهه بانکونه.

* لکه چې جاله وینی داسی که جالوان لیدی نو زړه به ئی ټک چاودی وی.
* لکه چې وینه ژاړی داسی مینه نه ژاړی.
* لکه چې ژرنده وی دغسی دوړه وی.
* لکه د آسمان کټ د شپې پیدا د ورځی ورک.
* لکه د آسمان څکالی د شپی پیدا د ورځی ورک.
* لکه د باډرو سپی په ملاستی غاپی.
* لکه د تبی ډوډی، نه مخ لری نه شا.
* لکه د خټکو غوایی په ملاستی سوټه کوی.
* لکه د خوب میتازی لاندی ووزی.
* لکه د ړانده په توکل سنت اخلم.
* لکه سوی په غټو ستر گو ویده دی.
* لکه سوی په رڼو ستر گو ویده دی.
* لکه د مهمندو خر اوچ کوهی ته .... نه اچوی.
* لکه سپېړی د اوو ژرندو وتلی ده.
* لکه لیوه پسه ته وائی چې ته اوبه ولی خړه وی.
* لکه شیخ چولی په شاخ ناست شاخ پریکوی.
* لکه کوټی د مور د مخه ځغلی.
* لکه گیدړه په لکۍ سړی خطاباسی.

* لکه لیونی خپل ځان ته خاندی.
* لکه موږک په کورتو پسی مه ځغله.
* لکه نصیب وهلی ښکار د گولی مخ له راځی.
* لکه نیت هغسی مراد .
* لکه هندو خپلی گوړی ته شمکورشوی.
* لکی د سل شه سرونه د سل مه شه .
* للی د مخه للی پسی.
* لمرخیره وهی خرکار پیتره.
* لنده لښته هری خوا ته کږیږی.
* لنډ کلونه اوږده ئی پیغورونه.
* لنډی توپک دی د خدای په رضا ډز نه کوی.
* لوخی د قام خیر نه غوښتونن یی هم په اوبو کی سر وچ دی.
* لنگیږی گډه (میږه) او.... نه گډ (پسه) اچوی.
* لور په غاړه میږ مرداره
* لورد لویو کورو غواړه کوچنی ته یی ورکوه .
* لورد مور کوځی گوری –زوی د پلار پټکی گوری.
* لور له مور زوی له پلاره معلومیږی.
* لوری تا ته وایم نږوری ته ئی واوره .
* لورئی خوږه مورئی ترخه زوی یی پوخ حرامزاده .

* لوړ د ښه دده که ژورد په هردو لعنت دېر .

* لونګ که ووړ دی له بويه موړ دی .

* لوی په کور وائی او واړه يی په صحرا .

* لويشت ونه او سپکه ..... .

* لوی مې کړی لوئی رامکړی.

* لويه ګوله هم ثواب لری چې د نس هم پکی خير دی.

* لوی سر کی ماتيږی.

* له ازاره چا بازار موندلی ندی .

* له بل به خپل ته وژاړی له خپل به چا ته وژاړی.

* له پلالی (پروړی) لاندی اوبه تيرد وی.

* له پليتی ښځی – له نړيدلی ديواله ، له ليونی سپی ځان ژغوره .

* له پيښی تيښته نشته .

* له جاهل سره چې وائی لکه چې ميخ په تيږه بيائی.

* له څاڅکو نه سيند جوړيږی.

* له خالی لوښی لوی آواز خيږی.

* له خزانی سره مار دی.

* له سختی مرګ نشته .

* له مرګه خلاصون نشته .

*له شنو سترګو شمکور ښه یم .

*له ښې مورد له ښه پلاره بلا زیږی تکه توره .

*له کوره په بیابان خوښ دی له ویشه په تالان .

*له کونډی سرد چې هر ثومرد ښه کوی دا به پخوانی میړه یادوی.

*له ګازری نه خوئی په تق کی زیاته مزد ده .

*له ما پیدا په مالګیا .

*له ماره مار ماهی زیږی له ګوسنې لتکه .

*له مړاوو اوبو وویریږه له تندو اوبو مه ویریږه .

*له مړو نه .... غواړی.

*له مورد که یویم له قامه خو یو نه یم .

*له میړه سرد سیالی شی له بخت سره ئی نشی.

*له ناکامه خلق هندو ته ماما وایی.

*له ویش ئی په تالان خوشحاله دی .

*له بی وزګاری ثخه د کور توچیچل ښه دی.

*لیلا ته د مجنون په سترګو ګوره .

*لیمه نه لنډیږی.

*لیونی ته ئی وویل د بری مه وله . ده ویل را پام د کړه .

*له بیکاری بیګاری ښه ده .

* له هغه سړي سره مه دریږه چې ونه دور سره برابره نه وي .
* لیونی ته وویل چې عورت د ښکاره شو ! ویل ئې دغه وُوه چې د ولید.
* لیونی په ژمي کې فالوده غواړي.
* لیوه په وازه خوله وهنه کوي ملک ئې په پټه خوله .
* لیوه که گیلي کړای ، لمړی به ئې له ځانه کړي وای.
* له واده نه وروسته بدلې نه بلل کیږي.
* لمرد غره په سر دی .
* له خدایه وویریږه .
* له بنده ئې مه غواړه له خدایه ئې وغواړه.
* له خدایه ئې وغواړه .
* له سیره څو پخیږي.
* له اور سره بازي کول.
* له خرس سره په جوال کې ځان اچولی
* لکه ډوم ډومک لک بک کیږي.
* لک بک کیږي.
* له اوره ایري پاته کیږي.
* له اړ نه ئې واخله په اړئی خرخ کړه .
* له بد بدترو ئی توبه .

*له بیکاره خدای بیزاره .

*له بې کفنئ مړ کیږی نه .

*له پزی پورته ورسره خبری نه کیږی.

*له وری خبری به غر جوړ کړی.

*له میاشی (ماشی) به غر جوړه وی

*له ډ ک توپکه یونفر ډاریږی.

*له خالی توپکه دوه نفره ډاریږی.

*له تاڅه پټ.

*له خره نه پی تر سری قیمته دی .

*له نه میړو ملک سویلو.

*له بیکاره خدای بیزاره .

*له خره ولویده وائی چې خرما می پیدا کړه .

*له وړو خطا له لویانو بخښنه .

*له ځانه چې پورته وګوری فکر وکړه له ځانه چې ښکته ووینی شکر وباسه.

*له درده ئی پاړسوب زیات شو.

*له لیونی نه مه . څه غواړه مه څه ورکوه.

*له خپلی ږیری وشرمیږه

*له ګیری (ږیری) لاندی ئی شیطان ناست دی .

* له خپل سیورې ډاريږي.
* له پلو لاندې اوښان پټوي.
* له سلو وؤ نه يوه نه ښه ده .
* له پزې ئې چې ونيسې ساه يې وزي.
* لاس د خلاص توره د تيره .
* له مات ديوال اوفاحشه ښځې لرې گرځه .
* لمر له مغربه نده راختلی.
* لاس ئې بې برکته ده .
* لاسونه ئې په اوږو دي.
* ليدلی پښيمان نالیدلی په ارمان .
* ليونتوب خوخه ښکرا ولکې نلري.
* ليک (خط) نيم ديدن دی .
* له خوشحالی نه په جامو (کالو ) کی نه ځائيږي.
* لړل -تيل .
* لړل -ختيل .
* لار په مزله لنډيږي.
* له ذاته کم اصل دی .
* له هره طرفه سې مړه سې د اسلام خير ده .
* لږ ډير خوری .

*له قوی دښمنانو تیښته سنت طریقه ده .

*لږ خوره ، تل خوره .

*لږ خوره ،غم مکوه .

*لیوه که اوخواړه اوکه نه خو له ئی سره ده .

*لیوه د میږی په جامه کې.

*لکه مار په سینه روان دی .

*لټو تا ته بی گټو.

*لیوه که غوښه وخوړه اوکه نه خوله خوئی سره ده .

*له ما زوکیدی په ماسپریدی.

*له ځانه ئی لیونی جوړ کړی په هرچا خولی لگوی.

*له ځانه یی سپین چر گ جوړ کړی.

*له شگو پړی نه جوړیږی.

*لیدل تر لیدلو فرق لری.

*لیدل تر اوریدلوفرق لری.

*له ویلو نه ویل ښه دی.

*لیلا بیا په کلی ولاړه –لا به لچ راوړی لاغاړه .

*له شگو ځلی نه جوړیږی.

*له ما سره ډغری وهی.

لا تر اوسه ئی ماغـــزه په قـــرار ندی
چا چې ما سره وهلی سر په سنگ دی

*له ډیره خیاله د لونګو لو نه کوی.

*له واده ئی په سورنو (ډولو) ډیری ولاړی.

*له ګلو دی په غنچه خوشحاله شوم.

*لکه ماهی په ګورت کی نه تکیه کیږی.

*له فیلانوسره تهانتی مه ژویه.

*له یوه کاغی نه د کاغیو ورا جوړه وی.

*لاس د بری کار دی.

*لاس-لاس پیژنی.

*لږ می درکړو خوند ئی درکړو.

*لږ وایه ډیر اوره.

* لوبی په پیسو کیږی.

*لنګه زه شوم رنګ د تا زیړ دی.

*لوری! تا ته ئی وایمه انګوری ته ئی اوره.

*لوری! ګرانه به دی وایم ځوک به دی نه واده کوی.

*لوئی د خدای له کرمه لری ده.

*لیونی ئی که بنګ د شکلی دی.؟

*له ځانه ئی شا شی جوړ کړی.

*له ځانه ئی د انځر ګل جوړ کړی دی.

*لاری می پوتی کړی.

* لاره ئې شیطان وهلې ده.
* له خپله لاسه ورسیږی.
* له خپله لاسه مې بلا وموندله.
* له بد بد ترومې توبه.
* لاس پاکونې دی.
* لاس کتویه ده.
* لکه د گور چنچی یو بل سره خوری.
* لکه اوښ اووه جایه یې حلال که.
* لکه د سپی مچ په سری پوری تینگ نښلی.
* لکه پمن سپی څوک ئې خواته نه پریږدی.
* لکه پمن اوښ ډډی گره وی.
* له خیره مې دی توبه شر مه رارسوه.
* لاس چې مات سی جوړیږی زړه چې مات شی بیا نه جوړیږی.
* لمونځ هم پخپل وخت سره کیږی.
* له غلو - غلاکوی.
* لکه د وریځی لمر کله ورک کله پیدا.
* لکه د وریل خر په وچه ځمکه تیږیونه وهی.
* له عقله کاروا خله.
* له ځانه ئې د سلطان محمود لتهان جوړ کړی دی.

* له ځانه د سلطان محمود لټ مه جوړ وه .
* لټ غوايي په پړه کې ښملي.
* له سلو علاجو يو پرهيز ښه دی.
* لاس ، پښې ئی را ته وتړه نورئی ما ته پرېږده .
* له خپلې خولې مې زهر خوړلي دي.
* لوخې د قام بدغوښتل سرئی په درياب کې وچ سه .
* لکه غنم په خيته چاودلی .
* له پيښې ،تيښته نشته .
* لکه نوروز په ښکاره کې ګډېږي.
* له تروو چې مزې غواړي.
* ليکلی نه ړنګېږي.
* لکه ړنده خره ..... په سوه غواړي.
* له ښتې د يوال ده له مخې انګار دی .
* لړ ئې ځينې کړي.
* له تېوکو جنګ جوړېږي.
* لوټه په مخ ولې ، لاس ترشا نيسي.
* لکه مې په يوه مخه رغړي.
* له ښادي د خربږم نه .له غمه د خلاصيږم نه .
* له يوې خوا بې مزې وه .له بلې خوايي تاو په سه ، دانه

ټینګیږي.

*له وادهٔ ئي په ډولو ډیرې ولاړې.

* لـځه له ما مه ځه. سې زه ځم ته راسره ځه.

*لیوه که سوګلې جوړ ولای شوای اول به ئې خپل ځان ته جوړې کړې وای.

*لکه د داښ والا چاتې جای په جای ډکیږي.

*لکه د ترژمې سپې په اتکل غاپي.

*لیونی په کلې پورې پکو وه ،کلې په لیوني پورې.

*لویه ګوله وکه. لویه خبره مه که.

*لعل پوره له زنو پوره –په ګشته کې ځوانان شته.

*لکه د هندوانو تولپک د دوزخ او جنت تر منځ پروت یې.

*لکه هندو خپلو وینو ته ژاړي.

*لاندې هم فتح خان باندې هم فتح خان.

*لنډه خوښې اوږد کړاو.

*لاس مې تور سپې ښتلې دي.

*لغ په خوب کرباس ویني.

*لرګې تراشه سرې ترې جوړ وه.

*لږ به اوخورم اوسا به اوسم.

*لږ ویل ډیر کار.

* لکېږه هم کږینگه بږینگه دد.

* لکه لوږ هسی څوږ.

* لکه دشت هغسی گشت.

* لکه ژرندد هسی دوږی.

* لکه نیت هسی مراد .

* لکه آبا هغسی قبا.

* لکه ادی هغسی پایځی.

* لکه ځان هغه جهان.

* لکه مخ هغسی چاپیږد.

* لنډ کلونه اوږد د پیغورونه.

* لور زیږول ښه دد نه خوشی کښینستل .

* لوئی غاپی کم ئی تراپی.

* لیونی چه په صحرا ځی د کونی ئی برښنا ځی.

* لیود چیچی خاندی نه.

* له لوړی مږ شه د منت خواږد مه خورد.

* لکه د میزان تله کله کته کله پورته.

* لکه تبې د واږد مخه ئی تور دی.

* له نه زویه نه ورکیږی له بیکاره زویه ورکیږی.

* لرسی برسی ماته برابر سی.

*لغ وهه لغۍ وهه- لکړه واخل سپی وهه.

*لږ خورد هوسا به اوسی.

*لکه مال هغسی روی مال.

*لکه ږدن تر لپه مه توئیږه.

*لکه کسف خپله هگی په نظر پخوی .

*لا د توره شپه وخوری - لا د خپله خوله وخوری علاج ئی نشته .

*له خپله کوره بلا باسم د تا په کور ئی ننه باسم .

*له ما سره چه گرځی شادانی به خوری .

*له خدایه سی پتهٔ نه دد له بنده به ئی څه پټوی .

*له خوړلی امیدوار ښه دی .

*له شرمه د ورځی توت نه خوری - د شپی له پچو سره وهی .

*له اجله مخکی ئی پښی غزولی دی .

*له اجله مخکی مرگی نسته .

*لږ وایه ډیر کوه .

*له مکی زه راغلم زیارتونه ته راښیی .

*له سلیمانه راهیسی دا نن ښادی دد .

*له یود لعله (لاله ) دوه پچی ښی دی .

*له بی پیر سره بی مذهب جوړیږی .

*لاس د اووینځه له ژونده که غلط شوی د دښمن په خوشامنده .

*لټ د دوبي سيوري غواړي ، د ژمي پيتاوي .

*لرګي تراشه سړي جوړود .

*لږ خورد طبيب ته به نه ئې اړ.

*لکۍ که ډيري وي سر يو ښه وي .

*له سياله سرد سيالداري کړه له همزولي سره رازداري کړه.

*لکي ښه دي که پتي ؟ ويل پتي ښه دي.

ناست پخپله بوريا ښه يمه په پټ کي

نه د تخت د پاسه ناست د بل کره بې پته

*له سپي وفا له ښځي جفا .

*له پيس سړي نه به لار چپوي .

*له بدو ښه پاتيږي له ښو نه واښه .

*ليوني خپل تيز ته خاندي .

*له پړوي کورد خپله خيمه ښه دد.

*له غريبي په ژرنده کي ناست دد له کبره مزد نه اخلي.

*لويه خبرد او لويه ګوله مه کوه.

*لس واري ئې کچ کړه يو واري پري کړه.

*له ويلو نه ويل بهتر دي.

*لکه سيرلي پخپله مور خيږي.

*له نه وسه مي دد که خوريي.

* له خپلې ښځې سره پیښې غزه وه.
* لکه چرګ په .... کې مشوکه وهي.
* له بې غیرته زویه نیک عمله لور ښه دده.
* لیوه وزی ته اوبه ورخړ هولي ویل ئی که بهانه ده خو دا بها نه دده.
* له نه رسیدو وروسته رسیدل ښه دي.
* له بیخه او بنیاده ئی ورک کړ.
* لکه سپي، پخپلو کونګرو ..... کوي.
* لیوه ته ئی نصحت کاوه په هغه ورغ ئی دوه وخوړې.
* لکه سي درونه بار سوي!
* لر ګوره ، برګوره د ګوډ سړي لښکر ګوره !
* لا به مرګي، نه وي لا به دبې نه وي.
* له لوړې مړ شه خود منت خواړه مه خوره.

م

* مکود په چا چې وبشی په تا .
* ماهي په اوبو کې نه رندیږي.
* مال چې خاوند ته نه وی ورته حرام دی .
* ما الله نورژاړه مانورئی په خره سپور زاوړ.
* مار په پردی لاس مه وژنه .
* مار ته په لستوني کې ځای مه ورکوه .
* مار دی زخمی که مړ د نه که .
* مخکی له مرگ نه ئی پښې غزولی دی.
* مخکی له مرگ نه ئی ستوری ډوب شویده .
* موږ چې غله شو سپوږمی راوخته.
* میړونه غرونه ښځی اړه مونه .
* مه وهه د چاور په گوته ور به دی ووهل شی په لغته .
* مه دومره ترخیږه چې څوک د لری وغورزوی مه دومره خوږیږه چې څوک د شوی (تول) تیر کړی.
* موږ د وږی له حاله څه خبر دی.
* مار خوړلی له پړی بیریږی (مارچیچلی له پوړی نه داریږی) .

* میړونه مري او نومونه ئې پاته کیږي.
* میړه مړ کړه میرانه ئې مه ورکوه.
* میړه مړ کړه غیبت ئې مه کوه.
* میږي ته چې خدای په قهر شي نو وزر ورکړي.
* مار هر څومره چې کوږ کوږ ولاړ شي غار ته سمیږي.
* مات پاڼ نه وویریږه.
* مړي چې خدای شرموي په تخته ئې ... ل ولاړ شي.
* ملنګ چې ال بولي ( وائي ) څه به مومي.
* ما ته ئې چې راکوي په غلبیل کې ئې راکړه چې تر کوره و نه رسیږي.
* ماهي هر وخت چې له اوبو وباسي تازه دی.
* مړ دی وي په سرو اوښو نه په سپیرو خرو.
* مړښت یاد هندوی زوی او یا د میږي زوی (بچي) سیلي شي.
* موسلي وای چې ځواني وای.
* مال خپل ساته همسایه غل مه نیسه.
* مميز بې خلې ندی.
* مست لیوني ده.
* موږک په غار نشوای ننوتلی چچ ئې تر شا پسې نیولی ووه.
* مچ څه کوي زړه بدوي.

* میړه خیټه فارسي وایي.
* میږي ته پرخه هم طوفان دی.
* مات لاس د غاړي امیل دی.
* موږ د وږي له حاله څه خبر دي.
* مفت شراب قاضیانو هم خوړلی.
* مار په خزانه پروت دی.
* مار ئې آخیر له خپل لستوني راووت.
* میلمه د خدای دوست دی.
* مخامخ صفت حلالول دي.
* ماشوم د لندي لښتي مثال لري هري خوا ته ئې چه تاوه وي تاویږي.
* میاشت له اوله معلومیږي.
* مکر له ښځو زده کړه.
* ما پور غوښتو تا نور غوښته.
* ما په آسمان غوښتي خدای په ځمکه راکړي.
* مچي چي واړه غلي شي خپل ګبین خوري.
* ما چي هندو میړه کوو خولپاره د ګوړي.
* ما خواست که تا را ته لاس که.
* ما دیرش روزي د آختر د پاره نیولي.

* ما راوړي مار خوړلی.
* مار ته چې بدبختي راشي له غاره راووزي.
* مار په خوږه ژبه نيولی شي.
* مار په چنګښه مين شو.
* مار چې غار لره ورشي نو سميږي.
* مار خونه يم چې خاوري به خورم ؟
* مار د مار نه ويريږي.
* مار د لنډي کو مړدی نه کړو.
* مار مار نه خوري.
* مار وژلی ښه دی تربور وهلی ښه نده .
* مار له شين شوبی زغاست شين شوبی د غار په خوله کې ورته شين شو.
* مار وژل او بچې ئی ساتل . ؟
* ما زړه د رښکاره کړو ته په سرو پسی زغلی.
* ما ستا د شرح ملا وارليدلی وو.
* ما کور کړه مرګی راخپور کړه .
* ما کوډی ښی ته کولی بد وته شوی .
* مال په دهقان سپاره دهقان په خدای.
* مال ئی خپل قدر يی په بل .

* مال د لاړ شي ،سر د لاړ شي ، پت د نه ځي.
* ما ماما بللی ته رانه یاری غواړی.
* ماما مي هغه دی چې گوړه راکوی.
* ما له خندا نه راځی اوستا له پاره هی هی !
* ما له ښه کړه اوماما ته پښه کړه .
* ما مه شمیره درگډیم .
* مجلس تاثیر لری.
* مچ ویل که د پیغلی په مخ اومرم مړ نه یم .
* مچ په لاس مه بوږ نه وه .
* مخ پټ او.... په ختې .
* مخ په یوه لاس نه مینځل کیږی.
* مخ څه په تبی تور څه په گوته تور.
* مخ د مخه شرمیږی.
* مخ - مخ اوشا شا .
* مرغان په ښو ښه ښکاریږی.
* مرغان هغه سره کښینی چې ښکی سره ورته وی.
* مرغه چې هگی واچوی بیا کړاغ - کړاغ کوی.
* مرغی چې له سیله بیله شی نو وره کیږی.
* مرغی که بیله شی نو سیل نشی ورانوی.

* مرگ او خوب یو شی دی.

* مرگ په یو ځل دی خو په نامرد هر ځل دی.

* مرگ حق دی گور کفن په شک دی.

* مرگ په ماړه نس ښه دی.

* منه دوی له ولی دی وی.

* مرگ له ایمانه سره ښه دی.

* مرگ هم د ډیرو پرده ده .

* مرگی د اوبو وار دی نن په ما سبا په تا دی.

* مروت یا په کوړد یا په ډول مین دی.

* مرور دوی برخې لری.

* مرئی (غلام) ته ئې ویل را د نیسم –ویل ئې ستا اختیار دی، ویل ئې تښتی خو به نه ؟ ویل ئې زما اختیار دی.

* مرئی په مستو مست وی.

* مرئی چې په خره سپور شه قندهار وهی.

* مرئی چې کاکا شی سر ئې لوی شی.

* مریی که د سروزرو وی کونه ئې د سر ولو دی .

* میړانه د میړو جوهر دی .

* مړه اورته پو کې چې لمبه شی.

* مړ به شی موړ به نشي.

* مړ خوهله شي چې ساه ئي وخيږي.

* مړ، گرم نه سره برابريږي.

* مړول د وړي گيډې آسان کار دی مړول د وږو سترگو آسانه نه دی.

* ميړونه مري او ميړانه ئي پاتي کيږي.

* مړه گيډه فارسي وايي وږي گيډه بات کرسي وايي.

* مړی په گور ژوندی په کور.

* مړی څوک په لغته نه وهي.

* مړی څه کوو وير گرمو.

* مړی شته او ژړا نشته.

* مړی په ژړا ښه ښکاري.

* مزدور چې له کاله تير شي نو د کاله واکدارشي.

* مړی ښيری نه کوي چې کوي يې بيا کفن چيري (بژه) کوي.

* مړی خاندي نه چې وخاندي بيا کفن شلوي.

* مزدور چې نور کار نلري وربه پوري کوي.

* مږک چې کور په ژرنده کې لري غم ئي څه ده.

* مږکانو گړ نجوني جوړ کړ ويل يې د پشي په غاړه کې به ئي
څوک ور واچوي.

* مسافر له خيره پوښته له شپوئي مه پوښته.

* مسافري اوم سړی پخوي.

* مسلمان ئې که د دامان ئې.
* مشرانو کور تالاکړی دی خو مجلس ئې ندی تالا کړی.
* مشر د کشر پل دی.
* مشر د مشرۍ ځای لری.
* مطلبی په ختپه اور لګوی.
* مغل په دهقان زور کړو دهقان په خرو..
* مغذی زمریان ماتوی غوښې ګیدړان خوری.
* مکی نه زه راغلم او کانی ته دموی.
* ملا په خپله خونه ویرېږی.
* ملا ته خو به ډېری مسلی وکړی خو زمونږ کلی ملا نه نیسی.
* ملایان د دین ستنی دی.
* میر علی به په تورو انځر وکی څه وائی.
* ملا هم پاک مسواک ئې هم پاک.
* ملا ئې غواړی خان ئې اخلی.
* ملک خراړو وران کړو بدنام کارغان شوه.
* ملکی به د زده نه وی د چا به پوزه پریکړی.
* منډه د سپی ښکار ئې دخاوند.
* موږ کان ئې په کور کی بازی کوی (موږکان ئې په کور کی ډالبازۍ کوی)

* منکر نر دی قائیل خر دی.
* منگوټی که د غوزانو ډک شي نو بیا سیر شرشم پکي ورځي.
* منگی کله کله ماتیږي.
* منگی په یو ځل ماتیږي.
* منگی هره ورځ نه ماتیږي.
* منگی سور دی د اوبه ئي سړې دي.
* منگی که مات شو که مات نشو آوازئي لاړ.
* مو (ما) په آسمون غوښتی خدائي په زمکه روکړي (راکړی).
* مو په غره غوښتي خدای په سمه روکړي.
* موټی نمونه د خروار.
* مو چې پولالی (جولا) میړه کوو دگڼ پړ دوگه هیله مې کوله
* مو چې ځاپ ولي اربشي وی.
* مور او لور جنگ وکړو کم عقلو پړی باور وکړو.
* مور پلار ئی په قاضي هلکان ئي په بازي.
* مور ئي بتیاری لور ئي ملکه.
* مور ئي چې درخانۍ وی لور ئي شاپیرۍ وی.
* مور ئي شوملي په گاونډ کی غواړي او لور ئي د لاري سترې راستونی.

* موزی خته نه مونده چې وئی مونده وایی چې شل گزه ندد .

* موزیگی نه کونډه ښه یم .

* موږ د پ‌ه هډوکو نه راګډوو ته په شوروا راګډ شوی.

* موږ راغلو ناوی له ناوه ولاړه میلوله .

* مه ځه په هغه لار چې نه د مور پری ځی نه پلار.

* مه خوشحال وای مه خان وای خوځوانی وای.

* مه د چا راته پاته کړی مه می چاته پاته کړی.

* مه قلبه کړه مه شود یاره خدای به ئی در کړی په تیاره .

* مه کرل کړه مه ریبل کړه توری ځنی اړول کړه .

* مه کوه په چا چې وبشی په تا .

* مخکی له مرگه پښی مه غزه وه .

* مه مری زویه وروړ دی رانه هیر کړو.

* مه وایه په ما چې دربشی په تا .

* مه ئی وهه ماغزه ئی وهه .

* مه ئی وهه چې ویه وهل شی.

* میاشت د ورایه ښکاری.

* میراث د هغه ته پاتی شه چې هم ئی خوری هم پری ژاړی.

* میړنی همیشه د خندنی دلاسه مری.

* میږو له خندا موندلی ده .

* میړو ته گورډ برخه ویشه.
* میړه ته مه وایه چې میړه گیه.
* میړه څه وهلي څه پوري وهلي.
* میږی په پچه وختو کابل ئي ولید.
* میږی له ځان لوی بار وړی.
* میلمه خپل نصیب خوری.
* میم زورما واړه زما.
* مینه د زړه ژړا د سترگو.
* مین یم مگر ځان سند ته نه اچوم.
* مه خانده په چا وبشی په تا.
* مړی د ژوندو په لاس دی.
* مه وکی هغه منډه سی می ..... سی برمنډه.
* مخ ، ختې ئی نه معلومیږی.
* میاسی (غوماشی) په هوا کی رگ وهی.
* میلمه ته میلمه وار د کور خاوند ته غوږ اوچربه.
* مکړه هغه کار چې نه دی مور کړی نه پلار.
* مارته په لستوني کی ځای مه ورکوه.
* مړی شته ژړا نشته.
* ماعجب زاړه رجب ئی په خره سپور راوړ.

* مستوفي ئې هم حساب نشي نيولای.
* مړ د هيله مکوه.
* ماهي ويل چې ما به خبرې کړې وې چې په خوله کې مې اوبه نه وای.
* مورئې په کلي شورمبې غواړي، لورئې چارک اوړي په غاړه گرځوينه.
* ما په آسمانو غوښتې خدای په ځمکه راکړې.
* ما ته کشتې ساحل ته نه رسيږي.
* ملاچې ته سر تور شوی دا مې (عامي) نه څه گيله ده.
* مرغې د باران په ورځ نيسي.
* مږد (پسه) له ويالې توپ واچاوه لم ئې پورته شو وزې وخندل چې .... د معلومه شوه!
* مستوفي سند غواړي قاضي شاهد.
* مناجات – خرابات.
* ميږه تا نه نه ئې پوښتنه وکړه. چې سر دې ولې غټ ده؟ ويل ئې له غيرته.

ځينې وې پوښتل دا ملا د ولې نرې ده؟ ويل ئې له کاره څخه ده... نه د ولې لويه ده؟ ويل ئې: سرې.... . . . . . . . . نه يادوي.

* مفت کش ده.

* مړی چا ته له درځی نه را لویږی.
* ما چی د خاوه مړی لیدلی د ما کور غمږی وتلی.
* مميز د راوړی شړه پا کا -گازری به دی راوړی وی چه خړه پا کا.
* ملا صاحب په لمانځه کی رحمت الله یادوی او بابړنه یادوی.
* میړانه د هرچا د ځان دی.

چې پخپله میړه نه ئی په دنیا کی
نو به فخر پـــه بابا کـوی تر کومه

* ماته دیوه لاس گوتی دی.
* ما خوځه بنگړی نه دی پلا س کړی.
* ماځان ته پخپله اور وکارد.
* ما خوداسی ورځ د خدای ته غوښته.
* ما در ته میدان جوړ کړو تا پکی چورلک اوخوړ.
* ما مو ته بیا د موته.
* ما بیله دی هم لاس په ختبو کړیدی.
* ماهی دد په یود ډډ د رغړی.
* مرض خوغرونه ویلی کوی.
* مرگ د ارمانونو پلار دی.
* مړی چا په ژړاندی ژوندی کړی.
* مړی کله په قیامت نه دی رضا ؟

* مړی په ژړا درنیږی – واده په ډنګ ډونګ.
* مه مې په چا پسې کړې مه څوک راپسې کړې.
* ماهي بې تیغه حلال دی.
* میلمه د پرده دی کور په صبا نه پوهیږی.
* میم زور ما تبوله زما.
* مینه په وینه کیږي.
* مرګ د هرچا میلمه دی.
* ملا مړ مال ئې تالا.
* ملا ګوری شا ته ګوری.
* مړی په هدیره کې ګوره.
* مړی د فلانی کره خوری او تیغونه کور باسی.
مرګی خو په زړو وړو نده خو په هرچا ده.
* مرګ او روزی په حق دی.
* مړی د په مړی پروړی د لا زه یم ؟!
* مه تیره خبره کوه مه تیره توره ګرځوه.
* مسافر ښه وی دیدن کیږی ورک د مرګی سی سړی له دنیا نه ورکوینه.
* مسافر ښه وی دیدن کیږی ورک د مرګی سی چې بیا نه وی دیدنونه.

* مړی او ویده یو مثال لري.
* ما د سر وینښته باد ته نه دي سپین کړي.
* ما پیرګی زاړه علي ګی یي په خره سپور راوړ.
* مرغان هغه سره کیني چې بڼې ئې سره یو شان وي.
* موږک واده ، واده لري ، پشی رابولي چې په غم ئې ولړي.
* مستي له غلي ده ګرم چرس ، بنګ دی.
* مزدور چې ځان هوسا کوي په اودس مات ورځ تیره وي.
* مسافره کور د چیری ؟ ویل ئې هر هر چیری.
* میږوی خیژی خو ول تینګیږی.
* میړه په مرګ مري په عذر پایی.
* ما دا توروینښتان تاته سپینول.
* ما دا توری ماتې تاته سپینولی!
* مخي ته انګارده له شته ديوال ده .
* ماد عزت که تا چیری ځان غلط که .
* مړ هلته سي چې ساڅینی وخیږی.
* مړ..... نه کی چې وئی کی کفن خیره وي.
* موچي ویل : که مي کوته وسوه ،دیوالونه خومی پاخه شوه .
* ماما ستړی مه شي خورزی خبره به شي.
* میاشت له اوله معلومیږی

* مالداري او دينداري د سره لري.

* مري خو مري په ځان ولې نا وخته کوي.

* موريي په اته لورئي پهشپيته.

* مه چتکې په واده کې -مه واده د چتکې وکي.

* مېړنې هميشه د خندنې د لاسه مري.

* مېړو ته گوره برخې وېشه.

* مېړونه مري او مېړاني ئې پاتې کيږي.

* ميلمه د کوره شړلي ښه دي نه په گيډه نهر.

* ما خو ماما ماما بللي چه نيمه شپه شوه ماما گرتي غزولي.

* ميلمه چه راشي نصيب خپل خوري د کور خاوند چه خفه کيږي خوشي ....... خوري.

* مزدور بې مزده نه پاتې کيږي.

* مستي هم خرخوي مخ هم پټوي.

* مه خوشحال واي مه خټک واي مه خاني واي چچ پلاس تور مصلي واي چه ځواني واي.

* منه دوي له ولې دوي.

* مدعي سست او گواه (شاهد) چست.

* ما ئې امر الدين ژاړه قمر الدين ئې په خره سپور راوړه.

* مړه گيډه پارسي وائي.

* مال حلال نه ښینکي په سر نیولی.

* مار وژل بچې ئې ساتل؟

* مځکه مور ده زر زېږوي.

* مستي ګیدړ خوري خوله د ازګړي ککړه کړي.

* منډي لالا وهي ډوډی د عبدالله وهي.

* منډه دي وي منګر په مزه دي وي.

* مور نه میر ده کیږي.

* موږ بزر ګرد پر کور میلمه مه سه.

* موزی لائق ده د شړي ګزبره به ئې اغوسته.

* مه غولبه که مه شیدا ره خدای بی د رکي په تیاره.

* میړه څه وهلي څه پوري وهلي.

* میړه یا نیک نام یا بد نام.

* میلمه څه خوره څه پریږده.

* میلمه سړلي ښه دي نه په ګیډه نهار.

* ملنګه ایل که خیر غواړه، زه به کچکول کي سور پیزوان دراوچومه.

* مقرره نه ردیږي.

* موزي که خوري روته د وخوري زه ناجوره څانته چرګ حلالومه.

* ما ویل یو موزی دوس ده – په دوسانو ئې پتي کرلي دینه.

* ما ویل چې ښنګي به یار کړم - خبره نه وم چه ناز ولي ځان به خوار کړم.
* ملا سی د چینبتن په رنګ نه وی حرام دی.
* مړ تت بلا تر کوت.
* ملا ویل : نن په واریم د درنازی - نور ویده سترګی می وازی !
* ملا ویل : نن په واریم د اوړدی زه به خورم خاوری آیری.
* ملا ویل : نن په واریم د ګردی زه به ځم په لنګتی.
* مخ په لاړ و پاکوی !
* مخ په لاړ و نه پاکیږی.
* مخ پټ کونه ښکاره.
* مرګ اسانه ، پالندره ئی ګرانه.
* مه که د چا ویارو یار په وره پوری ولاړ.
* مینځه چه توده شي - وری ویده شي.
* مستی یږ و خوړی خوله ئی دوزی ور ککړه کړه.
* مار چیچلی له تور پړی ډاریږی.
* ملک خپل کړه ، کلی چور کړه.
* میلمه د کوربه په واک کی دی.
* میم زورما تږله زما.
* میړنی د چه یاد یږی.
* ملا خوبه ډیری مسئلی وکړی که آمی (عامی) ومنی.

* ملا به ډېرې مسلې وکړي که څوک ئې ومني .
* ملنگ چه ال – ال ناري وهي څه به ويني .
* مکوه په ما وبسې په تا .
* مورکه ! خاوره کنه خاوره د په کونه .
* مچان غلطوم .
* مار زخمي کړه ميږو ته ئې پرېږده .
* مال خوږ دې خو د اولاد نه خوږ نه دې .
* مخکې څه خو بير ته هم گوره .
* مرگ په بانه دې دولت په هيله دې .
* مرگ يو ځل (يو وار) دې .
* مړي مړه شي او ژوندي خپل روزگار کوي .
* منشر د خرو هم شته .
* مور ئې رنگ گوري ښځه ئې څنگ گوري .
* مور د وړې له حاله څه خبر دې .
* ما نه پيدا په ما لگيا .
* مار تير شو لاري پاتې شوه .
* ملا مې کړې د ځان بلا مې کړې .
* مرغۍ چه له سيل نه ووزي باد ئې وړي .
* ما د توري گيدړې پوستکې اغوستې دې .
مار په دښمن مه وژنه .
مار ئې لنډې کړ نوريې پريښود .

# ن

* ندې خدای په کورکې بد پتېکي لوي کې نه د خدای بد تېکري.
* نوم ئې لوړ کورئې ډ ګر.
* نرمه غاړه چاړه نه خوري.
* نیمه ورغ ئې په ځان نیت بدوي او نیمه ورغ ئې په بل.
* نه مې وړه خوړلې نه مې د خولې بوي ځي.
* نرښځې څه د د چه تورد به ئې وي.
* نر د اومره نر د زیږه.
* نا بلده غل ستورګي (غوجل) ته ننوزي.
* نه ملا سوي نه عامي سوي د پلار مینه د وغو وه جولا شوي.
* نه خر مرداریده نه سپي ځیني ته.
* نمک حرام دي.
* نظافت نیم ایمان دي.
* نه جاي شته نه جولا.
* نه ګور لري نه کفن.
* نیکې او پو ښتنه.

*نه ئې سر معلوم ده نه پښې.

*نیمه مړی راحت د ځان یوه مړی بلا د ځان.

*نه دې ما خدای چاته پاته کړې نه دې خدای ماته څوک پاته کړې.

*نه سیخ سو ی نه کباب.

*نه دین سو نه دنیا.

*نه ئې نه ده اوئې او دې.

*نیني په غلا نه چیچلی کیږي.

*نیکی مه هیروه.

*نا پوه ئې په سلو کالو گټې په یوه ورځ بایلې.

*نا خبره (نابلده) د مرګي لیوه دی.

*نا دیده برستن نه درلوده چه پیدائې کړه تر غرمې پکښې پروت وه.

*نا راسته سړی په وچه ځمکه ښویږي.

*نا دیده چه په دیده رښا ورځ پرې توره شپه شې.

*ناسته ښځه ښار کوي ولاړه ښځه کار کوي.

*نا شنا غل د ژرندیې په ځای جومات ماتوي.

*نان ګدای ښه ده نه ځای ګدای.

*نا واده کړی خبرې نه وې وادو کړو حال ویلی ندي.

*ناوې تللې په خړې، ورائې پنډه په نغري.

*ناوې هې هې لرې خو په زړه کې ګوره ماتوې.
*ناوې په خوله ژاړې په زړه کې ګوړې ماتوې.
*نر پسه د حلالولو د پاره دی.
*نر پسه د قربانۍ د پاره دی.
*نر ځوان د موزي د لاسه مري.
*نشته داسې لورې چه ور وتښې کمزورې.
*نښتر چه زړېږي غوړې یې کونې ته لوېږي.
*نصیب کته کړي خردې چه چاوینو هغه نر دی.
*نعمت پس له زواله معلومیږي.
*نغری له دښمن نه ډک ښه دی نه له دوسته خالي.
*لمونځونه معافول روژې ور په غاړه کړي.
*نن په ما سبا په تا.
*نن د خان د کور اشر (حشر) دی پخ (پوخ) کړې ئې د خره سر دی.
*نن دی که سبا دی دا ملک د زرغون شا دی.
*نن شرم دی سبا شرعه.
*ننګرهار نیم نهار.
*ننګ له میړو ولاړ شرم له ارتینو.
*نو خیزه بلاخیزه.
*نور خلق کارونه کوي د کوندې زوې ښکارونه.

*نور د غر سر وهی نا مرد خپل تبر وهی.

*نور یو منزل کوی سپی دوه منزله کوی.

*نوی نوکر په منډه اوسی نیسی.

*نوکه اوری د دښمن په کور او وریږه.

*نه پیژندنه نه پیژندنه ماما شکری راکړه.

*نه اوری نه گوری سر پټ بدلی بولی.

*نه به تل دا سره اوښان وی نه به تل دا ناصرخان وی.

*نعلو نه خو اسانو سره ښایی.

*غنم د میچنی زوی د خچنی.

*نصیب له ما هم گرندی دی.

*نن دی که سبا دی محمد گل اوبو وړی دی.

*نوک او وری نه سره بیلیږی.

*نوک کی سوک ځای کول.

*نوم بد گریوان خیری.

*نوم خان کورئی وران.

*نولس شل کیدی نه اوبیرا اخیسی نه.

*نوی جونه راغلی نوی دودئی کیښود.

*نوی خان نوی نشان.

*نه به د دانه موږ کړی نه به د ځاخکی سوږ کړی.

*نه پوهیږم چه ورتنګ شو که خرغټ شو.

*نه تا څه کیښول نه ماڅه پریښول.

*نه تا غل نیولی وه نه ماچیرته غلا کړی وه.

*نه جغ کوم نه سپاره خدای به ئی راکړی په تیاره.

*نه چا چیری تلی نه را غلی.

* نه چج نه هزاره د فلانی د سترګو وکړه نندارهٔ.

*نه خر وهلی نه لښته ماته.

*نه خوړلی نه څښلی پښتورګی درد نیولی.

*نه د چا کور نه د چا کلی.

*نه دی بی مالګی خوړو مزه شته نه پردی زویه ګیله شته.

*نه ښه حاله الوته شته نه د بده حاله مرګ.

*نه د مړو د ژړا وی نه د ژوندو د دلاسی.

*نه د دی جهان شوی نه د هغه.

*نه د دین شوی نه سادین.

*نه د میړه توره شته نه د نا مرد پیغور.

*نه د هل دی نه د غوبل.

*نه د غیلی پیایم نه د ګاړی ختم.

*نه د کورت خورم نه غوړی نه د سوک خورم نه سوټی.

*نه سړی هندو دی، نه بوټی سپیلنی ده او نه ځناورخر دی.

*نه غل یم نه د غلو مل یم.
*نه کرلی نه ریبلی خواری دا غوبل د چا دی.
*نه کرم نه ریبم توری ښتې اړوم.
*نه کور ورک نه دود ورک.
*نه ملا شوی نه امی شوی د پلار مینه د ورکه کړه چرسی شوی.
*نه منی نه منی طوطا رام نه منی.
*نه ئی پلار وو خیرات کړی نه ئی مور وولری ویشلی.
*نه ئی خوری نه خورندی ته ورکوی.
*نه ئی پخپله خوری نه ئی بل ته ورکوی.
*نه یو وخت نه بل وخت راغی د غوبل وخت.
*نیت پراخ مراد حاصل.
*نیت سم نیسه اول ئی په دښمن نیسه.
*نیت می وتاړه په پړی مانو گیت وهل په کلی.
*نیستمند خدای کړی دا سپی چا کړی.
*نیستمند خدای کړی دا بی غیرته چا کړی.
*نیستی پاکه پاچائی دی.
*نیستی په اشخار نه دیریږی.
*نیستی د میړو قدر کموی.
*نیستی هر د چارد کوی.

*نیکی برباد گناه لازم.

*نیکی د بدی تخم دی.

*نیکی د دښمن سره کوه چه تور لیمه ئی وځی.

*نیم حکیم خطره د ځان نیم ملا خطره د ایمان.

*نرو آسو میدان دی.

*ندی پاتی خورم ندی سری چلوم.

*نه د غیلی پیایم ندی گاړی ځتم.

* نا خوانه سړی ړوند دی.

*ندی په تلو خبریم نه په راتلو.

*نه په اسمان ستوری لری نه په ځمکه ښوری.

*نا بوده ښځه مکوه په یوه روپی دړدنگی ته تیاره.

*نا امیده د خدای له درباره محروم دی.

*نه تا څه پکی پریښودل نه ما څه درته پریښودل.

*نه څمیار شوی ، نه نائی شوی ، نه جولا شوی
د پلار میله د ورکه کړه ...... شوی.

*نوم د قربان علی ده ، کورد په قره باغی کی ده ، چې
هزاره نه یی نو څه یی.

*نا وخته میلمه ئی له خپلی تنهی خوری.

* ناسته – ولاړه.

*نوی پاچا نوی قانون .

*نا شکری ښه نده .

*نا شکری مه کوه .

*نوم ئی ستره دستر خوان ئی نسته .

*ناز نزاکت هم اندازه لری .

*نوم ئی لا تر اوسه په پنسل نده نوشته شوی .

*نا امیده شیطان دی .

*نه د گرمی طاقت لری نه د ممېزی (یخنی ).

*نیم قد ئی د ځمکی لاندی دی .

*نیکی او پوښتنه .

*نیکی بر باد گناه لازم .

*نر ښځی دی .

*نه ئی ځټ معلوم ده نه ئی مخ .

*نه د ننگ سو نه د جنگ .

*نه سیخ سوی نه کباب .

*نه کور ورک نه دود ورک .

*نه د دی دنیا سو نه د هغی دنیا .

*نشته داسی یار چه ورکوی د گنی منځ ، د وړی ځوکه د مولی بیخ .

* نن داسی وخت ده چه ږستونی ورکوی لاس تری نه باسی.

* نا حقه وینه نه پټیږی.

* نن په ما د آختر ورځ ده.

* نوس - شیطان په موږ پسی دی هم راته دواړه په غصی دی.

* نوکر ئی که پلار ئی.؟

* نوکرئی د چا پلار خو نه ئی.

* نه تور گناه نه سپین گناه.

* نه لاس گناه نه پښی گناه.

* نه بی اجله مرگ شته نه د ژوندو رزق تمامیږی.

* نه خیر او نه په خیر توبره ماته کړه چه خورو.

* نه یی ژړا په ژړا گډیږی نه ئی خندا په خندا.

* نیت په نیت معلومیږی.

* نیت سم نیسه اول ئی په دښمن نیسه.

* نیت صفا منزل آسان.

* نیکی نه په واړه ده نه په زاړه.

* نورالله نور.

* نه د وینم - نه د گورم.

* نه د وینم - نه د غواړم.

* نه در ته گورم - مه راته گوره.

*نه د خپل بولم – مه می خپل بوله.

*نه د خپل بولم – نه د پالم.

*نه د خپل یم – مه می پاله.

*نه گړی مات نه ازانگه تللی.

*نه خپل لرم – نه د چا خیال لرم.

*نه غل یم – نه د چا باک لرم.

*نن پا چا سبا گدا.

*ناوی خو به می ته کی وینکی به څوک را باندی کوی.

*نا پوهه دومره په بل نکوی لکه پخپل ځان.

*نان گدا ښه ده نه خانه گدا.

*نصیب په کته کړی خردی.

*نیکی او پوښتنه.

*نه په نیکی پوهیږی نه په بدی.

*نیک نوم، په نیکنام سه، نیکنام خیل ئی وروزل.

*نوم د څه ده ؟ ویل ئی خدای، ویل ئی کفر ته ووتی، ویل ئی تر داد پوری خو می پریږده.

*نه په دنیا مړښت شته نه په عمر.

*نن د یوه، سبا د بله وا توره اور بله.

*نه پخپله سپکه بند ده نه د بل.

* نيت صاف منزل آسانه.
* نغرى د دښمنه ډ ک ښه دى نه له دوسته خالى.
* نه اروى نه گورى سر پټ بدلى بولى.
* نه به کانى پوست شى نه به غليم دوست.
* نه تاکړى نه ما پرخه باندى پخلا.
* نه خان دى نه مان دى زما د اوړو زيان دى.
* نه د تينگى ويشتو دى نه دى سستى دنيو.
* نه د مړو د ژړاده نه د ژوند و د دلاسا.
* نه دى بى مالگى خوړو مزه شته نه د پردى زويه گيله شته.
* نه دلى سوم نه هورى تر يخ سوم خاورى ايرى.
* نه شرم نه حيا لعنت پر بى حيا.
* نيک عمل به دى باچا کړى بد عمل به د رسوا کړى.
* نه مى سى گمان چه کابل به سى لغمان.
* نه سره لگيږى زما تيک د تا شړى.
* نيمه شپه ده سپى خيږى چه سر مى پورته که دره بنده راځيږى.
* نه باد وه نه سيلى دشپانه ډکه تتى.
* نه ئى وړه، نه يى راوړه ..........
* نا خبره د مرکى ليوه وى.

* نیستي په اشخار نه ډیرېږي.
* نه د شګو ځلي شته- نه د شګو پړي.
* نه وره خورم نه مې له خولې بوی ځي.
* نظر کاڼي چوي.
* نه مې له یاره یاري سوه - نه مې له وروره وروري سوه، نه مې له زویه زوی ګلوی سوه.
* نه به د څاڅکي سوړ کړي نه به د نونې موړ کړي.
* ناوې ودېږي په خوله زاړي په زړه ګوړي ماتوي.
* نیت بې رمې (بې رحمي) تلري.
* نه ئې خوند شته نه ئې رنګ.
* نسته داسې لوري چه ور وتښتي کمزوري.
* نه د آبا لښکر ماتوي نه د آدې.
* نه په کورکې ښادي شته نه په ګورکې.
* نه تاڅه راته کېښوول نه ما څه درته پرېښودل.
* نه سیخ سوی نه کباب.
* نه له یاره سره کېږي نه بې یاره کېږي.
* نیستي پاکه پاچایي دی.
* نصیب خپل کار کوي.
* ننګیالي دې چه یادېږي.

*نوم د ډیوی کیږی سوزی تیل.

*نوی نوکر په منډه هوسی نیسی.

*ناوی جنی راغلی نوی دود ئی راوړو.

*نه سړی هندو دی، نه ځناور خر دی.

*نیاتی (دوست) به دوژړوی او دښمن به د وخندوی.

*نیستی د سړی سترگی ړندوی.

*نعمت له زواله وروسته معلومیږی.

*ته دهاتی په غوږ کښې اوده ئې.

*نور ئی په ورو کوی خره یې په نارو کوی.

# و

* وخت سرد زر دی.

* وضع ئې دخان پوستین ئې دغران.

* ورور ئې گوره خورئې نیسه.

* ونې ویل که‌می لاسته له‌خپله‌نه‌وای تبرگی به‌ولې وهلم.

* وریښمینه بړ ستن دد.

* ویل کوه دخدای دپاره لوړ وهه‌د ورور د پارد.

* دورور سره وروری لره خپل خر ځینې خوندی لره.

* ورور سره وروری لره خپل ځان ځینې خوندی لره.

* ورور ته‌می بې زویه مکړی او تربور ته‌می بی وروره مکړی.

* ورور د وی په‌لاهور د وی.

* وروری به‌کوو حساب به‌مو ترمنځ وی.

* ورخ ځینې اوبو وړی دی.

* ورکه‌دشی هغه وینځه چی د وینځی کالی وینځی.

* وړی ته‌ویل چه‌دود دود ځو کیږی ویل:ئې ځلور مړی.

* وروسته وړاندی نه گوری.

* وائي غوندده چه ښه ښکاريږي وئي باسه چه څښتن ئي راغي .
* وخت د اوبو په څير بهيږي .
* وينه په وينه گډيږي .
* وينه په وينه نه مينځل کيږي .
* وينه په اوبو مينځل کيږي .
* وينه زاړي که مينه ؟ ويل ئي مينه نه زاړي وينه زاړي.
* واده اسان دي خو ټک ټوک ئي گران دي .
* واده اسانه ده خو پايڅه ئي گرانه ده .
* واده ته مه وايه واده گيه .
* واده د جولاگانو لونگي ورکه کړي ډمانو .
* واده د کرم خان دي غږيږي فتح خان دي .
* واده د واده زنو ننداره د خوارو خوشو .
* واده ماده نه وو د سلو روپو پکښې ډول بږد شو.
* واړه سپي غاپي غټ را خبريږي .
* واک ستادي آکا خيلي اوس که غوا بيايي که غيلي .
* واوره ويلي شوه خو يخ ئي کم نشو.
* وائي پيښور په لمر خاته دي.
* رباسه پيسي وخوره پتاسي .
* وبه دي پو ښتم واکدار به د نکړم .

*وړ د وړو خالی نه وی.

*وچ اوړه په دیوال نه نښلی.

*وچ ډګر د لامبو ځای ندی.

*وچو پوری تاند هم سوزی.

*وخت ته ګوره لوړ وهه.

*وران دشی هغه کلی چه بانګونه کلالان وایی.

*وران رباب د مجلس خوند خرابوی.

*ورانه اسانه ده جوړه ګرانه ده.

*ور وتړه په پړی خبر راوړه د وګړی.

*وری په خپلی مور پسی ښه ښکاری.

*ورا پنډه په نغری ناوی ناسته په خړی.

*ورځ چه برابره شی چراغ یئ په اوبو لګیږی.

*ور به شی خبر به شی.

*ورغښتلی له منځه تللی.

*ورکړه بډی چه د ونیسی ډډی.

*ورکه شه هغه منډه چه پری ...... شی بر منډه.

*ورکه کړی نیستی سړی باسی له سیالی.

ورورډچه سپور شی د خپل کور شی.

*وزګوری په خپله مور سپریږی.

*ورور دی وی د مور دی وی.

*ورور د وی د میری د وی.

*ورور مې ورور ورارہ مې د سترگو تور.

*وروری - خو به کوو خو حساب ترمنځه.

*وروری مې ورورۍ ده خو د لیندۍ مې وچه ککړه بیه (بیعه) دد.

*ورورئی مه وهه په تورہ خورئی ناسته ده حضوره.

*وروغ (کاغی) غول خوری او مشوکه ئی جگه نیولی دد.

*ورونو جنگ وکړ او ساد گانو باور.

*وریشم که زاړه شي خود خرود کتی نه شی.

*وریندارۍ خواره به دی غواړم نه د ورور د مرگه.

*وږومبی عقل نه وروستی کیږی.

*وږوکی ملاگی شمله ئی لویه.

*وږوکی هندوگی ستره ئی چوتی.

*وږه خوله لوئي خبری.

وزد شپون د پاره نده شپون دوزی د پاره دی.

*وږی ترفامه سږی، غوښی دی.

*وږی نه یم قدر غواړم.

*وښو یده پښه ږ زد کوناتی وخوت.

*وطن په‌دوو سترګو خپل دی په‌دوو پرد دی.

*ونه‌چه زړه شی د هری بلا پری شپه شی.

*وګټه پیل وخوره.

*وینځه چه تودده شی نو اوده (ویده) شی.

*وینه زر ګزه توپ وهی.

*وارئی په‌ګور بته و که ..... د کاغی ووتل.

*وچ کلک ولاړ دی.

*وروسته‌به پوه شی چه‌یو من اوړه څو پتیری کیږی.

*وچ او لانده یو ځای سوزی.

*وری سترګی د خدای مری کړی.

*وری سترګی به د ګور په‌خاورو مړی شی،

*واتوره اور بله‌نن د یوه سبا د بله.

*وهم د کوم ځای غریږی د کوم ځای.

*وار له‌وارده تیر دی.

*ورځی شماری.

*وجدان داسی محکمه دد چه قاضی ته‌اړتیا نشته.

*وخت غنیمت ګڼه.

*وچی خاوری په دیوال نه نښلی.

*ورد تر لخه کیه.

*وړ واښه دی.

*وډبې وړو نه وی.

*وزی ځان حلال که وازده ئې هم ونکړه.

*ونی ویل : که می لاستی له خپلو نه وای نو تبر ولی وهلم.

*واړه خو پا چاهان وی.

*وچه لښته نه تاوېږی.

*وخت د چا انتظار نکوی.

*وړه خوله غټې خبری.

*وړی گیډه مړېږی خو وړی سترگی نه مړېږی.

*ونه د خپلی میوی د خونده څه خبره ده.

*وینښته د سپین شو زړه د سپین نشو.

*ویلی شو چه د خان سپی غله ده.

*وطن وطن دی.

*وطن د مور حیثیت لری.

*وطن خپلواکی ده.

*وطن عزت دی.

*وطن ناموس ده.

مرتې خاوری د وطن به پری ورنکړم

که د ځمکی په سر هر وطن ختن شی

* وطنه ! ګران وطنه.
* وطنه ! ځان وطنه.
* وړی ته یوه مېږی او ستېړی ته یو قدم.
* ود ! د دین دښمنو پری مړه به مو کړی.
* ونه له خپله منځه چینجی کوی.
* ونه له خپله مینځه ورستیږی.
* وائی یو بلا بلی بلا ته وویل چه اوخ.
* وخوره غوړی وتښته په خوړ.
* ومه خوری غوړی چه به ووزی مرغړی.
* وائی د تبر مخ لمڅی نیولی.
* وښویدی پښې ګرم کوناټی شول.
* واده یم خبره نه یم سی په چایم.
* وار چه زما راغی د چتی پلار راغی.
* وچ اوړه پر دیوال نه نښلی.
* وخت چه د بری شی هر ګیدړ زمری شی.
* وخوره ګلنجور چه دوسی میراث خور.
* ورور ئی مه وهه په توره خور ئی ناسته ده حضوره.
* ورور چه سپور شی د خپل کور شی.
* وریښم که زاړه سی د خره کته لا نه سی.

* ورینداری ! خواره به د غواړم نه د ورور د مرگه.

* وزه ننوزه د جنگی لالا واده دی.

* وژاړه چه وخاندی.

* وسله که بار ده په سخته ورځ پکار ده.

* وگوره سړی تری لاندی واچوه کالی.

* وماته خندا نه راځی ستا د پاره هـ-هـ.

* ونه چه زړه شی د هری بلا پری شپه شی.

* وهوښیار ته نیمه کودبی عقل ته بشپړه.

* ویل خره خره چیری ځی ویل مالگی له ځم.

* ویل شته عمل نشته.

* وه خوری د یار صفت د مه که د مزری یې خولی د لرگی توره.

* وه خوری ورک دسه دا دود او به دیری دی د رود.

* وزه ننوزه د چونگی اوبه راوړه سترگی د وزه.

* وتلی ښه ده که تپلی ؟ ویل ئی وتلی د ورک شی تپلی ښه ده.

* وسله کومه وسله چه پکار درغله.

* وتې له بلا خلاص دی.

* وچی د شید یاری – زیړی وهی رمباړی.

* وچ غنم ولاړ شنه ئی ریبل.

* وریجی ترورو مړی ترغره.

*وسله که بار ده یو ورځ پکار ده.

*وطن په ښه خبره خوړل کیږي نه په بده.

*ورانه به ئې کړي جوړه به ئې نکړي.

*ویښ ویده په چیغو نه جګیږي.

*وزی! وزی! شیدې به راکړې خوله پچوډ کې.

*وار د وارد ئې سترګی ع - غ شوې.

*وئې رغیده.

*ورانه ورانې ده.

*وله یې! دشیخ اتل په غونډارې یې وله.

*وطن په ښه خوله خوړې سې.

*وای بوری وراری په ورہ پوری ولاړې د منی ورځې دغه وی چه دا ولاړې.

*ورور می یې اشنا می یې مګر بتیر تر درې شاهی کم نده

*وړې له لاړ نه ګرځي، بر بند له لارې وګرځي.

*ونه په پانو ښه ښکاریږي.

*واک د تا ده مائې خیلې که غوا پیایې که غیلې.

*وائې خواړه اوږدو ګوتو وخواړه که لنډو؟ ویل چه خدای په چا پیرزو کړې وی.

*واهو واه! نیستي په دې مستي.

*وزی ویل که زه نه وایم زما گوډه پښه وایی.

*ور به شی خبر به شی.

*وچو کویانو ته اوښان مه چوکوه.

*ونه گوره سیوری لاندی کښینه – سړی گوره سوال تری کوه.

*ویر به هله وکړم چه شیگړه د په زړه کړم.

*وچ کلک له بلا ډک.

*ورځ د زورور ده او شپه د کمزور ده.

*واورد می په غره کی بده ایسیده خدای (ج) د دروازی مخی ته راوچوله.

*ورور غلطوه چه غلط نشی حق ئی نیم دی.

# هـ

*هم د سين دا غاړه پيائی هم هغه غاړه.

*هم د لښتی دا غاړه خوری هم هغه غاړه.

*هم لور د کوره هم زوم.

*هم ئی په ميخ وهی هم په نال.

*هندو د يار د پاره د غوا غوښه خوړلی ده

*هندو پيسی گټی پښتون قيصی گټی.

*هندو شوی گوری د هم ونه خوری.

*هندو زوړ سو مسلمان نشو.

*هندو غلا کوی خو د سپو نه ويريږی

*هندوان ئی چه وشکول بيائی منډی کړی.

*هندو گوری په خوب وينی.

*هندو مړ مال ئی تا لا.

*هندو می پک ندی ليدلی.

*هندوئی او گوره نشته درسرد.

*هوسی هسی هم گړندی وه بل ئی جرس (گړنجو ونی) ور په

غاړه کړو.

*هوسی هوا د غره وهی وابنه د سمی خوری.

*هوښیار ته اشاره بس دی.

*هیلۍ آبو وړه په ځان نه پوهیده.

*هغه خورد چه خپله ئی غواړی هسی واغونده چه خلک ئی غواړی.

*هغه ساعت هغه مصلحت.

*هر سپی د دروازی په مخ کی زمری دی.

*هوا یی ډیره جگه ده.

*هغه دغه پکښې نشته.

*هغه دغه مکوه.

*هر سړی په خپل وس پړ دی.

*هر څه می لیدلی خو هندو می گنجی ندی لیدلی.

*هردم د خیتی غم.

*هر سړی ځانته تنبځ وهی.

*هر سړی تر خپل مقصد د پوری یار دی.

*هر سړی تر خپل مطلبه پوری یار دی. ما د خدای د پاره یار لیدلی ندی.

*هر سړی دوست دښمن لری.

*هر شي چه غبرگ شي لنډيږي خبره چه غبرگه شي اوږديږي.

*هر غار کي لاس مه وهه هسي نه چه مار د وخوري.

*هر کس کابل ته نشي تللی.

*هر ښځه درخانی ده که خاوند ئی آدم خان وی.

*هر وطن هرئی دستور.

*هر مرغه چه دانه اخلي وزرئی ښوريږي.

*هر ښځه چه حجاب نلري بی مالگی طعام دی چه مزه نلري.

*هزاره ته ویل چه پزه د چیته ده دویل واورده څه ئی کوم سا پری آخلم ډول خو پری نه کوم.

*هزاري وال په جامه پښتانه دي په رنگ کشميريان په ژبه پنجابيان دي.

*هغو له آسونه ورکړل چه د تانگ تړلو یی نه پوهیږي.

*هاتی (فيل) چه ژوندی وی یو لک چه مړ شي دوه لکه.

*هډ په پیوند جلا کیږي.

*هډ په هډ ماتیږي.

*هر تندی د سجدی لایق ندی.

*هر چاته خپل زوی شهزاده دی.

*هرچاته خپل مزی مرغلین ښکاري.

*هر چا ته خپل مرغه مرغ زرین ښکاری۔

*هرچا چه نه دکابل میوې لیدلی هغه تر فهمه ډیره ده گور گره۔

*هرچا سره پنج خو یار آشنا سره نه پنج ۔

*هرچیری اوربل وی کتوی باندی ۔

*هرچیری چه گل وی یو آغزی به ورسره مل وی۔

*هرڅوک پوهیږی چه غوا توره شیدی ئې سپینی ۔

*هرڅوک په ښې ورځې کې دوست دی ۔

*هرڅوک چه وزگار شی یا غل شی یا بیمار شی ۔

*هرڅوک به حسین وای خو که نه وای کربلا پکشی ۔

*هر څوک له ځانه خوښ په تیره بیا بنگښ۔

*هرڅومرد چه توره شپه ده خور لور سرد معلومه دد۔

*هرڅه خپل ښه دی ښځه دبل ښه دد۔

*هرڅه چه درته وایم ته خپله غړکه شاربی ۔

*هغه جمعی د ولاړی چه به دی غړی پری ویشل ۔

*هیچا په لاره کی دسترخوان نده غوړه ولی۔

*هر شی خپل اصل ته ځی ۔

*هفته فهم دی ۔

*هغه دیگ هغه شلغم۔

*هغه ساعت هغه مصلحت ۔

*هیڅوک له خپله مرګه ندی خبر.

*هر د ورځ د بلی مور ده.

*هی نتار دی.

*هغه کار کوه چه تر سره کولی ئی شی.

*هر څه د نس له خوشکی نه کیږی.

*هر څوک د خپل شی صفت کوی.

که څوک تله د انصاف په لاس کی درکی

خپل تټو او د بل آس به برابر کړی

*هر څوک په خپل کار ښه پوهیږی.

هر یو کس خپل - خپل کار لره پیدا دی.

دانا نه کا په نادان باندی غرض.

*هر ژوندی مرګ لره پیدا دی.

*هر سړی په ځان کی جهان ګوری.

*هر سړی مطلب اشنا دی.

هر سړی د تر خپله مطلبه پوری یار دی

ما دخدای د پاره یار ندی لیدلی.

* هر سړی خپل غم ژاړی.

*هر سړی خپل قسمت خوری.

*هر سړی د خپل شانه سره خبری کوی.

*هر سور بريری ملا شاد گل نه دی.

*هر شی زوال مومی. بيله خدايه.

*هر کلال وائی زه ښه منگی جوړوم.

*هری کوزی ته ځان بر بنډول نه دی ښه.

*هر دورځ اختر نه وی.

*هر دورځ د بی ناوی واده جوړ کړی.

*هسی اوبه مه خړه وه.

*هسی د شيطان په لکی سپور دی.

*هغه دار غبنتلو قهر له بغری نه باسی.

*هغه د ملا بهادر په شان اودس په اوداسه گرځی.

*هغه ړانده چرگان دی دانه په پتو ستر گو خوری.

*هم زوم د کورد هم لور د کورد.

*هم هغه آبی‌ړدد هم هغه ئی تبئ‌ړدد.

*هميشه په تيره پسی ارمان دی.

*هنر زده کړه د کندو ترشائی واچود.

*هله به دی ياد شی چه په چولی بيابان دی شپه شی.

*هوشيار شوم ولی خوار شوم.

*هوشيار هغه دی چه خبره اوری.

*هيڅ بی هيڅه جنگ نشته.

*هم داکوی ، هم دا.

*هلته به پوه سې چه سرئی د لحد تبی ووهی.

*هر څه پخپل وخت سره خوند کوی.

*هغه به ئی روزی نه شی.

*هیله په چاسی ؟ یا په دنګوغرو یا په لویو میړو.

*هغه بلاسی په تولو وی ترینه مه ډاریږه.

*هغه خوځان د پنځوخان بولی.

*هر سړی پخپل ځان سوزی.

*هم کوی هم پاکوی.

*هسی ئی وائی -خوکوی یی نه.

*هر څوک چه ځی له څته ئی پل پاته کیږی.

*هرشی په پوکی پاکیږی ، خوشیشه په پوکی پیکه کیږی.

*هند و غولولی به کور خبریږی.

*هم بوره ، هم بد نامه.

*هرجای اوربل کتیوی باندی د غم لرګی تری لاندی.

*هر کار د ناروا لوغړن وی په دینا.

*هغه کور هغه ئی اور.

*هر شی رنګا رنګ دنیا نده په یوه رنګ.

*هر حیوان په پښو روان وی خو مار او ماهی په سینه.

* هغه څوک چه د بل عیب تا ته راوړي نو خامخا به ستا عیب بل چا ته وړي.
* هغه غر هغه ئی کربوړی.
* هوشیار نه ګرځي په تیرو پسی ډیر.
* هوشیاره مرغی په د وو لوموکی بندیږی.
* هغه خر هغه ئی ګبتی.
* هیلی بچی ته لامبو ښیی.
* هر هغه څه چه ځانته نه غواړی بل ته ئی هم مه غواړه.
* هغه څه چه ځانته خوښوی بل ته ئی هم خوښوه.
* هر څوک پخپل کار ښه پوهیږی.
* هغه خوله د ورکه شی چه نعمت ئی نه وی خوړلی شکر باسی.
* هم ثواب هم خرما.
* هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
* هلته کشینه چه بیاد څوک جګ نکړی.
* هر څه چه خام وی پخیږی انسان که خام شو بیا نه پخیږی.
* هر څوک ئی له خپلی تنډی خوری.
* هغه خر هغه ئی ډیتی.
* هم غازی هم شهید هم روغ سلامت.
* هر څوک وائی چه زه من یم.

* هر څوک د خپل سر پاچا دی.
* هم ئې زړه کیږي هم ئې ساړه کیږي.
* هوسۍ د شپې د میږې په ځاله ځملي.
* هندو ئې په سرو واهه ...... ئې وچاودیدی.
* هم ئې چیرد وي هم ئې ګنډي.
* هر چیرې چه ځي دا به دې حال وي.
* هر چیرې چه لوګی دۀ هلته اور دی.
* هر څه چه له حد تیر شي رسوا شي.
* هر څه د اوریدلو نه دي.
* هر څه خپل وخت لري.
* هر درد لره دواسته.
* هر ځای هغه یې رواج.
* هر طرف ته چه باد وي خرد په هغه طرف بادوي.
* هر څومره چه لوړ دۀ هغه مرد ځوړ دۀ.
* هر څوک خو احمق ندي.
* هر څوک چه پزد تورد کړي وائې آهنګر یم.
* هر څوک خپل بار وړي.
* هر څوک پخپل کور کې پاچا دی.
* هر څوک چه د خپل عمل نه ډوډۍ خوري د حاتم طائي منت

ئی یو نه وړ.

* هغه د یگ هغه ئی چمچه.

* هغه پلار هغه ئی زوی.

* هغه ځمکه سوزی چه اور پی بلیږی.

* هم ئی په نال وهی هم ئی په میخ.

* هر سور ږیری چه گوری وائی ملا شاد گل دی.

* هندو له سندور ده معلومیږی.

* هندو غوندی په پیسو ایمان راوړی.

* هیڅ گل بی اغزیه ندد.

* هندو په کونه وهه گوړ ئی خوره.

* هندو ستړی خدای ناراضه.

* هډوکی چه خوری پدی هم فکر وکړه چه له کومه ځایه به یی اچوی.

* هغه آش هغه کاسه.

* هغه ونه دد چه باد وهلی نه دد.

* هغه ونی نوری دی چه لاچی لونگ ورپوری دی.

* هغه چه هندوستان نه زر او افغانستان نه سر راوړی هغه هوشیار دی.

* هغه د هر دیگ ځمڅه دد.

* هغه رنځورد نه رغیږی چه د روغ ښه نه ورسره کیږی.

* هغه خورد ارمان نکړی چه په دوو ورونو ئی واده کړی.

* هغه خانک ( ښانکی ) نه دی چه په کونه کی پتری نه وی.

* هغه به څه قبر وی چه د رز د روز پکی نه وی.

* هغه ناوی چه خپـــله ښایستـــه نه وی

څوک به څه کاندی ښایست د مور او ئیا.

* هغه وختی لاړی چه به دلو کولو په ولاړی.

* هغه شپی ولاړی چه غړی به د ویشل.

* هله به خبره شی چه تارو جبی له ورشی.

* هله به زاریږم چه له کارد وزګاریږم.

* هم د رڅخه مرم او هم د رپسی مرم.

* هغه جونګی می هم مړ که.

* هغه ځای ګروی چه د ګرولو نه وی!

* هری تیاری پسی رڼا ده او هری شپی پسی سباده.

* هوښیار تل خوار وی.

* هیڅوک نه وایی چه زما د غړکی خوند بد ده.

* هر څوک به حسین وی خو که نه وی کربلا پکښی.

* هسی مکوه انسانه چه زوی ګران کړی لور ارزانه.

* هغه دروغ مه وایه چه سبا رشتیا کیږی.

* هندو اور د دنیا د پاره قبول کړیدی.
* هم ودېږي – هم رقصیږي!
* هر څوک چه پزه توره کړي آهنگر کیدای نشي.
* هوښیار سړي گواښ نکوي.
* هغه سپې چه ډیر غاپي خوړل نه کوي ( انگلیسي متل )
* هغه چرگه مړه شوه چه د دوو زیړوو هگی به ئې کولی.
* هر مرغه خپله ئې ځانه خبر ندي یو د بل له حاله.
* هر څوک له ځانه خوښ په تیره بیا بنگښ.
* هغه ناوي چه پر ځان ښایسته نه وي څوک ئې څه کوي
ښایست د مور – پلار.
* هغه ساعت هغه مصلحت.
* هغه سړي ندي چه له ځانه خبر نه وي.
* هله به زاریږم چه له کاره وزگاریږم.
* هم سفر دی هم سکر دی هم غرمه ده هم تود لمر دی.
* هم لري هم ناولي هم ناوخته راستولي.
* هوشیار نه غوزاریږي چه غوزار شي غبرگ غاښونه ئې وزي.
* هر څوک خپل شي ښاغلي گڼي.
* هندو به لاتړ وه لا به پړ وه په ځان ئې نوم میرافغان کیښود.
* هلته به دې ښه شي چي په ادرگ بدرگ د شپه شي.

# ی

*یو بهلول بل ئې کچکول.

*یتیم په ژړا پوخ دی.

*یوئې گټي سل ئې خټي.

*یار له یاره بلاربیږي.

*یار له کوځې تیره که رنګ ئې هیر که.

*یو په سلو سل په هیڅ.

*یا خپل کور یا خپل گور.

*یاد به د زه کړم ښاد به دي خدای کړي.

*یا مړ یا موړ یا جگ په غوا یې سپور.

*یا تخت یا تابوت.

*یوې خواته پاڼ دي بلې خوا ته پړانگ دی.

*یوه روپۍ پور که زوی په بازار لوی که.

*یوه لاس ورکړ بل له بیخه ویوست.

*یوې بلا بلې بلا ته ویل چې وُخ.

*یو په ننگ ښه معلومیږي بل په ست.

*یا ...... را یا له خدا یه بیزار شه.

*یو سر سل سودا وی.

*یو بام دوه هوا وی.

*یو ممیز ځلویښت قلندره.

*یا وطن یا کفن.

*یو امام یو مقتدی.

*یو تیر دوه نشانه.

*یوه سترګه ئی عین بله ئی غین.

*یوه منه پورته واچوه تر ځو بیرته راځی یا الله یا نصیب.

*یو ښهر دوه نرخه.

*یو ساعت اور ده یو ساعت اوبه.

*یوه ګوته چه بل ته نیسی څلور به ځانته.

*یا انا وهی یا غړکی ځیروی.

*یا به اټک نه وی یا به خټک نه وی.

*یا به څرخه کومه یا به سترګی توورومه.

*یا خوار مه وای یا هوښیار مه وای.

*یاد به د زه کړم مړه وی به د خدای.

*یا د چلم سر یا د پلاو بیخ.

*یی خوبی خو پنځه روپی نشته.

* یې خوبې خوند درنه باران وړی دی.
* یو من څو پتیری ده ؟
* یو پتې شوتله ئې وخوړه دې ئې لا مړه بولی.
* یو سیال ته یو سیال زده ستا په سرڅه خیال.
* یو وهم سل شړنګوم.
* یا د چاودی پښې ژړا ده یا د کونډې ښځې.
* یا د شوروا سر یا د پلاو بیخ.
* یاد مې ته کړه مور به مې خدای کړی.
* یارانه ډوبه جاله ده.
* یارانې کې بنګړی ماتیږی.
* یار د یار د پاره خوری د غوائې غوښې.
* یار د وی په بل دیار د وی.
* یاری سی په شوتالو سوده خونه سوه.
* یاری له مړاوو سترګو ولاړیږی.
* یا لویو کوروته ورځه یا لویو غروته.
* یا مې آبا بوله یا کتوی ماتوم.
* یا نرشه یا د نر چاکرشه.
* یا نه کوی یا د خره کوی.
* یا نه ځی یا منډی وهی.

* یا وور پښته یا زور.
* یتیم چه د خپل سرشي حرامي شي.
* یتیم د ژړا عادت دی زړه ئی کلک دی.
* یتیم روژه ونیوه نو په ..... ئی ماته کړه.
* یتیم لاس کی کنډک ستر بر یښي.
* یخني په ځل گرځي د خدای په روی نه گرځي.
* یخني نه خدای مني نه رسول یو سور اور مني.
* یږ سمی ته نه راتله ملا غره ته نه تلو.
* ینی می خوړی سری وینی تری تلی.
* یو ازامرد سل بدو پلار.
* یو په طمعه بل بی غمه.
* یو په او ښکو ژاړی بل په وینو ورسره ژاړی.
* یو په وینو ورسره ژاړی بل په اوښکو ورسره نه ژاړی.
* یو تک د دارو نسته په ځان د نوم غمبازه ایښی ده.
* یو ځان شرمول بل قام.
* یو څه زه لنډ یم یو څه می د بنی گوډی اوږد دی.
* یو خروار ډوډی به هضم شي یوه بده خبره نه هضمیږی.
یو خو خدای ښه دی.
* یو د لوږی مری بل ئی سرته پراتې گوری.

* يو زوی نه زوی .

* يو مياسی (ماشي) سل کاله عمر د فيل په غوږ کې تير کړو چه تلو ويل ئی لاړم ، فيل ويل نه د په تلو خبروم نه په راتلو .

* يوه لکۍ پکې نسته نور خردی.

* يو خدای په يوه حال دی .

* يوه سپی ژرنده ښتيله بل سپی ..... ښتيله .

* يو سر نه سر.

* يو سړی ته چاويل چه ځو زامن د دی ويل ئی ځلور ! هغه يوئی ...... دی.

* يو غم په بل هير شو.

* يو غم په بل هير مه شه .

* يو فقير د بل فقير بد ايسی .

* يو کال خو ميږی بی وارګه شی .

* يوه کوټه خرخوله بل ويل چه دالان می نه اخلی.

* يو کال سړی د مور د ميړه هم تيره وی .

* يو لاس په چاړه بل په خواړه .

* يو لرګی به اور ونکړی دوه ښځی به کورونه کړی .

* يوم (کره) په غاړه يوم غواړه .

* د ليونی نه ستنه په کورکی ورکه شوه په بازارکی لټوله .

* یو مخ د دسپې ده بل د سړی دی.
* یو موټې اوړه په کورکې نلری او تنورئې په بام جوړ کړی.
* یو مور (خور) خرڅوله بل په پور ځینې غوښتله.
* یو نس دوه منته.
* یو وار که زوړشوی بیا خدای خبر که جوړ شی.
* یو وار مرگی وای خو بیا لیده وای.
* یو وایی څه وخورم بل وایی څه پری وکړم.
* یوه ورله ځان قربان کړو بل وایی وازگه پکشی نشته.
* یوه بلا بلی بلا ته وایی چه بو.
* یوه خطا دوه خطا جمله خطا.
* یوه خطا دوه خطا نه جمله خطا.
* یوه ریره ورکړه بل مونده (بیخه) او ویسته.
* یوه شپه په ژرنده کی هم تیریږی.
* یوه غونډۍ که اواره شی ډیر خندقونه به ډک شی.
* یوه کډه د بلی کډی زره کاږی.
* یوه کوه یوه اوره.
* یوه میږو ښه ترسلو کونډو ښه ده.
* یوه هندو بل ته ویل چه کافره.
* یوه ویل کور می درجار بل پری ورته وا چاوه.

*یوی پښی بلی ته ویل نه ځم.
*یوئی خوری بل ورته گوری له اسمانه کانی اوری.
*یوئی ژرنده ماتوی بل پارچاو اړه وی.
*یوئی سر وهی بل ئی پښی.
*یوئی غولوی بل ئی اوښان د لاری اړه وی.
*یوئی کری بل ئی ریبی.
*یو یی نه دوه کیږی.
*یو دیگ بل دیگ ته ویل مخ د تور.
*یو د بل روزی نه خوړه کیږی.
*یو خښته په بله خښته باندی نه ږدی.
*یا گر یا زر.
*یا اول یا آخیر.
*یو سر سل سودا وی.
*یو نال می پیدا که دری ناله او یو آس کمبود دی.
*یوئی چیره وی بل ئی گنډی.
*یوم البدتری (یو ورځ د بلی په ځیر نده)
*یو وائی کورمی درجار بل وائی زه هم سترگی لرم.
*یار د چولی (کوڅی) تیر که خوندئی واخله رنگ ئی هیر که.
*یو رښتیا سل دروغ.

* یا پتې یا کوناتې.
* یاد به دی زه کړم ښاد به د خدای کړی.
* یتیم د ژړا عادت دی.
* یو په ننگ ښه ښکاری بل په نا خوراک.
* یو خرگی راکړی بل تبرگی راکړی د رزق نه می خلاص ئی.
* پیدا می ته که روزی زه پخپله پیدا کوم.
* یو غر او بل غرمه سرد جنگوه.
* یو لیونی خوسړی په کلی کی ساتی.
* یوه سندره می زده ده د آبی او دادا په واده به ئی بولم.
* یو ځان شرموی او بل کلی شرموی.
* یا به میدان پرېږدی یا به مقابله کوی.
* یا به میدان پرېږدم - یا به سر په لیلا کېږدم ،
خدای که کابل پرېږدم.
* یوه سترگه به دی ژاړی بله به دی خاندی.
* یار د تازه وی که د ډهلی په دروازه وی.
* یوه خوله گلالې وی.
* یو له موره کی بل له میری.
* یو چاکر و بل ئی نوکر وه.
* یو په ورکړه ښه ښکاری بل په نه اخسته.

* یو له لوږی مری - بل له مړښته.
* یو وائی څه وخورم بل وائی په چائی وخورم.
* یو دگیډی غم کوی بل د نور غم کوی.
* یو له خپگانه (غمه) مری بل له خوشحالی نه.
* یو له تندی مری بل ئی سرته اوبه غواړی.
* یو له لوږی مری بل ئی سرته مړی غواړی.
* یو له غمه سندری وائی بل ئی له خوشحالی نه.
* یو سرډیرئی غمونه.
* یو بغ و بل سلیمان.
* یو په ټولو - ټول په هیڅ.
* یو په سلو - سل په هیڅ.
* یو خو خدای ده چه ساری نلری.
* یو له غمه مری بل ئی سرته اوازونه بولی.
* یاد به د زه کړم ښاد به دخدای کړی.
* یوه سوال کاوه بل ئی ..... ته خواست کاوه.
* یوه سړی بل ته وویل چه په هر خیرات کی د وینم ، هغه
بل ورته وویل چه ته هم هلته حاضریی چه ما وینی.
* یوه بلا له بلی بلا ډاریږی.
* یو بی لاری مه ځه او یو بی گودره مه گډیږه.

* یو واری د چه یو شی له غاړی ویوست بیا زړه مه پری درنه وړه.

* یو ځان شرموی بل عالم.

* یو ئی سر وائی بل ئی پای.

* یو ئی سرکی بل ئی لم.

* یو ئی له سره نیسی بل ئی له پښو.

* یو په دوه نه پوهیږی.

* یو د ټولو د پاره ، ټول د یوه د پاره.

* یو خوار ئی حلال وه یو خروار وازده ئی ځینی وکیښله.

* یا ئی ته پوکه یا به ئی زه پوکم.

* یوه ویل چه زه د ژرندی راغلم بل ویل چه ټک ټکی ئی مات وا.

* یا به کلاله ویسی یا به مالداره ویسی.

* یارانه دوبه جاله ده.

* یا لویو کورو ته ورځه یا لویو غروته.

* یانه کوی یا د خره کوی.

* یتیم چه سر سبیل سی سل او یا گزدئی ..... شی.

* یتیم ته یونس مستی هم پسرلی دی.

* یوه ورځ د بلی لور ده.

* یوه لور خر ځوله بل پور غوښته.

* یوه پر تناره خوري یوه پر زنګانه خوري دا خواره لاڅه خوري.

* یو ئې واهه بل په ناریدی.

* یو ئې غولوی بل ئې اوښان د لارې اړوی.

* یه باید یه وی هو باید هو.

* یوه پنه کې دوه موزې نه ځائیږی.

* یو په دوه شمیره مامه شمیره.

* یو واری می سی څوک ووینی بیا را په سر مه کې د دامان تور څونی.

* یو د نغن راکه پتیر یو د پیاز راکه کافر!

* یو ئې کل بل ئې تول.

* یوه توره غوږه بلا وه ، یوه برګ غوږه بلا وه - یوه سپین غوږه بلا وه.

* یو سر مزر په سر.

* یو کوڼ مه لری یو ړوند مه لری.

* یوه ورغ د بلی په خیر نده.

* یوه خوله ګلالی وی.

* یونس دوه یی منته (محنته).

* یا به بوری راوړم ، یا به سر په بوری کیږدم ، والله که میدان پریږدم.

* یا ابراهیم - یا موسی خرلنډ راپسی ولاړه توره تر ملا.
* یا لرسه یا برسه.
* یا به توری وی یا به اوری وی.
* یو سړکی یی په ما نیولی وه.
* یود سړی ویل چه سترگی پټی کړم هیڅ نه وینم، چه ناست یم له ځایه نشم ښوریدای.
* یو سړی د کاروان پای ته نشوای رسیدای ده د کاروان سرته منډی وهلی.
* یوه ودیړی شل نوړی وزیمی کیږی.
* یو سړی چه په گوره مړ کیږی - زهرو ته حاجت نشته.
* یار د خندنی وی ته ئی میړنی بوله.
* یوه د یار په تبه جوړه وی.
* یوه بلا بلی ته وائی وُخ.
* یو شغال چه انگوی او بل ونه انگوی پمنیږی.
* یا زه نه وای او یا زه نه وای.

* یا به دهقان وهی یا به کلال وهی.
* یا به هی شی ساروان یا به هی شی کاروان.
* یا نر شه یا د نر چاکر شه.

* یو وائی مرئی د یم - بل د فکر وکړی چه په څو می اخیستی د ه.

* یوه خوله په زروډکه شی - ډیری خولی په خاورو نه ډکیږی .

* یه وروره کافره ، یه خوری بی شرمی.

* یش (اوښ) وطن وینی خر قدم وینی.

* یوه مرغۍ په لاس کی ښه ده له دوو مرغیو په چمن کی. (د انگلیسی ژبی متل دی)

* یو د کناوه بله ځپلی تا څه غوښت د خانانو له دوستی.

* یو خان د غره سلطان.

پای

PROPERTY OF ACKU 9462

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

که

هوس

دی

دومره

بس

دی



# د نورمحمد «نور» زرمتي

# لنډه

# پیژندنه

نور محمد «نور» زرمتي د مرحوم خیر محمد زوی د ۱۳۳۳ هجري لمریز کال د جوزا په میاشت کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي د نیکنام په کلي کې زیږیدلی دی.

عالي تحصیلات ئې د تاریخ په رشته کې د کابل د پیداگوژي په انستیتیوت کې پای ته رسولي دي. په سیاسي - تشکیلاتي - ټولنیزاو اداري برخو کې یې مسلکي زده کړې د هیواد نه بهر او د هیواد په دننه کې سرته رسولي دي. «۱۹» کاله ئې د هیواد په اړوندو ارگانونو کې یې رسمي دندې ترسره کړیدي مقالې او لنډې لیکنې یې د هیواد د بیلا بیلو نشراتي وسائیلو په مرسته خپرې شویدي. د کانې کرښې پښتو متلونو اثر د نوموړي د لیکنو ټولگه ده.